## عام متوسط وجدان :

عام متوسط وجدان هغه قضایي قوت دی ، چه د خلکو په باطن کښې وجود لري؛ او د ښو او بدو په مینځ کښې تمیز کوي ، ځینې کارونه بد ګڼي او د هغو کوونکو ته سرزنش کوي . او ځینې کارونه ښه ګڼي او کوونکي ئې محترم ګڼي . وجدان څه شی دی ، او څنګه پیدا کیږي ! دا زموږ د بحث موضوع نده . د وجدان د پیدایښت منشاء چه هر څه وي ، مګر په ټولو کښې دا حال موجود دی چه چه فرضاً که سړی دیو پردي تي سړي سره کومک وکړي او لاس ورکاندی نو ددوی خوښیږي ؛ او توصیف یې کوي او که یو بیوزلی دپښو لاندی کړي ، د هغه نه متنفر کیږي ، او سرزنش ور کوي !

عام متوسط وجدان ، ځینې کارونه ګناه ګڼي ، او دټولنې قضایي قوې ته اجازه ورکوي چه مرتکب ته یې سزا ورکاندی .

په حقیقت کښې ، دټولنې قضائیه قوه دعمومي متوسط وجدان او عقل نماینده ده . داپه دی ، مورده ده چه هر څوک دیوداسی عمل مرتکب شي چه د متوسط وجدان په حکم هغه بد یا ګناه و ګاڼه شي ؛ یا د متوسط عقل په حکم د دغه سړي دشخصي مصالحو او ښېګڼو یا دبل چا ، یا دټولنې د پاره مضر و بلل شي ؛ نو دا قوه دغسې سړی د آزادۍ څخه محروم کاندې او تنبیه او مجازات ور کړي . ددې د پاره چه د عمومي متوسط عقل او وجدان قوانینو ته بیر ته وګرځي !

عام متوسط ذوق :

عام متوسط ذوق په دوکړو کښې یو قسم متشابه او متشارك دقیق او ظریف حس دی. چه هرڅه دی خوښوی ، نـود «ظرائفو او لطائفو» نوم ور باندی بدی. لـکه ښا یسته هنرونه، ښه بویونه، ښکلی مخونه، متناسب اندامـونه ، موزون حرکتونه، اوزړه وړونکی مکیزونه، او روح افزا آهنګونه، او لطیف ادبی مضمونونه، دکلام فصاحت، او دمتکلم بلاغت اودسلیقی سموالی ، دقلم خوږوالی ، دبیان ښه والی ، اوددی په شان نور شیان چه عام متوسط ذوق یی خوښوی .- په دی مقاله کښې زما مقصددادی چه دمتوسط ذوق په شاوخوا کښې وغږیږم . مونږ دغه ذوق ته دټولنی سلیم ذوق ویلی شو. دمتوسط عقل او وجدان څخه مو چه دلته بحث وکړ ، فقط دمقدمی اوزمینی تیارولو په توګه و :

لکه چه مخکښې مووویل عقل او وجدان په ټولنه کښې له خپلی خوا څخه نمائنده مقرر کړیدی . چه «قضائیه قوه» یی بولی . دده وظیفه داده چه هرڅوك ددوی نه برخلاف رفتار وکړی، هغه ته سزا ورکانـدی. لیکن متوسط ذوق دغـی یی نمائنده په ټولنه کښې ندی مقرر کړی. اودټولنی قضائی قوت ته یی اجازه ندهورکړی، چه که څوك د سلیم ذوق له میزانه څخه ووځی ، مثلا بدشعر ووایی ، یا بد ساز ووهی هغه ته سزاورکړی . ددغـی خلکو مجازات پخپله دټولنی ذوق شخص پرخپله ذمه اخستی دی . او د قضائیه قوی دجزا څخه داجزا ډیره سخته ده . دا سی چه د ټولنی ذوق دغـی اشخاص اودهغوی اثار نهخوښوی، او نه یی اخلی! ذوق دعشق نمائنده یا پرده داردی . عشق دښکلیتوب

طالب دی. د بدرنګی ۀ همدغـه سزا بس دی چې عشق یی خریدار نه دی. متوسط ذوق پخپله د ټولنی قضائی قوه ده. او د عشق له خوا ماموره ده چه د ووګړو په اثارو کښی ممیزی او نقادی وکړی: هغه څه چه خوښ یی شی د عشق حضور ته ئی ولیږی چه تل باقی او جاودان پاتی شی، او هغه چه خوښ او غوره یی نکړی د نیستی ۀ او هیر ولو لاس ته یی وسپاری !

## ذوق څه شی دی!

ودی شی چه مونږ د ذوق د پاره کوم علمی او جامع تعریف ونکړی شو. لیکن ټول پوهیږو چه ذوق څه شی دی. ذوق پخپله زمونږ په نظر کښی ښه واضح دی ، که مونږ وغواړو چه د ذوق د پاره هر قسم تعریف وکړو، نو دی به لا مبهم کړو. نو مونږ د ذوق تعریف نه کوو. لیکن دده د تشریـح د پاره در ته نظیر لټوو او بیا نو وییو .

......ذائقی قوت په خلکو کښی موجود دی. او په اکثرو خلـکو متشابه او یـو رنـګه دی. مثلا د چاردهـی مڼی، د کوهدامن انګور، دده سوز خټکی، د قندهار شلیل، او د تـګاو انار، او داسی نور دهـرچا خـوښ دی : او ښه وربا ندی لګی، لیکن بی خوږو حلوا، بی مالګی مړی ۀ، او داسی نور بی خونده او نا مطبوع شیان دی. چه هیڅوك یی نه خوښوی. ممکنه ده چه استثناء ۀ داسی اشخاص هم پیداشی چه هغه شیو نه چه اکثره خلـك یی نه خوښوی په دوی ښه ولګی، او هغه چه خلك یی خوښوی د دوی خوښ نه شی، لکه هغه کسان چه هګی ۀ یی بدی راځی. یا لکه هغه ښځی چه په ځینی مخصوصو وختو نو کښی لوټی او سکاره

خوری. لیکن هر کله چه دا کسان نادردی اعتبار هم نه لری: نو اعتبار هماغه دا کثریت ذائقه او عام متوسط ذوق او سلیقی ته ور کول کیږی!

اوس که مونږ د حیوان شناسی، تشریح، وظائف الاعضا او علم النفس دروازه وټکوو، او پوښتنه وکړو چه ذائقه څه شی دی؟ هر یو به زمونږ په لمن کښی یوه لپه علمی اصطلاحات راواچوی، لیکن بیا به هم مونږ ته د ذائقی دقوت ماهیت راڅرګند نشی!

لیکن سره ددی چه مونږ د ذائقی دقوت ماهیت نه پیژنو، لیکن دومره قدری یی دا ثار و څخه پیژنو چه: ذائقه هغه حس دی چه هر کله مطبوع او خوندور شی ور ورسیږی، دهغه سړی غونډی چه اشنایی راشی، د خوشحالی او انبساط حالت ور پیدا کیږی، او په پراخه تندی سره یی قبلوی. او دذائقی دقوت د انبساط له کبله څهره بشاشه او سترګی په خندا، ښکاری. د غه شان د نا مطبوع عه او بدخونده شی د څکلو څخه منزجره کیږی او رد کوی یی!

دغه دذایقی قوه چه مونږ یی بیان وکړ، په خوله کښی ده، نو دغه رنګک هر کله چه د سترګو، غوږونو، پوزی بدن او ادراک او عقل دپاره یو قسم ذایقه په تصور کښی راولو؛ نو په دغه وخت کښی ګویا دذائقی معناته ور نزدی شوی یو. که څه هم د سترګو کار لیدل، او دغوږونو او ریدل اود پوزی بویول او د بدن مس کول دی؛ لیکن هریو یوه مخصوصه ذائقه لری. چه ځینی شیو نه دهغی خوښیږی او قبلوی یی. او دځینو څخه بد وړی او نفرت ورڅخه کوی. د سترګو چه هر کله په ښکلو شیو نو نظر

ولو یږی؛ نو زړه غواړی چه تل ور ته کتلی! او چه بد شی ته وګوری، د سترګی نظر اړوی، او غواړی چه بیا یې ونه وینی

په دغه شان غوږ هم د ښه اواز په ځای کښی تسلیم دی، او هیڅ نه خپه کیږی؛ او ستوماني نه حس کوی. د ښو اوازونو موجو نه د مقناطیس د چپو غوندی غوږونه خپل ځان ته راکاږی. بالعکس بد اواو لخراش اواز چه د غوږونو پلې ور پوی، روح متألم کوی! د غسی شامه هم ده د ښه او بد بوی په نسبت، او بدن هم دی د لطیفی او سختی هوا یا د نرمی او سختی ټوټی په باب! او ادراک او عقل هم د لطیفو معانیو او دقیقو نکتو یاوچو او سړو مضامینو په متعلق!

نو په دغه ډول سره هر حس یو مخصوص ذوق لری. او دغه شان هم ده. لکه چه ګورو ځینی کسان د ښو بویونو په باب مثلاً ښه ذوق لری لیکن د موسیقی ذوق بیا نه لری.

یا مثلاً د شاعری ذوق لری ولی په خوړلو او اغوستلو کښی بی ذوقه وی ......

سره د دی دا خبره د دی سره منافات نه لری چه ذوق په بشر کښی یوه خاصه لطیفه قوه وګڼو، چه آثار یې لږ و ډیر د هغه د حواسو او ادراکاتو څخه څرګندیږی په بل عبارت: ذوق د ژوند د آثارو څخه دی: څه رنګ چه د ژوند حقیقت د ډیرو نورو شیونو غوندی لکه برق او جاذبه بلکه د ټولو اشیاؤ په شان مونږ ته ندی معلوم؛ سره د دی هم دومره خو پوهیږو چه ژوند او حیات د نورو طبیعی قوتو په څیر یو حقیقت دی چه درجی لری هم د کمیت او هم د کیفیت

يعنې شدت او ضعف لري. هر څومره چه درجه يې ضعيفه وي، آثار يې هغومره کم وي.

او هر څومره چه درجه يې قوي وي، آثار يې هغومره زيات او ښکاره وي. هغه چينجي چه په خاوره کښې پيدا کيږي، د ژوند په حيات کښې ټيټه درجه لري: چه کميت يې ضعيف دی. نو ځکه د کيفيت له پلوه هم بې د حرکت او د لمس د حس څخه چه دا د حس ړومبۍ درجه ده؛ بل اثر پکښې نشي ليدل کېدای. ليکن نور حيوانات داسې هم شته چه په هغوی کښې د حيات درجه قوي ده؛ نو په دغه سبب سره رقم رقم اعضاء او رنګا رنګ قوتونه لري او نور حواس لکه د خولې ذائقه؛ د پوزې شامه؛ د غوږونو سامعه د سترګو - باصره په دوی کښې شته دی؛ چه څودانو بت هغه حيواناتو ته ورسيږي چه ماغزه او دماغي قوتونه لري. دوی بيا درجې لري. په آخره کښې نوبت انسان ته رسيږي. چه له ده څخه د تعجب وړ فکري او ارادي آثار ظاهريږي.

نو څه رنګ چه حيات په خپل ذات کښې يوه قوه ده چه درجې لري. او د مختلفو قوو په صورت کښې يې ظهور کړی دی. او په سترګو غوږونو او نورو حواسو کښې چه څرګند شوی دی خاص آثار ور څخه ظاهر شوي دي. دغه ډول ذوق هم چه د حيات له آثارو څخه دی. پخپله يوه قوه يا لطيف حس دی، چه په خلکو کښې لږ و ډير او په اختلاف سره وجود لري. آثار يې په سترګو، غوږونو او نورو حواسو او ادراکاتو کښې په بيل بيل ډول ظاهريږي.

## ذوق د حیات لطیفه درجه ده

که واضحه ووایم ذوق په خپله دژوند لطیفه درجه ده چه لطیف آثار ورڅخه څرګندیږی . او یو لطیف شعور لری چه لطیف آثار یې خوښ دی . هماغسی چه د حیات پرتو دستر ګو، غوږونو، فکر او عقل او د انسان د نورو قواؤ څخه ظاهر شویدی؛ او ددی هریو نه یو مخصوص اثر بروز کړیدی ؛ د حیات لطافت هم ددی ټولو څخه جلوه کړیده؛ او د لطیفو آثارو دظهور ذ یا لطیفو آثارو د خوښولو سبب ګرځیدلی دی .

حیات په هغه لومړۍ درجه کښی چه ټیټ وی، لکه هغه درجه چه په حشراتو کښی وجود لری؛ بی د خو ځیدو او خوراك څخه چه دشخص دساتلو وسیله ده، او پرته دتناسل څخنی چه د نوعې دحفظ ذریعه ده، بل اثر ښکاره نه لری . دغه شان حیات په هغه کوچنی کښی چه شوده روی بی دخوراك او خوبه څخه بل اثر نه لری . ولی کوم وخت چه لوړې درجې ته ورسیږی : لکه هغه درجه چه په انسان کښی وجود لری . نو بیا په دغه اندازه آثارو باندی حتی په فکری او ارادی آثارو هم نه قانع کیږی؛ بلکه غواړی چه لطیف او ښایسته آثار له خپله ځانه څخه ظاهر کړی . نو ګو یاد ژوند او حیات درجې د قدرت جلوی دی . او غواړی چه د قدرت تقلید وکاندی . څه رنګ چه قدرت ښایسته او ظریف مظاهر ښکاره کړیدی؛ حیات هم هر څومره چه ترقی کوی غواړی چه لطیف او ظریف آثار څرګند کاندې . د غه وجهه ده چه بنیادم کور جوړوی ددې دپاره چه په هغې کښی د یخنۍ او ګرمۍ څخه په امن وی .

لیکن هغومره چه د کاله په استحکام کښې کوښښ کوی هماغومره یې په ظرافت او ښکلیتوب کښې هم سعیه کوی. موټر جوړوی، ددې دپاره چه ځان ته د حمل و نقل ذریعه پیدا کاندی. لیکن زیات تر دې چه دهغه په صنعتی اطرافو کښې فکر کوی په قشنګۍ او زیبایۍ کښې یې وخت تېروی. د خپلو اغوستلو دپاره رخت جوړوی لیکن دده ټول دقت دټوټې ظرافت، نرموالی، او دګند لو رقم او سازو بازته متوجه وی. په دې معامله کښې غواړی چه عیناً دفطرت سره رقابت وکاندی. دفطرت ګلان لطیف او رنګا رنګ کمیسونه لری؛ خودی هم دخپلو ګلونو تن په دارنګه نرمو او ښکلو ټوټو ښایسته کوی چه دفطرت د ګلونو څخه پیشدستی وکړی؛ لکه چه کوی یې هم. دافق هغه سحرا میزه ښکلی سرخی؛ او دبوټې دټال هغه بدیع او دسیل رنګونه خو موکتلی دی! بنیادم په هماغه شان رخت جوړوی؛ د رنګا رنګ ګلانو هغه لطیفی او منقشی پاڼی خو مولید لی دی ـ انسان دور ښمو څخه په هماغه لطافت او نقش و نګار سره (بلکه دهغی نه بهتر) دخپلو ګلانو زړه وړونکو اندامونو دپاره تیاروی!

رنګا رنګ خامك دوزی؛ نقاشی، ګلکاری؛ دسپینو او سرو لوښی؛ ښایسته مجسمې؛ چونه کاری، او حجاری؛ آئینه کاری او کاشی کاری؛ او دارنګه زرګونه نور ښایسته هنرونه چه دانسان دګوتو څخه ظاهریږی؛ داټول دهماغه لطیف روح اثار دی چه ښکلی آثار له خپلی

خوا څخه ظاهر وي ؛ او همدغه لطيف روح دی چه د نورو
ښکلي آثار خوښوی !

ادبي ذوق :

ددې لطيف روح تر ټولو لوړه درجه دزړه د رقيقو
احساساتو په ښکاره کولو او د نازکو معا نيو د بيانولو
په وخت کښې چه داشيان محسوس ندي څرګند يږی .
څينې کسان داسې ذوق هم لري چه لکه دګل بوی او
دهغه دپاڼو ظرافت چه احساس کوی؛ دغه رنګ رنګار نګ
معناګانې او دزړه او روح باريکه خاطرات هم همغسې
پری درك کولی شي . داکسان داسې سليقه هم لري چه
هغه څه چه دوی درك کړی وي ، په ښو الفاظ او رنګين
بيان کښې چه عارف او عامي دواړه يې خوښوی ؛
اداکولی يې هم شي ! هرکله چه داذوق اوسليقه په چا
کښې خپل کمال ته ورسيږی ؛ نو « خوشحال او رحمان »
جوړيږی !

ذوق په ټولو علومو کښې :

سره ددی چه ذوق اوسليقه ذاتاً دانسان دظريفو کمالاتو
څخه ده ، اودلطيفو آثارو دبروز سبب دی ، او د طبيعت
دلطائفو اودنورو خلکو دآثارو دلطف دپيژندلومو جب
دی ؛ وجود يې ؛ په ټولو علمي اوفنی کارو بلکه دانسانی
ژوند په ټولو شئونو کښې لازم دی!

... ددې دپاره چه سړی ښه فکروکاندی او په قضايا ؤ
کښې صحيح او مستقيم استدلال وکړی ، سليم ذوق
او مستقيمه سليقې ته اړه دی . د منطق فن هغه

قواعد دی چه د ذوق والا ذهن د طرز تفکر څخه حاصل شوی دی ...... ددې دپاره چه انسان د ریاضی قضایا او فورمولونه ، جبری او میکانیکی معادلات ، او فیزیکی او شیمائی اصول او قواعد په ښه شان سره حاصل کاندی او نورو ته یې درست بیان کړی ، یا یې ولیکی ، ذوق او سلقی ته اړه دی ...... ددی د پاره چه سړی په طبقات الارض نباتاتو ، علم حیوانات ، طب ، تشریح او په فلسفی مطالبو منظم او په ښه ډول وپوهیږی ؛ ښه فکر وکړی ، او واضحه بیان وکړی شی ذوق او سلیقی ته محتاج دی ...... ددې دپاره چه سړی ښه جامه وا غوندی په ښه شان سره به لاره لاړشی ؛ خپل اولاد ښه وپالی ؛ خپل شاګردان په سم ډول ولولوی او تربیت ورکړی ؛ دخپلی مغازی اجناس په ښکلی او منظم رقم سره کښیږدی ، د تجارت دپاره غوره او ښه محصولات تهیه کړی ؛ ذوق او سلیقه لازمه ده .

ذوق او سلیقی ته اړ تیا یوازې د ادبی امورو او لطائفو او ظرائفو دپاره نده . که ذوق او سلیقه نوی ، انسان په ټولو کارونو کښې غلطیږی . اولکه هغه سړی چه لاس د شادخوا څخه راتیر کړی او مړی ، په خوله کاندې ، په ټولو علمی ، ادبی کارونو او د حیات په لو از مو کښې سمه او نږدې لاره پرې یږدی او په کږه او لیری لاره باندی درومی .

ددی د پاره چه معلومه شی چه بی ذوقی او بد سلیقګی څه زیانونه لری ؛ مونږ څه ډیر بحث ته اړ نه یو . ځکه چه هر د ذوق خاوند به خوخو زله د بیذوقانو سره مخامخ شوی وی او ایدا ای به یې وی . یو سړی دی ښځه یې کړېده ، نه پوهیږی چه څه رنګ ورسره ګذران وکړی . یو سړی دی

کوریې جوړ کړی‌دی ، مګر په‌داسی رقم چه په اوړی کښې نمر ته مخامخ دی او په ژمی کښې زندان‌دی . داسی نور ډیر ډیر مثالونه شته .

دذوق اهمیت :

غرض دا دی که صحیح ذوق او سمه سلیقه نه‌وی ، نو سړی که څه‌هم فاضل اود علم‌خاوندوی اودعلم په‌فوائینو خبروی، بیاهم په‌خبط او اشتباه کښې لویږی. یوساده‌مثال واوریء . ددې دپاره چه‌یو دیوال سم‌جګ کړو شاول مستعملوو ؛ دایوه فنی قاعده ده ، هوکه دغه سړی چه شاول مستعملوی بی‌ذوقه اوبدسلیقه وی ، په شاول هم د دیوال کوږ والی اوس‌والی نشی معلوم‌ولای .

اوکه دذوق او سلیقی خاوند وی ، بسی شاوله هم دسترګو په‌اندازه سم‌دیوال جګولی شی !

علمی قواعد دچراغ مثال‌لری ، اوذوق داسې‌دی لکه سترګې ؛ هغه څوك چه‌سترګې نه لری ، هغه‌ته چراغ څه فائده کولی شی !

دذوق قضاوت :

اوس چه‌مو دذوق اهمیت په‌ټولو علومو اودژوند په ټولو شئونو کښې وپیژاند ، نو بایدوه‌دی چه‌ومنو چه‌د بشر دژوندانه په‌ټولو امورو کښې لویه او مهمه قاضیه قوه دټولنې سلیم‌ذوق‌دی . دټولنې دسلیم‌ذوق اهمیت دټولنې دقضائی قوی داهمیت څخه‌چه‌د عقل او وجدان نما ئنده ده ، ډیرزیات دی . څکه‌چه که‌قاضی هم‌سلیم ذوق ته‌لری نو په‌حقوقی مسایلو اوقضائی کار و کښې غلطیږی ؛ که

ځه هم په فضا یې قوا نیغو پوره پوه وي . نو له دغه کبله متوسط ذوق د ټولنې قضائیه قوه په خپلې نمایندګۍ ډ نده مقرره کړی او قضاوت یې شخصاً په خپله ذمه اخستی دی . بلکه بیځایه به نه وی چه ووایو : سلیم ذوق په عقل او وجدان هم حکومت لـــري .

او د دوی په تشخیص کښې قضاوت کوی . که ذوق او سلیقه صحیح نه وی ؛ عقل او وجدان هم د سود او زیان او نیکۍ ډ او بدی په تشخیص کښې اشتباه کوی .

عمومی متوسط ذوق باید تل بیداره وی ، او د تشخیص او انتقاد په کار بوخت او سی چه د ذوق خاوندانو ته د دوی د آثارو د اخیستلو په واسطه تشویق ور کړی ، او د خپل تحسین جائزه چه ډیر لوی انعام شمیرل کیږی ، دوی ته ور کړی . او بد سلیقه خلك تر څو چه ممـکنه وي ، سمې لارې تـه را نږدی کاندی . او هغه چه د هدایت وړ نه وی هغوی ډ ته خورا سخته سزا چه د دوی د آثارو نـه اخستل دي ور کـړي . او د هغو کارو څخه چه د وي یې ذوق نه لري منع یې کړی ، او ور ته تصیحت و کاندې چه عبث زحمت یو نسی ؛ او عمر بیځایه تیر نه کړی . هر کله چه په جامعه کښې دغسې یوه قاضیه او د کار تشخیص کوونکی قوه نه وی ، نو علمی او ادبی هرج و مرج پیښیږی او امان ورك کیږی .

د دی خبری واضحه مثال دادی چه که ته په یـو ښار او علمی مرکز کښې د یو چا سره په یوه علمی مسئله کـښې مخالف شی چه هغه ستا یو علمی دلیل ته هم غوږ نږدی نو تا سو به د علماؤ یو مجلس ته مراجعت کوی ډ نو چه دا ډله دی ملامت کاندې او د ده خبری په کم عقلتوب محمولې کړی

نودی ضرورقانع کیږی . او کهدداسې یوسړی سره په کلو او دها تو کښی په کومه مسئله و نښلې چه هلته هیڅوك نه وی چه دښو او بدو ، صحیح اوغلطو تمیزوکړی ؛ او دغه ناپوه سړی ته ملامت وواپی نودلته هیڅ دلیل نشتهچه دی قانع کا ندې .

دغسی واقعې به په تاسو هر یوه پیښې شوی همهوی . نو ددې خبرو څخه څرګندیږی چه مونږ دعلم او ادب یوی ډلی قهر مانانو ته اړیو چه د علم دحدو دو او قوا نینو ساتنه وکړی . اود صحیح او غلطو په منځکښی تشخیص وکا ندی . او د پوه او ناپوه قضاوت وکوی . ددې نه داهم معلو میږی لکه څنګه چه مونږ ه یوی قضائیه قوې ته اړتیا لروچه زمونږ پهمینځ کښی حقوقی اجتماعی امنیت قایم کړی . دغسی مونږ یوې بلی قضایی قوې ته هم اړیو چهزمونږ پهمینځ کښې علمی او ادبی امنیت ټینګک کاندی : چههغه دټولنی ذوق دی . چه تل باید دباذوقه پوها نو پهواسطه ژوندیوی اودتشخیص اوانتقاد په کار بوخت اوسی .

ددې دپاره چهمونږ دخپلو پخوانو اواسلافوغوندی نهمړه کیدونکی اوتل باقی آثار پریږدو باید یوڅواصول زمونږ پهمنځ کښی وی او د هغو پیرو ی له خیا له څخه ونه باسو .

(۹) دهمت لوړوالی : باید ه دی چهمونږ لوړ همت ولرو .چهعلم دعلم دپاره حاصل کړو ؛اوفضیلت دفضیلت دپاره محترم وبولو . زمونږ قصد باید دانهوی چهڅه وچ اولانده سرهغونډ کړو اوموقتی شهرت وګټو یا یوهمړه

پرې دلاسه کړو . ځکه : لکه مخکښې مو چه ویلې دی د ټولنې ذوق زموږ د آثارو په باب قضاوت کوی ، او که ناوړه یې وویني ، نو یوخوا یې غورځوی او هېروی یې . دخوشحال ، رحمان ، اوحمید شعر ترځوچه نمر او سپوږمی ګرځی ژوندی به وی . لیکن بی بها او بی مغزه آثار دپسرلی دګیاګانو غوندې دی چه دپسرلی ورځې تېرېږی ، دوی ورسره وچېږی او دخاورو سره خاوری شی ، نو باید چه زموږ نیت خالص وی ، همت مو لوړ وی ، ما دی منافع دعلم او فضیلت څخه په دویمه درجه کښې وګڼو !

(۲) کوم شیونه چه لیکو یا او ایو باید پوره غور و فکر او تحقیق پکښې وکړو . که چېری زموږ دخولې یا دقلمه څخه خامه خبره یا بی اساسه جمله ووځی ، نو د عقلاؤ اعتماد به زموږ له خبرو څخه پورته شی او غوږ به ورته نه نیسی هروخت چه موږ څه له خولې یا قلمه څخه راوباسو نو باید داسې وګڼو چه تمامه دنیا زموږ خبرې اوری او تلی یې . باید داسې پاخه او متین خبری وایو او ولیکو چه ددنیا په ټولو علمی ټولنو کښې مقبولیت حاصل کړی .

(۳) انتقاد : کوم څه چه لیکو بایددنورو انتقاد ته یې وړاندې کړو .

او هغه کسان چه له موږ د خبرو او نوشتو عیوب موږ ته ښکاره کاندی باید ور څخه ممنون او سو ، هغه ځولځ چه دانتقاد داوریدو سړی نه لری .

دغه خلك کمزوری خلك دی ، چه نفسونه یې ضعیف دی دوی داسې دی لکه وړه هلکان چه ورته وویل شی چه بد دې کیږی ، ژړا یې راځی .

مو نږ باید داسې یوا ثر جامعې ته ور کړو چه جامعه یې خوښ کړی . باید د نورو د انتقاد په و اسطه خپل اثر و آزمایو ، چه آیا جامعه د اثر خو ښوی او که نه ؟ ځکه چه که مو نږ په انتقاد راضي هم نه او سو ، اجتماعـي ذوق ز مو نږ آ ثار د انتقاد لاندی راولي ؛ او بله لاره یـې نشته جامعه خو دواړه طفله ځخه کمه نده .

وړوکی طفل ته چه موریې تی په خوله کښې ور کـړی نو اول یې د شو نډو اوژ بې په واسطه ګوری نو بیا یې روی ، او که کوم بدخو نده اومخالف شی ور ته ځوك په خـوله کښې کښیږدی ؛ نو چه خوښ یې نشی دژ بې په واسطه یې له خولې با سی او غور ځوی یې . او کله یوخوا کله بل خوا سرا ړوی . او نامطبوعه شی نه قبلوی . نو بهتره داده چه انتقاد ته غوږ کښیږدو ، او په سړه سینه سره یـې واورو . ځکه چه انتقاد او ریدل د نفس د کمال اوعلو نښه ده .

دانتقاد شرایط : منقدین هم باید کوم وخت چه انتقاد کوی باید وګوری چه له دغه جنبې ځخه چه دوی انتقا د کول غواړی ، ښه آګاه دی که نه ! او باید منقد ین د ښې سلیقې او ذوق خاو ندان اوسی . بله دا چه د ټولنې د متوسط ذوق ځخه باخبره وی ، او له هغې خوا ځخه انتقاد وکړی نه د شخصي ذوق له رویه . منقد باید د شخصي اغراضو ځخه بیخي پاك وی .

(۴) دقیق تشخیص : د قیق تشخیص دادرا کا تود عقلي او ذوقي نمو پوری اړه لری . د حیات لو مړی نښه د حس پید ا کیدل او د حس درشد نښه ، د تشخیص دقوې پیدا ینښت دی .

وړ کی چه نوی وزیږ ی ؛ ستر ګې لرای ، شیا ګو ر ی

مګر تشخیص نشی کولی ؛ ځکه‌چه دده د باصری حس لا رشد نه‌وی کړی. داحس تدریجا په‌ده کښې نمو کـوی. چه اول دخپلې مور څهره وپېژنی؛ ورپسې ورو،ورو دنورو شیانو تمیز وکړی شی. دارنګه سامعه‌یې هم‌په‌اوله کښې تش اوازونه اوری ؛ مګر تشخیص یې نشی کولی. ورو، ورو دا حس ترقی وکړی چه ځو دا سی حساس شی چه داواز په‌ذریعه اشخاص اودغو خاوندان پېژنی. او کلمې چه که زرزرهم وویلې‌شی ،دی‌یې په‌معنی پوهېږی. په دې‌باب کښې مونږ نور زیات نه‌عمیق کېږو او بلکه نتیجه اخلو «دانسان حواس او ادراکات هغه وخت مدققا نه تشخیص کولی‌شی ،چه‌رشد ته‌رسیدلی وی. اوهرشی په‌خپله ذائقه کښې وسنجولی شی اوقضاوت یې وکړی‌شی.»

دتولنې دذوق دقیقه وظیفه :

---

دغه وجهه‌ده چه‌دتولنې متوسط ذوق یوه ډېره باریکه او دقیقه وظیفه لری : له یوې خوا څخه باید مراقب اوسی چه بد سلیقه خلك علمی او ادبی بد نظمی پېښه نـکړی. اودعمومی ذوق‌درڼه‌چینه خړه اوخرابه نکړی. نوددې دپاره علمی قواعر اوادبـی قوانین بردی ؛ منطق او بلاغت میدان ته را وباسی ، ددې دپاره چه خلك په معا نیؤ کښې دفکر کولو ، او دخپلو مفـکورو د بیا نو لو سمه لار ، اوصحیح اسلوب وپېژنی .- د ژبو دپاره ګریمر اودصرف اونحوی قوانین ترتیبوی ددې دپاره چه خلك دژبـی په صحیح استعمال پوه شی .

له بلې خوا څخه داجتماع ذوق باید تل په‌حرکت کښې اوسی اومخ په ترقی ؤوی. چه جمود پیدانشی ؛ اود بشر

قریحه دجریان او بهېدو څخه و نه دربېږی ، که چېرې یو باذوقه اوخوش قریحه سړی پیدا شی چه یوه ښه کلمه مستعمله کړی ، یا یوه ښکلی جمله ترکیب کړی ؛ یا یوه بدیعه تشبیه و کړی ، چه پخوا تر ده یی سابقه نه درلوده نو تش پدې ګناه چه دا کلمه یا داجمله یا دا استعاره په صرف ـ نحو د بلاغت په فن کښې نده راغلی باید رد نکړی شی . بلکه د اجتماع متوسط سلیم ذوق یې باید پخپله وڅکی ؛ که خوندوره وه ورادی یې خلی ؛ او که خوښه یې نشوه ودې یی غورځوی . مثلا د«کېدی شی» محاوره په معنې د«امکان لری» مخکښې مستعمله نه وه ، فرض کړه مامستعمله کړه ، نوهېڅوك بایدا ردنکړی . ځکه دلته هېڅ مانع نشته . یامثلا ښاروال ، واکوال ، پوهنځی ، ننداره تون زده کوونکی اوداسې نورې کلمې چه په ذوق برابرې دی که څه هم پخوا نه وی ؛ په اخستو کښې یې هیڅ حرج نشته . ځینې داسې کلمې هم شته چه که څه هم دخو کسو په مینځکښې یې شهرت هم موندلی وی ؛ سلیم ذوق ورنه اباکوی . په داسې مقامونو کښې بایدازورونکړی شی چه یو بې ذوقه څښك شی دغلط مشهور ځای ته ورسېږی .

د علم ټول قوانین هغه اطلاعات دی چه بشر د فطرت دنظام څخه زده کړیدی . نودمنطق او ژبې قوانین هم دسلیم الذوق کسانو دطرز تفکر او تکلم څخه زېږیدلی دی .

له دغه پورته بیان څخه معلومه شوه چه د اجتماع دمتوسط ذوق وظیفه خورا ډېره مهمه او بارېکه ده نو باسلیقه اوخوش ذوقه پوهانو ته په کاردی چه دوی تل په ډېر دقت مراتب او سی چه نه علمی او اد بې اصول

خراب شی ؛ او نه داجتماع ذوق او د بشر قریحه دوړ اندی
تنګ اوزېږندی څخه پاتی‌شی ؛ او جمود پیدا کړی .
د بشر دادراکاتو او احساساتو تشابه :

په آخره کښی دا نکته هم باید بی‌ویلو پاتی نشی چه
ادراکات او احساسات په ټولو کښی متشابه او یو قسم‌دی .
په‌دې دلیل چه ښه خوراك، ښه بوی، خواږه او خوندور
شیونه ښه مناظر دهرچا خوښ دی . دیوې خنده آورې
منظری په لیدو ټول خاندی او دیوی خرن انګیزې منظری
په کتلو ټول غمجن کیږی . هو، که په اصل کښی دادراکاتو
او احساساتو توافق نه وای نو دموسیقی، شعر او بلاغت
او د پخـلی فن بلکه یو علم به هم پیدا شوی نه وای .
دومره ده چه دعالم مختلف ملل سره لږ لږ اختلافات لری .
ولې په یوه مخصوصه جامعه کښی دادراکاتو او احساساتو
تشابه ضروری ده . البته مستثنی افراد اعتبار نه لری .
نوله دغه کبله وایو چه داد بـی قضاوت دتشخیص د پاره
صحیح معیار هغه عمومی متوسط ذوق دی چه‌ژوندی‌وی،
نمو لری ، او تشخیص کولی شی . ( ترجمه ـ انتها )

۞ ۞ ۞

# پښتون د ملت نوم دی

## دقام نوم نه دی

دلیکوالو اول کار دادی چه لغات او کلمات په ځای استعمال کړی او دمعنی ډېر لحاظ وساتی.
څوك چه دغه کار نه شی کولی هغه ته ادیب ویل بی ادبی ده، یوه ورځ دادیبانو په یوه ټولنه کښی چاپوښتنه وکړه چه څوتېدلی اوبه، ایشیدلی او به، سړې اوبه، تودې اوبه اوتږمی اوبه کومی کومی دی؟ یوه ادیب پهدې باب کښی دومره خبری وکړی چه یوه مقاله تری جوړه یږی. دغه شان لغوی تدقیق دڅ بی دپوهانو او لیکوالو کار دی، نور خلك له دغومره دقت او تدقیق نه بی برخی دی.
له عواموته اورو چه بی اسرافی ښه نه ده مګر غرض ئې داوی چه اسراف ښه نه دی.
دوی دکاتب او سرکاتب په فرق هم لاښه نه دی پوه شوی اودهر چاچه توره پېخه پهسر وه میرزا صاحب ورته وائي.
دا میانو په نظر کښی دځوان او ځلمی، دزاړه او بوډا دآخند او ملا فرق نشته دوی ډېر ځله چنچڼی ته مرغی وائی اوموېز میوه بولی، ډېر خلق شنه چه ووړه ته غله وائی اوجوار یاغنم دانی بولی. دعام اوخاص دکلی اوجزئی فرق کول دپوهانو او هوښیارانو کار دی. که بل څوك وی خوخیر، مګر که لیکوالی اوپوهان دکابل اوخورد کابل فرق ونکړی اوپښتون لکه ځاځی یا احمد زی دقام

زوموګڼی لهدینه لویهغلطی بله نشته ۰ داادب او پوهـی په
جهان کښی دغهراز سهوه اودغه شان اشتباه لویهګناهده
چه څوك ئې نشی عفوه کولی . ما ته داسی بـریښی چـه
ځـینی لیـکـوال او پوهان پښتو ن هـم لـکه از بـك
ترکمن ، هزاره لهڅـو قو مـونو نه یـوقام حسا بوی .
قام دملت په مـعنی نه ، بلکه په هـغه خاصه مـعنی چه
دتنګك نظرو په نظر کښی جلوه کوی ، هغه چهد ملتوټولنی
تهٔمجلس اقوام وایی اوقامد ملت په معنی استعمالوی نور
خلق دی ، مونږ نه یوـدلته قامد مفهوم اومعنی لحاظ ډیر
وړوکی دی چه په مټی له قبیلی نه لږ غوندی لوی معلومیږی .
ځینی خلك خپل ته هم قام وایی یعنی جبـار خیل او
معروف خیل بیل بیل قامونه ګڼی سره ددی چـه دواړه
خیلونه دیوه قام یعنی احمدزی شانګی دی اوددوهورونو
مثال لری . که مونږ دخپلو خلکو معتدل ذهنیت اومتوسط
نظر په نظر کښی و نیسو نوقام باید له دغسی خپلو نـو نه
پورته وګڼو او ټول احمدزی لهجبار خیلو او معروف خیلو سره
یو قام و بو لو ، دغسی قامونه چه مختلف خیلو پکښی ځائیږی
پښتنو کښی ډیر زیات دی چه زه ټول نشم شمیرلی . مګر
دا کولی شم چههغه ډیر مشهور او لوی قامونه یوڅه تاسو ته
معرفی کړم لـکه : مومند ، صافی ، اپریدی ، اورکزی ،
یوسفزی خټك ، وزیر ، مسعودشینواری ـ خوګیانی ، بارکزی ،
پوپلزی ، الـکوزی ، نورزی ، علی زی ، کاکړ ، اڅکزی ،
ماموند ، سالارزی وردګ ، سلیمان خیل ، و تما نخیل ،
ځاځی ، منګل ، ځدران ، بنګښ ، دوړ ، اندړ ، خروټی ،
ناصر ؛ تره کی ، توری ، احمدزی ، توخی ، هوتك ، ځینی

نور واړه قامونه چه زما په تخمين په افغانستان او پښتونستان کښې له سلو نه زيات نو مونه لري هغه اوس پريږدم او يوازي د دغو ذکر شوو قامونو په باب وايم چه دغه هر قام د تعداد او نفوسو په لحاظ په زرګونو او لکونو کورونه لري او په ډېرو څانګو او ښاخونو ويشل کېږي او ډېري ډېري تپې، ډېري پښې ترينه بيلې شويدي۱۰ پريدي چه ما د لته يو قام وګڼا ،نه هغوي ځانونه ډېر قامونه ګڼي چه (زخه خيل قمبر خيل ؛ کوکي خيل ؛ اکا خيل ؛ (ملک دين خيل) ئې بولي . شينواري په څو وړو قامونو ويشل شوي دي . لکه منديزي ؛ سه پاي، سنګو خيل علي شير خيل ، احمد خيل ، حسن خيل ، لياس خيل رحيمداد خيل ، حيدرخيل ، او داسې نور ...

همدغه شان مومند او نور قامونه دروا خله چه هر يو ډېري څانګې او ډېر ښاخونه لري او هر هر ځاي پرا ته دي دغه ټول لوي او واړه قامونه چه په افغانستان او پښتونستان کښې له هرات، ميمني او بدخشان نه نيولې تر کشمير ، سند او بلوچستان پوري په غرونو ، ډاګونو ، ښارونو درو او ناوو نو کښې ميشت دي او پنځلس شپاړس مليونه نفوس تري جوړيږي ټول د پښتون په نامه ياديږي او دا نوم دومره لوي او درونډ نوم دي چه پرتوئې له آمونه تر اباسينده پر ډېره لويه او پراخه ځمکه پروت دي . سره ددغه عظمت او لويوالي که څوک پښتون ديوه ملت نوم نه ګڼي او قام ئې بولي نوغره ته به غونډۍ وائي او وطن ته به کلی . سره ددې خبري چه پښتون قام د اباسيند او آمو له سيمي څخه د باندې هم تپې ، تپې پروت دی .

پښتانه باید پهدې پوهشي چهپښتون لهقام اوقبیلې نه ډیر لوی اوډیر ستر دی دانوم دومره وړوکی اوکوچنی نهدی. لکهچه ځینو ګومان کړیدی اوپه ډیر محدودنظریې ورته کتلی دی. دپښتنو په نظر کښې غلجی او دوراني هم هغه نومونهدی چههر یوه ډیر لوی لوی قامونه په غیر کښې نیولی دی اولمن ئې دقام لهلمنې نه ډیره پراخه ده نوپښتون خو پههیڅ شان دومره نشي وړوکی کیدای چه زمونږ دملك په اصطلاح ځوك ورته قام ووائې اود ځینو وړو قامونو پهقطار کښې ئې راولي .هغهځوك چه قام اوملت پهیوهمعنی اخلي هغهپښتون یوقامګڼلی شی مګر پههغه بل حساب داخبره هیڅکله دمنلو نهده چهډیر لوی سړی د کوچنی پهورځی اوزړوکی کښې تاوکړی شي، اود ماشوم پهځانګو کښې ئې ځملوی. پښتون هغهځوك دی چه پهیوه مملکت کښې هم نهدی ځای شوی اودوه مملکتونه: افغانستان او پښتونستان پری ډك دی نوکه دغومره مختلف اومتعدد قامونه ملت ونهګڼو اوپښتون دملت نوم ونهبولو ډېری لوئې هستۍ ته پهکم نظر ګورو او لوی یه ګناه کوو.

افغان اوپښتون هغهدوه لفظونه دی چه د معنی سراو بر-داخوا؛ هغهخوائې لکه دیوی تلې دوه پلې یو برابر دی اوهیڅ زیات وکم پکښې نشته!

هماغه شان چه افغان دقام نوم نهدی دملت نوم دی دپښتون اطلاق هم په یوه ملت باندی کیږی اودا دوه لغتونه یودبل ترجمه ده.

پښتانه باید لهخیل، اوزی، لهقام، اوقبیلې نه پورته

یوه لویه هستی یعنی پښتون و پیژنی اولکه دمرغۍ بچی
په هګۍ یا ځا له کښې ایسار پاته نشی . ځان ته
په کم نظر ونه ګوری او ځان ورو کی ونه ګڼی
مو نږ دا منو چه بارکزی یا احمدزی همدارنګه سلیمان خیل
یا تره کی لکه هزاره، ازبك، ترکمن، ایماق، نورستانی
او نور ددی وطن لوی لوی قامونه دی او هریو د افغان
ملت په تشکیل کښې ستره برخه لری مګر پښتون ددغه ملت
له دغسی اجزاؤ او اعضاؤ څخه نه دی بلکه ددغه ملت یو بل
نوم دی چه له افغان سره مرادف ګڼل کیږی .

✡✡✡

« الفت»

# دمکالمې ارکان:

۱ ـ ښاغلی محمد ایوب خان (۱)
ـ ۲ سید شمس الدین مجروح (ش)
۳ ـ قیام الدین خادم (ق)
٤ ـ عبدالله بختاني (ع)
٤ ـ صدیق الله رشتین (ص)
٦ ـ محمد دین ژواك (ژ)
۷ ـ نور محمد تره کی (ن)
۸ ـ قدیر فهیم (ف)
۹ ـ نیك محمد پکتیانی (پ)
۱۰ ـ فقیر محمد بایزي (ب)

✲ ✲ ✲ ✲

# آیا دوطن مینه غریزی ده؟

( یوه مکالمه )

یو پوه پښتون چه په کابل کښې مسافر اوښیږی دیو کرائی کورنه بل ته لیږدیدلی ؤ، یوه شپه څو تنه پښتانه پوهان اولیکوال دده مېلمانه شول .

یو میلمه وویل ! څنګه‌دا کور ښه‌دی که پخوانی ؟

ده‌وویل : داکور ماته‌ښه‌ښکاری اوډیری ښیګڼی لری .

بل میلمه : هو ! دډولو نه یې په انګړ کښې دا ګلان ښه‌دی .

کور به : هو ! ددې دپاره چه‌تاسې کله کله راځۍ ، او شاعرانه‌لطف اندوزی-ترې کوی ، اوزما دپاره‌خود ګلانو وجود اودهغه دکرلو اوروزلو ز مینه یوه خوند وره مشغله ده ،زه هم ورته‌وز ګار یم ، او په ځمکه کښې کارکول زما پخوانی عادت‌دی .

په‌وطن کښې‌مې همداکارډیر خوښیدهٔ اودلته هم ماته ډیره دلچسپی لری .

ش : ته دخاورو خدمت کوې او داهم یوه‌نظریه‌ده‌چه دهقانان او زمیندا ران د خاوری دمینې په سلسله کښې دوطن سره‌ډیره مینه‌پیدا کوی،او دوی‌دنورو طبقاتو نه زیات دوطن دفاع‌کوی ،اودا ځکه‌چه مثلایو مامورهلته خوشالیدلی شی‌چه غټه‌چوکی ور ورسیږی ، او یوتاجر هلته اوسیږی چه‌تجارت یې‌ښه چلیږی ، خویو بزګــرته دخپل پټی پوله‌دهرڅه نه‌زیاته ګرانه‌وی ، نوځکه په‌دغه

ترتيب يې دوطن دوستي جذبه قوي كيږي . نه پوهيږم چه
شاغلی «ق» به دوطـنـدوستی فلسفه ومنی اوكه نه؟
ق :زه دوطندوستی په فلسفه باندی باورلرم ځكه چه
وطن پرستی دانسان غریزه ده .
اوداهم منم چه بزګره طبقه نسبت نورو ته ډیره وطن
دوستی لری . تاسې ځنګه وایی؟ چه زه به دوطن دوستی فلسفه
ومنم اوكه نه ؟
ش ؛ زموږ داخیال ؤچه ستا فلسفه به ډیره عالی وی
او په بشر دوستی کښې به تا دومره انهماك کړی وی چه
دوطن دوستی خبره به درته ډیره وړه ښکاره شی .
ق: زه د بشر دوستی نه انکار نه لرم خود وطن دوستی
غریزه د بشر دوستی منبع ګڼم ، هغه کسان چه دخپل وطن
مینه نه لری نو بشریت سره به ځنګه مینه ولری ؟ دانسانی
مینی دایره له خپل ماحول نه شروع کیږی .
ش: غریزه خو به نه وی ، مګر د احتیاج په اثر دامینه
پیدا کیږی .
۱ : هو ؛ رښتیا وایی هغه کسان چه دهغو مفاد پروطن
مربوط نه وی هغوکښې ددې مینی دومره سراغ نه کیږی .
ق : خیر نو اول باید داخبره سپینه شی چه وطن دوستی
په انسانانو کښې فطری ده که نه ؟
۱ : ښه سوال دې وکړ خو ته پـخپلـه پکښې څه وائی ؟
ق ؛ زه خو وایم چه دا دانسان یوه فطری او طبیعی
غـریزه ده .
ش : ته به دا وکړی چه داخبره په دلایلو ثابته کړی؟
ق : زه حاضریم چه په دی باره کښې خپل دلایل تاسی

ته واوروم او که څه هم زما په خیال دا خبره ډیره واضحه او دلایلو ته محتاجه هم نه ده .

ا: تاسي خو ووایئ چه څه وایئ . ؟

ق: تاسي ته خو معلومه ده چه محیط او آب او هوا په انسان، حیوان، او نبات باندې خپل تاثیرات اچوي ترڅو چه اغلباً دیو محیط دمولو دژوند د دغه محیط د شرایطو مرهون وي .

دانسانانو درنګونو، قوارو، ګړو وړو او بیا دمزاجونو اخلاقو او نفسیاتو تغایر او تفاوت، دمحیطونو اختلاف نتیجه ده، تاسي وګورئ د شنو فصلو نو مملکتونو او د شګو د یاري خبره وي. نو هر کله چه محیط دومره تاثیرلري اودحیوان اونبات په تشکیل کښې دومره برخه لري نو بنیادم هم د حیات د ادامې د شرطونو په اساس دغه ځای سره طبیعي مینه لري او دا مینه فطري ده. ګورئ مرغان دخپلو ځالو څخه څومره دفاع کوي !

ش: مونږ ته ستا مطلب پوره واضح نه شو ځکه یو بنیادم به وی چه ددنیا په مختلفو محیطونو کښې ئې ژوند تیر کړی وی اود مختلفو محیطونو مادی او معنوی تاثیرات به ئې په ځان منلي وي نو دیلي شو چه ټوله دنیا دده وطن دی !

ق: وطن خو معلوم شي دی - ګرځیدل او سیر و سیاحت ځانته کارونه دی، استثنأتو کښې حسابیږي .

ش: زمونږ دوطن مرغان چه اوړی دلته وی او ژمی ځي و طن ئې کوم یو دی ؟

ق : دلته همدو مره ویل کیدای شي چه دغه مرغان دوه وطنه لري . وګوري ۓ همدغه توتکی ۓ چه ژمی لاهور شی په پسرلی بیرته خپلی ځالی ته راځی او خپله مینه نه هیروی . دغه وطندوستی ده .

ش : نو ته وایه چه « وطن څه شی دی ؟ »

ا : هو! که په لنډو الفاظو وطن تعریف وکړی ، نو وروسته به بیا په دی کښی غور وکړو چه دغه وطن مینه فطری ده که نه ؟

ق : دا ډیره ښه خبره ده ، زه وایم « وطن هغه ځای دی چه سړی پکښی پیداشوی او لوی شوی وی » .

ش : ښه نو که دیو امریکنی مسافر سړی په کابل کښی زوی پیداشی هغه به ته کابلی وبولی ؟

ق : تاسی ولی داسی کوی ؟ دچا چه تربیت په کوم ځای کښی شوی وی اوعارضی نه وی هغه ئی وطن دی یعنی ډیر الهامات اخستل ئی شرط دی .

ا : نو لومړنی تعریف دی نیمګړی دی .

ق : زما تعریف نیمګړی نه دی ، وطن خو مینی ته ویل کیږی او دمینی همدا تعریف دی .

ش : ته نو دکوچیانو مینه هم وطن بولی .

ق : هو ، کنه !

ش : ته خو وائی وطن هغه ځای دی چه سړی پکښی پیداشوی او لوی شوی وی ، یو کوچی فرض کړه ، په پیښور پیدا کیږی او بیا راسمیږی اوړی په ایلبند او ژمی په ښکته سیمو کښی تیروی . یو ورور ئی په کابل کښی او بل ئی په ننګرهار کښی زیږی او ټول په دی مختلفو سیمو کښی لوئیږی ددوی وطن کوم ځای دی ؟

ق : داڅو لی سیمی چه‌دوی پکښې اوړی اوژمی تیروی ددوی وطن دی‌او یوهم نه‌شی پر یښودلی، او ددفـاع په وخت کښې ددوی مینه که‌د کلیو الو نه زیاته نه‌وی‌نو کمه هم نه‌ده منتهادومره چه‌ددغه وطن احاطه لږه‌ار ته‌ده.

ا : دی خبر و نه تیر شی ،راځی ،هر یودی په‌خپل خیال دو]طن تعر یف وکړی !

ص: په‌دی‌خبره باندی رای ګیری په کار ده .

ش : ښه نو ووایی ، خپل نظر یات !

ق : ماخو مخکښې ویلی‌دی چه « وطن هغه ځا ی دی چه سړی پکښې پیداشوی اولوی‌شوی‌وی .

ش: ښه نوفرضاً! که‌یوسړی په «کامه » کښې پیـد ا شوی‌وی نو افغانستان ئی وطن نه‌دی .

ق : «کامه»خو هم‌په‌افغانستان کښې ده تاسی‌او س دالفاظو پوری نښلی ، نو راشی ،ووائی ، چه‌دوطن تعریف‌څه‌دی؟

ش: (په‌خندا) د«ق» په‌وطن کښې کناراب دی‌هم‌داخل‌وی.

ق: هو داپه هماغسی صورت لکه دسړی په بدن کښې چه دده ګیلړه دڅولو محتویاتو سره داخله ده او س نـو ستاسو نظر په څه‌ده ؟

ش: ز ما په خیال چه‌وطن هغه‌خاوره ده‌چه‌یو معین سیاسی حدود ولری اودغـه حدود کـله‌لو ئیږی او کـله وړیږی .

ا : زه‌وایم چه‌وطن هغه‌ځای دی‌چـه‌د مشترك منفعت په‌اساس یوه جامعه پکښې دیوی اداری لاندی‌او سیږی.

دغه خاوره دڅولو وطن‌دی اومینه ورسره لری .

ص: زه ددغو تیروددوو تعریفو نوسره موا فق یم خو

دتـاریـخی روا یـا تـو یـووالی پکښې شرط گڼم .
ف : (ده‌هم څه‌خو نده وره خبره وکړه اوورپسی ئې لکه چه بې دښاغلی «ق» نه نوری نظریې تائید کړی زما پـوره په یانه دی )
ژ: ددی‌سړی الفاظ ډیر مغلق ووځکه‌را نه‌هیر شوی‌دی)
ن: زه‌څه نه‌وایم‌خودانه‌ددی‌خبرې‌دلیل‌ونه بولیءِ چه‌زه گوندې وطن سره مینه نه‌لرم .
پ: وطن: هغه‌خاوره ده‌چه دیوواحد سیاسی تشکیل لاندی یوه‌جامعه پکښې اوسیږی .
ع: زه وطن تـر سیاسیاتو پورته گڼم ، زما په خیال دسړی وطن‌هغه ځای‌دی چه‌په طبیعی اوعادی صورت‌سره دسړی دتشکیل ټول مواد دهغه ځای نه تهیه‌شوی او روزل شوی‌وی، اوداسلسله یوی اوږدی زمانی پوری همد لته مختکښې تللی وی . اوپه دی اساس ددغه ځای سـره مینه لرل دځانه سره‌مینه لرل شو . نوځکه‌زه ئې طبیعی بـولم .
ا : مونږ خوپه دی تعریف پوه نه‌شوو!
ش: رښتیا څه اغلاق‌خولری .
(ډوډی‌ه راغله اوخبری پری‌شوی)

دوهم مجلس

ع :داخبره خو فیصله نه‌شوه چه دوطن مینه فطـری ده او که نه ؟
ش: (ع‌ته)دحاضرینو نه فقط یوازی یو تن وائی چه دا مینه فطری‌اوطبیعی‌ده خوستا رایه مونږ ته‌واضحه نه‌شوه .
ع : ماته یوه‌بله سودا راپیښه ده هغه داده چه که دا مینه فطری نه‌وی‌نـو څه به وی؟
ش : اکتسابی به وی .

ع: دفطری او اکتسابی په فرق بهمې پوه کړی ؟
۱: داخو بیخی ښکاره فرق لری .
ع؛ زه یې په فرق نه یم پوهېدلی .
۱: فطری هغه دیچه دانسان په خټه کښې اخښتل شوی وی او اکتسابی هغه دی چه د تربیې او محیطی انفعالاتو نه وروسته روی کارشی یا په بل عبارت وحشت فطری او پوهنه اکتسابی ده .
ع: د تربیې او تعلیم اخستو استعداد خو په انسان کښې وی نو دغه استعداد طبیعی وی او که غیر طبیعی ؟
۱: اوس ته لکه چه مناظره جوړوې ؟
ق : نه ! دی یوخه وایې دده په خبرو کښې غور په کار دی !
ش: هو! ده سره خه شته .
ع: هو !زما مطلب دادی چه خومره چه مونږ ته معلومه ده په حیواناتو کښې یوازی انسان خبرې کوی او علم او پوهنه حاصلولی .
ظاهراً دعلم او پوهې حاصلول خو مونو ته کسبی ښکاری ، خو ددغه اکتساب قوت او استعداد چه په انسان کښې شته دهغه نه معلو میږی چه هم دا د علم او پوهې دحاصلولو قوت به په انسان کښې فطری وی نو کوم وخت چه دیو شی قوت او استعداد فطری شو نو هغه شی بایدضرور فطری و بولو .
ش : شراب خو دانګورو نه جوړیږی او په انګورو کښې دشراب دجوړیدو استعدد شته نو آیا شراب انګوردی ؟
ع: نه !شراب انګور نه دی بلکه د شرابو اصل انګور .

دی. لهذا دهر اکتسابی شی اصل فطری دی بلکه پخپله «اکتساب» هم په انسان کښې فطری دی، که دانسان په طبیعت کښې دغه استعداد موجود نه وای نودا مو جـو ده ترقی او تمدن به نه رویکار کېده.

ا: په دغه صورت خو دانسان هر کارا و عمل او هر صفت فطری کېږی او په دغه شکل به یی ومنو خو بحـث په وطن دوستی کښې دی.

ع: هو! زه وایم دوطن مینه دانسان اوحتی دحیوان فطرت دی او یوسړی خپل وطن ځکه خوښوی چه وطن یې دی. بل دلیل او برهان یاد ګټی او تاوان سوال اصلا ورته څه اهمیت نه لری.

ا: نو که ستا وطن کښې ستا کـوم مفـاد موجود نه وی ته به یې څه کړې؟

ع: زه وطن دوطن په حیث پیژنم، نه د مفاد له مخه، نور انسانان هم دغسې دی دا چه خلک دخپـل وطن د ودا نـۍ او ترقۍ په نیت سر ورکوی، زحمت او کړاو تیروی ده ته خو پکښې ظـاهراً کومه ګټه نه وی، همدار نـګه یوسـړی که په بل وطن کښې ډیر آرام وی اوحتی که بادشاه هم وی دخپل وطن خاوری خزلې یې په زړه ګرځی

احمد شاه بابا وایی!

د ډیلی تخت هیر ومه چه رایاد شی

زماد ښکلی پښتو نخوا دغرو سرونه

اودا ځکه چه دوطن مینه طبیعی ده او دوطن دپاره هم طبیعی حدود لازم دی نه سیاسی او اداری.

ق: دا هم کیدی شی چه یوشی هم غریزه وی او هـم

د حیات داحتیا جاتو او شرا یطو پوره کو ونکی، تضاد خو نه لری .

۱: طبیعی حدود څنګه وی ؟

ع: په سیاسی لحاظ خو مثلا پښتونستان او پاکستان دیوې اداري پلاندې راوستل شوې دی اوحال دادی چه ته ( ۱ - ته ) یې یووطن نه بولي اود پښتونستان آزادی غواړي .

۱ : دا بیله خبره ده .

ع : دا بیله خبره نه ده ټولی خبرې په همدې مثال واضحی کیږی . په پښتونستان باندې دپاکستان حاکمیت کومه طبیعی خبر نه ده. ځکه نودهر پښتون طبیعت یې نه منی او د هر پښتون فطرت او ضمیر له دې خبرې څخه اباکوی ځکه ویریږی چه که دبل وطن حاکمیت په خپل وطن باندې ومنی . ددوی موجودیت به په پاکستان کښې محوه شی . نو وګوری چه دا بیګانګی نه وای دا ابا به هم نه وای اوهغه وخت به یووطن وای .

د دنیا داتصادمونه ، جنګونه اوجګړې د همدې نه راوتلی دی چه دزور اوسلطی خاوندانو واړه ملتونه ندی پرې ایښی .

چه په خپلو طبیعی حدود کښې دننه په خپل طبیعت ژوندتیر کړی او په دغه کشمکش کښې کله یو ملت په سیاسی اواداری لحاظ لوی شی اوبل وړوکی . اوکه نه دوطن او خاورې حدود پخپله طبیعت سره بیل کړی دی اوهر یو باندې خپل وطن ګران وی .

ق : رښتیا وایی ، داسی مملکتونه هم شته چه سیاستونو

بیل کړی دی مګر طبیعتا یو دی او په همدغه دلیل سره بیل نه حسابیږی .

(شپه ډیره تیره وه .... دهرچا سترګی له خوبه پټې کېدلې نوځکه د خپریدو تحریك شروع شو او خبره هم دلته پاته شوه) .

یادګیرنه: (داخبری ددی مضمون دلیکلو نه دوه میاشتې مخکښې شوی وی په دی کښې کوشش شوی دی چه د مجلس درفقاؤ مطالب رانقل شی، که عبارات هیر شوی وی بښنه غواړو (زیری) .

❁❁❁

د مباحثې دغه بهیر په پورته ډول عالیګڼلی
او د زیري په جریده کښې خپور کړی دی .
زه ډیر ویاړم چه زما د استاد مرحوم
خادم صاحب دوره خوښه شوې چه هغوی په خپل
کتاب کښې له زیري نه اقتباس کړی دی .
ستاسو خدمتګار نجتاني .

کتلی شوی ۶ :
زیری - دوهم دوره - څلورم کال - ۵۵/۵۵ ام ګڼه
د ۱۳۳۴ د سنبلې ۱۴ ام - ۲-۴ مخونه .

# پښتنولي څه شي دي؟

دپښتنولۍ کلمه اوسنی نه ده. له زرګونو کلو څخه
چه پښتون دپښتون په حیث ځان اوجهان پیژندلی دی
ورسره وه. هر شی علامه لری. او دهر شی دا متیاز او
پیژندګلوۍ دپاره خدای نښې او نښانې پیدا کړې دی.
دپښتون دشناخت او پیژندګلوۍ نښه او مارك پښتنولي ده.
آر، اصل ته وایی: آری، یا اریه، یا آرین داصیل
اوشریف په معنی دی؛ دپښتو په موجوده ادبیاتو کښې
ددغو کلمو او اصطلاحاتو څرك شته. همدارنګه پښتنولي
دپښتو دګریمر په اصطلاح جعلي مصدر یادمعنی اسم دی
پښتنولی دپښتون دکلمې نه جوړه شوی لفظ دی پښتنولی
یعنی افغانیت. یا په فارسی سره (افغان بودن) پښتون په
ګریمری اساس سره صفتی اسم دی. دا اسم دپښتو له کلمې
څخه ساز شوی دی پښتون یعنی هغه شخص چه پښتو لری
پښتو ډیری معنی وی لری، خو دا ټولی دغیرت، همت،
شرافت، او اصالت له عناوینو لاندی راغونډیدای شي.
او په عین زمان کښې پښتو دهغه ژبې نوم هم دی چه
پښتون ورباندی ګړیږی. همدغه ژبه په قدرتی صورت
سره دهمدغو معنا ګانو حامله او ساتونکی ده. دپښتو د
ګریمری اصولو په قرار خپله پښتو کلمه منسوب اسم
دی. نو اصل کلمه (پښت) یا ته شوه (پښت) دشا، توکم نژاد
او اصل په معنی، دی. په قدیمو تاریخی روایاتو کښې
چه دهیون تسانګ اویونانی مورخینو څخه منقول دی

(پښت) ؛ (پکت) یاد یا ته شوی دی . همدارنګه پـکتین یا پښتین هم پخوانو مورخینو ددغه قوم نوم یـاد کـړی دی ورزیرقوم اوداسی نور اوسنی پښتانه چه دپښتو نخوا په جنوبی برخو کښی اوسی . «واو» په «ی» بدلوی، نو پښتین او پښتون او پکتین او پـکتون یوشی دی . پـکتـیا ، پکتیانا ، پښتیا ، پښتیانا ، ددوی دسیمی اوهیواد نومونه دی . دکلمی په آخرکښی دخفی (ه) په زیا تو او په لږو فرقونو سره دوطن اوهیواد نوم اوس هم رائج دی لکه له ترك څخه ترکیه ، له افغانی څخه افغانیه له آرین څخه اریانه اوله لودی څخه لودیانه همدغـه (ه) ده چه بـیا خلکو په الف بدله کړیده او آریانا پښتیا نـا ، شوی ده . پښتانه اوس هم په خپله رائجه پښتو ژبه کښی دغه طرز او اسلوب دظرفیت او وطنیت دپاره لری مګر په دو مره قدری تغیر سره چه دنون په ځای په پښتو کښی(ڼ)راغلی دی اوس مو نږ (و پښتنا ڼه) ؛ (خو ږ یا نـه ) دو ښـو او خو ږو ځای ته وا یو . نو پـه دغـه اصو ل او اسلـو ب سره باید پښتیانا (یا) پښتیا ڼه دپښتنو داو سیدو ځای تـه (دلویی پښتو نخوا) په معنی وویل شی . یعنی هغه ځمکه ، سیمه او هیواد چه قدرتاً دپښتنو دی او پښتا نه پـکښی اوسیږی (پښتانا) ده .

اوس به راشو (آر) او(پښت) ته . دادواړه کلمی په معنی او مفهوم کښی لکه چه مخکښی وویل شول سره یوشی دی ، اوس نو داخبره چه آر ، لفظ مخکښی دی ، که پښت ، دادلوی پښتون فلا لوجست : ښاغلی هوسین کو ژرغوریاخیل وظیفه ده ، خو داخبره ددغه دواړو کلمو دقدیم معنوی وحدت

څخه په وضاحت سره معلومیږي چه یا ټول اریائي قومونه په اصل کښې پښتانه دي. یا پښتانه په اصل کښې آریان دي.

زه باید داخبره په همدې ځای پرېږدم، او خپله موضوع تعقیب کړم چه هغه دا ده چه پښتنولي څه شی دی؟ د پښتنولي په باب په کتابي صورت سره د پښتنو تاریخي دنیا چپ او غلي پاته ده، اما په روایتي ډول هر پښتون ښه او ښځه په دې پوهیږي چه پښتنولي څه شی دی. ترڅو لومړنی کتاب چه د پښتنولۍ په باب ولیکل شو او نشر شو، هغه هماغه کتاب دی چه د (پښتنولي) په عنوان معنون او په (۱۳۳۱) کال کښې د دې خادم په لیکنه له پښتو ټولنې څخه خپور شوی دی.

زه پوهیږم چه د پښتنولۍ د وسیع مفهوم له پوره احتواء څخه به دا کتاب عاجز وي. ولي داولیت حق لري. ماد پاره د ډیرې خوشحالۍ ځای دادی چه د پښتنو دنیا دغه زحمت ته په درنه سترګه وکتل او له هر ځایه ور باندې د خوشحالۍ غږونه پورته شول. کوم وخت چه دا کتاب نشر شو ننګیالي عبدالصمدخان اڅکزي د دې کتاب ډیر قدر وکړ. دوروور پښتون حزب په خپل ارګان «پښتو» کښې ور نه اقتباسات وکړل!

او ښاغلي عبدالصمدخان ور باندې په خپل قلم تبصري وکړې، ښاغلي عبدالصمدخان د «پښتو» میاشتینۍ مجلې په ۹، ۱۰ ګڼه کښې چه د مارچ، اپریل ۱۹۵۴ع له باته نش شویده، د «پښتنولي» تر عنوان لاندې یوه اوږده اومدلله تبصره لیکلې ده چه د دغه تبصرې نچوړ لنډیز دادی: (پښتو یا پښتنواله» یا په بل عبارت پښتنولي یو بېل ژواک او دژوند

لپاره ده. داليار سريتوب، روغي، نيكي؛ آزادي ؛ و مسلماني ؛ ته. تردي اوسني انگريزي يا يوروپي ژواك، يا دژوند ترلار، يادژوند تردود (قانون) زيا تـه ورتـه او نژدي دى. پښتنو هر كله ددين په شان په خپل دغه ژواك او دودسرو نه اينبي دى. همـد غـه شي د اوسني افغانستان دخپلواكي؛ سبب دى. دكابل دويم جنگك چه دغازي اكبر خان، غازي عبدالله خان، اوغازي محمدجان خان په مشري شوى دى، پر همدغه پښتنولي؛ شوى دى. اڅكزي خان وايي: د پښتنو جرگه، په رښتيا دخلكو له خوا، او دخلكو دپاره وه اوده. پښتانه بې له جرگي چه د پښتنولي؛ پر اساسو نو جوړه شوي وي نه چليدلي دى، او نه به وچليږي، خان وايي: لنډه داچه پښتانه او بلوڅ دنورو خلكو څخه جلا او بيل خلك دى ځكه چه دوي ځانته ژوند اودژوند عليحده دو د (قانون) لري چه نوري يې نه لري. ځكه خو پخوانـي هندچه پاكستان هم ورسره ؤ دانگريزانو ړي دود (قانون) ومانه، خو پښتنو او بلوڅو ونه مانه. تردي وروسته هم پښتانه بې پښتو او پښتنوالـي په بل څيز نشي چليدلاى او نه ورتـه غاړه ږدي. اوداځكه چه پښتنولي كه نور هيڅ هم نـه وى د پښتون دپاره تربل هر دود اوقانون ښه دى.

تردې ځايه خودخان عبدالصمدخان دخبر نقل ؤ. زمامقصد دادى چه پښتنولي د پښتنو دژوند اوددوى دژوندن وددود اوقانون نوم دى.

په پښتنولي؛ كښي د پښتنو دژوند ټول خوا وى، لكه اخلاق، عادات، اجتماعيات، سياسيات، جزائـي اصول دجنگك قوانين عدلي مسائل اقتصاديات هم ښودل شوى

او فیصله شوی دی . نو پښتنو لـی د پښتنو د پـا ره دژوند مکمله ضابط اوقانون دی . هو، داقانون تراوسه پوری په روایتی اوتعاملی صورت سره موجـود ؤ، او پس له دې چه د پښتون په ژوند کښې نوی تحول او انـکشاف پیدا کیږی ، فصل، باب ، اومواد به پیدا کړی .
داله شکه وتلی خبره ده چه په پښتـنو لـی کښی دا سی فضایل شته چه باید ددنیا مهذب قومونه ورڅخه اخذاو استفا ده وکړی او داشی چه اوس ور سره داسلام د دین ښېګڼی اومزایاهم مزج شوی دی ، دپښتون ملت په ذهن اوروح کښې دومره ټینګوالی او قوه لری چه دوی یی په هیڅ شان، له لاسه نشی ورکولای. او همدغـه شی بـه پښتون دعروج اسمان ته رسوی که خدای کول .

کابل ۱۳۳۴

✲ ✲ ✲

قصه

# ((سید کمال او ببو جانه))

د شګې اوشاوخوا کورو کلي ټولې پېغلې او نجونی را غونډې شوي وې ټولو ښه ښه کالي اغوستي وو ، سره او شنه پوړنی یې په سر کړی وو ، سرو نه یې کړی وو، او سترګې یې توري کړی وې . چار ګلونه او پېزوانونه به پوزه، او وښې او باګوګان په لاس شوی وو ، ټیکې په تورو او غوړو اوربلونو زوړندې شوې وې دلو نګو اولال تا کو خوږو بویونو ، او د نجونو د مکیز خندا ګانو د مړو زړونه ژوندی کړول . او د پښتنی حسن د ننداری د پاره د آسمان زرګونه ستوروی مضطرب او ترورو چه کله به دا ماښپښین په ماښام بدلیږی او دوی به په دزدیده نګاه سره ددوی تماشه کوی

نجونو په حیل منځکی سره و کتل او یو تر بله یې په دی پوښتنه شروع و کړه چه ببوجانه چیر ته ده . او په دی باندې فیصله وشوه چه که په دی ډله کښی ببوجانه نوی نو دا ډله نیمګړی ده . دری څلور نجونی ورپسې روانې شوې چه ببو جانه را ولی او د پیغلو دا مجلس ددی د حسن په جلوه باندی تکمیل کړی ببوجانی انی بانې وګړی مګر نجونو پرې نه ښوده رایې وسته ، دې ، د مجلس ملا متیا د سر نه په دې کلمه غورزوله چه (که زه ستاسو په ډله کښی شنبا له کړی واده ته رواته شم ، ویر یږم چه د چا خون وا نخلم !)

نجونو وویل هغه خون چه ستا په غاړه کیږی هغه دی زمونږ په غاړه وی او روانې شوې !

سید کمال چه عمرونه عمرو ته د ببو دیو دیدن په انتظار تیرو ل ، د ببو دوه ستر ګو کتلو د پاره یې ځان برابر کړو او په لیدو سره یې محو او مبهوت شو پس له دی چه لږ په حال شو ، په صورت یې اور بل ؤ او طاقت یې نه کیدلو . راغی کورته او د ورنداریٖ شخه یې زنانه کالی وغوښتل چه وایی غوندی . هغه ورته وو یل : سید کماله ! ته یو دینداره او ملا سړی یې تاسره دا نه دی مناسب . ده وو یل : زه دا سوال کوم چه زماسر چاته مه فاشه وه ! او کالی او ګاڼه دیٖ راکړه . هغی دسید کمال سوال ومانه او سید کمال د ښځو کالی واغوستل او ګاڼه یې واچوله ؛ د پس مانده ښځو سره ماښام په لاره ملګری شو او ده وا ده کور ته د ښځو په ډله کښی ننوت !

دواده ښځی د بام په سر ناستیٖ ویٖ د نجونو په سرو پوړنو د بام سر لاله زار جوړ شوی ؤ ، ببو جانه د نجونو د حلقیٖ په منځکښی لکه سپوږمیٖ ناسته وه او نوریٖ نجونیٖ لکه ستوری چاپیره ورنه تاویٖ شوی ویٖ . دیٖ سر وا یه او نجونو به ټکی پکښی اچولی .

شپه په ټوکو او مسخرو او ساز و سرود آخر ته ورسیده شمعیٖ د دیٖ مجلس دانحلال او خوریدو له غمه ټوله شپه په سرو ستر ګو وژړل ستوری د لویٖ شپیٖ په بیداری او کتلو کتلو ستړی شول او وار په وار لاړل دافق په لمن کښی یې ځانونه وغورزول . نازنینانی دخوب په شراب مخموریٖ شوی ځینی یوه یوه ځانګیٖ وانګیٖ پر یو تی او ځینی لاړی کورو ته ! ببو جانه یوازی په میدان پاتی شوه سید کمال چه ببو جانی ته مخامخ ناست ؤ او تمامه شپه یې دشمعی دژړا

هم آهنګی کړی اودننه دننه سوی ؤ اوس چه دسبا
ستر ګی دمشرق له خوا سر را پورته کړای ؤ او په یوه یوه
جلوه یی دنورو ستورو ستر ګی خبره کولی په ورو ورو
ده بیوجانی خواته وروړاندی شو. او په زنانه لهجه ورته
وویل: «خوری څه چه مونږ هم هم کورته ځو» دواړه
راروان شول سید کمال له سره پوړنی وغورځاوه او خپل
چنګک چنګک بریتونه یی ښکاره کړل .

بیوجانه: سید کماله داته یې .

سید کمال: هودازه یم ستاده دوه ستر ګو ارمانجن ؟

بیوجانه (پس له ګړسکوته): زه ستادمینی اوشوق نه
خبریم او پتا ډیر ډیر زړسوای لرم زه اوس ستا یم .

سید کمال : ته زمادقیامت دورځی پوری خوریی زه
تاسره هغه مینه لرم چه ددی خبرونه ډیر پورته ده .

بیوجانه: ستارشتنولی ما ته پخوا هم معلومه وه او
اوس می پورته یقین وشو اودزړه ډاډ می لازیات شو .

په خبرو خبرو ونرې نرې مجلس لاړل دسیند غاړی
ته ورسیدل. دسیند په غاړه په یوه لویه تیږه سید کمال
او بیوجانه دواړه مخامخ سره دوه په دوه کښینــا ستل .
داسمان ستوری دسیند په او بو کښی ځلیدل په دی ځای
کښې یی ددی دوه ستر ګو څخه چه غړیدی نوری غړیدلی
ستر ګی نه وی دسباستر ګه وار په وار رانژدی کیده او په
غټوغټو لی دی مینو ته کتل. سید کمال بیوجانی ته وویل
بیوجانی ته خبر کوه اوزه به درته ګوره. داراز او نیاز
دهغی پوری ؤ چه څو ملاالله اکبر کړو اوسپینوالــی په
افق کښی خپور شو. اوس دادواړه مین نیمر یی او نیمه
خوا بیل شول .

کوم وخت چه دوی دواړه راوتل یوی زړی ښځی چه
هغه وخت و ینه وه دوی یی لیدلی اوڅارلی وو. سبایی
دازړه چغول ګډه په منډه لاړه اود ببو مشر ورور ته
یی واقعه وویله مشر ورور کشرانو څلور ورونو ته واقعه
بیان کړه او هر کله چه دوی ددی دوه مینو په مینه څه
دیدو اشتباه نه لرله نو تجویز یی داو کړو چه ببو جانه
دی په میړه شی. وایی چه قلعټك کښی یو ملاؤ هغه یی
راوغوښت او ببو جانه یی ورمبارکه کړه ملاصاحب دببو
جانی او سید کمال دمینی دهنګامی نه خبرؤ ده وویل چه
ددی خبری نه به څه شر پورته شی؛ مګر دببو جانی
ورونو هره ذمه واری په خپله غاړه واخسته او ببو جانه
دحسن ملکه دیوداسی سړی روزی شوه چه دهغه سر ته؛
په خوب اوخیال کښی کښی هم ددی دوصل سو دا نه وه
راغلی.

وائی چه ببو دسید کمال دتروور لوروه دو ی په اول
عمر کښی سره لیدل او کتل دهر یوه په زړه کښی دبل
دنګاه غشی ښخ شو. او هلته زرغونشوؤ. او دهر یوه مین
زړه ددغه مینی دنیالګی دګل او ثمر له برکته ګلزارؤ.

سید کمال دځلمیتوب په ابتداء کښی دببو په مورو
پلار خوزله مرکه هم کړی وه مګر تش په دی چه دخلکو په
مینځ کښی دسید کمال او ببو دعشق قصی دلیلی او مجنون
دافسانی تمثیل پیدا کړی ؤ هغوی دپښتونولی په غیرت
نه غوښتل چه لوردی د دومره قصو داوریدو سره په هغه
ځای کښی ورکړی چه ددی زړه یی غواړی څوك وایی
چه ته ، دببو دور کړی نه مخکښی امیر عبدالرحمن خان

چه د سید کمال سوزناک شعر یې واورېده لې ؤ
دی یې کابل ته وغوښت سید کمال د ده په حضور
کښې خپل شعر ونه وویل - پښتون پاد شاه چه سید کمال
اثرناک غزل واورېدل او په هر غزل کښې ئې د بیو نوم
راغلی ؤ د سید کمال په عشق یې یقین راغی او ډېر زیات
متحسس شو. پادشاه حکم وکړ و چه شل نفره وزبک سپاهیان
دده ستې لاړ شي او بیو جانه دې سید کمال ته وسپاری.

دلته د بیو رونه مخکښې خبر شول او چه خود پاد شاه
سړی را رسیدل دا یې ور کړی وه!

څوک څه ویلی شي! قدرت دد نیا په سینما کښې یوازې
سید کمال او بیو؛ نه بلکه په ډېرو د مینې سوو، زړونو
د ناکامی دا غونډا ایښې دی او داسی تو بې یې پرې کړی دی
چه انسانانو ته یې تل د ژړا او افسوس تماشه پرېښی ده په
هر صورت د مایوسۍ او ناکامۍ هم دا روستنی ورځ
او هیڅوک نشي ویلی چه د بیو دواده په شپه به د سید کمال
اوښکو د ګمبیری د ډاک څومره شګی ګلګونی کړی وی.
دواده په شپه هغه ورځ د بیو ځښتن دی ته وویل چه زه
سید کمال ته میلمستیا کوم او کور ته به یې راولم ته به
همدا د واده ډول سنګار کوی او هیڅ قسم پلو به
نه نیسی په هغه کالي کښې یې د پخلي تیاری
وکړو او ځښتن یې لاړ چه سید کمال راولي پس له ډېر
لټون څخه یې سید کمال ومونډ چه چیر ته د آبادۍ
نه لری دیوه لوی و په یالی غاړه دولی د برګکی سوری
لاندی ناست ؤ قلم او کاغذ یې په لاس کښې ؤ د ځانه سره یې
ورو ورو په مین راګډ څه ویل او په قلم یې لیکل سړی یې سرته
ودرید ګوری. چه سید کمال د افسوزونو او ارمانډونو ډک
زړه د غزلو په لیکلو تشوی هره مسره او هره بند یې د ځمانه
سره تکراره وی او ژاړی!

سړی راغلی ولا ړوچه سید کمال هـغی وړی مرغۍ
ته پورته وکتل چه دده دسر دپاسه پهونه کښی نا سته وه او
دده دزړه دسر ینډی دتارونو سره یی په ښکلی او نری
آواز سره همنوائی کوله چه سید کمال سر پورته کـړو .
پهسړی یی سترګی ولګیدې زرزری یی سرېسترګی لهاوښو نه
پاکی کړی . ویل یی : اوه تهدلته څه کوی ، سړیورته پهډیر
نیاز مندانه لهجی سره د میلمستیا وویـل . ددی غـیرې
متوقعی پیښی پهاوریدوسره دسید کمال پهزیړ رنګ کښی
سرخی پیدا شوه اودستی دشوق اوشرمدقوتونو پهکشمکش
کښی پریوت لیکن راروان شو؛ راغی؛ بیوجانه دکاله په
دروازه کښی لکهدجنت حوره ولاړهوه. خدای ښه پوهیږی
چهددوی دواړو یو پهبل سترګـی لـګـید لې وی د دوی
دزړونو په څه حال ؤ . سید کمال تیر شو په دالان کښی
کښیناست . بیوجانی ورتهدواده دنکریځو پهسرولاسو کوذه
اوچلمچی راوړ ل . او بهیی ورواچولی پهډوډی ورسره یو
ځای کښیناسته بیو جانی د سید کمال سره خبری کـو ل
غوښتل مګر دسید کمال خوله نه بیرته کیده دښو لاندی
کهسید کمال دبیومخ ته کتلی وی ؛ وی بهمګر کوزیی ښکته
کا تهاوخو لی خولی وو. پهمشکل سره سید کمال دوهدری
مړۍ تیری کړی نوریی لاس ونیو ، ویل یی پښتو په ځای
شوه اوزما نوره نه تیریږی!

دبیوجانی پهډیره ټینګتیا سرهسید کمال دومره قدری
وویل چه بیوجانی : ستادیدار ماته دجنت دټولو نعمتونه
زیات دی: زهٔ پدیوخت کښی هیڅ نشم خوړلای . د بیـو
ښتن دا واقعات دکوم سوری نهکتل، چهراغی سید کمال

ته يې وويل: چه ستا عشق پاك دى ، او ته هر وخت زما كور ته راتلې شې . او بيو به ستا پوره احترام كوي !

وايي چه د بيو ښځتن سيد كمال ته داهم ويلې ؤ چه زه بيو جانه پرېږدم او ته يې په نكاح كړه . مګر سيد كمال د دې پېشنهاد په آوريدو ډېر وژړل او ويې ويل : چه زه د بيو د نژدېكت او لرې والي يوه هم تاب نه لرم .

سيد كمال يو فطري شاعر ؤ د ده زړه د عشق او د محبت داور ، سور داش ؤ د دې داش حرارت د دا سې يو ځاى څخه ؤ چه خپله سيد كمال ترې خبر نه ؤ د دې د مينې باعث كوم مادي څيز نه ؤ . چه په مادي خواهشو نو تسكين شوى واى په اصل كښې د ده زړه د مينې د اور پلېدو او سترګې يې د ژړېدو د پاره پيدا شوې وې بيو جانه تشه يوه بهانه وه !

سيد كمال د بيو جانې د ملاقات نه ورو سته كور ته راغې . ويل يې ما ته كټ تيار كړى په كټ كښې زيږ ز بېښلې پريوت خپل خپلوان يې را وغوښتل خلكو به ويل په سيد كمال بياد جنون دوره راغلې ده . ده د خلكو نه بښنه وغوښته او په وصيت يې شروع وكړه . ده ويل : زه خو د خو ګړيو مېلمه يم . پس له مرګه ما په پلانكي ځاى كښې ښخ كړئ : خلكو ويل : پلانكى لويه هديره ښه ده . چه هلته علماء . زاهدان او ښه ښه خلك پراته دي ! ده ويل كه په ما كښې څه وي دلته به هم لويه هديره جوړه شي !

بيو جانه چه د سيد كمال له سختې نه خبر شوې ده هغه هم راغلې وه او د كوڅې په سر يې د سيد كمال خبرو ته غوږ نيولى ؤ د دې خبرو په اوريدو پاس سرګومه شوه او ده يوه همسايه كاله ته اورلو يده !

واپی چه‌د سید کمال ورو ستی خبره داوه چه پس له مرگه ببوجانه ماسره نزدی ښخه کړی چه‌دقیامت په ورځ اول وار زما ددی په‌مخ سترګی ولګیږی دایی وویل او روح یی خدایی ته‌وسپارلو.

څو ورځی پس ورپسی ببوجانه هم تورو خاورو ته لاړه اوپه‌دغه شان سره دغه دځوانی عشق او محبت حسن اوجمال اودسوز او ګداز افسانه تمامه شوه !!!(انتها)

«خادم»

# دپښتنو دلرغونی تاریخ یــو فصل

(دپارت یا نو دولت)

په « آریانا رساله» «تاریخ افغانستان» او افغانستان بیك نظر» کتابونو کښې دیونان اوغرب دثقه مورخینو په استناد داسې لیکلې شوی دی .

دپارت ولایت : عبارت دی دهر یرود او انزك (؟) له حوزی اوشاه رود، جوین، سبزوار، نیشاپور، طوس او ترشیز له علاقو څخه چه داولایت یعنی دآریانا قدیم او پخوانی افغانستان دغربی ولایاتو څخه گڼل کیږی .

په یوځای کښې داهم وائی چه دغه دولت ځکه په «پارتی» نامه مسمی شوی، چه ددی دولت تاسیس کوونکی د«پارت» قبیله وه اوداقبیله دباختر د آریائی قبایلو څخه دمهاجرت په صورت دی هیواد ته راغلی وه. وائی چه پارتیان دباختر دآریایی قوم (پخت- پکت) یوه پښه ده .

(۱) کوم وخت چه‌دی قوم دخزر او هریرو د دغاړو ترمنځ علاقی خپل هیوادوگرزولی، او مستقل دولت ئی تاسیس کړ، نو پخپل نامه ئی ورته «پارتیا » وویله .دغه لیکوالو په‌خپلو لیکونو کښې د پارتیا د و لت د تاسیس نیټه نه دهښودلی ، خو دومره ئی لیکلی دی‌چه :

د۲۵۵ ، ق ، م په خواو شاکښی یو بل پارتی شخص چــه «ارساس» نومیدو له باختر څخه پارتیا ته لاړ، او هلته ئی

(۱) دافغانستان به یك نظ وښاغلی غبار تالیف ص۳۷ دکابل طبع په ۱۳۲۷ کال کښی

دسلو کسی یونانیانو برعلیه داستقلال اعلان وکړ، اونوی دولت ئې تشکیل کړ، وایي چه دارساس د(فری پایت) زوی اود (ارشك) نمسی ؤ اود تیر دادیا (تری داتس) په نامه یې ورور هم درلود. وائی چه ارساس ارشك هم باله شو.

داسې څر ګند یږی چه (ارشك) ئې فامیلی نوم دی. وائی چه کوم وخت نباغلی ارساس دخپلو ملګرو سره له بلخ نه پارتیاته لاړ، هلته یې وګړی دیونانیانو پرضد ولمسول، اود هغه وخت یونانی حاکم چه (فرکلس) نومیدو اوپه پارتیا کښې مقررؤ، هغه یې وواژه اوخپل مستقل دولت ئې اعلان کړ، وائی چه میړنی ارساس ټولو اك ښه کلك اردو تر تریب کړ چه دوطن له دښمنانو سره به ئې د فاعی جنګونه کول، اود آریانا یعنی پښتوانی او تاریخی افغانستان دپادشاه (دیو دوت) سره ئې دوستانه روابط درلودل. ما ته داسې معلومیږی چه دمیړنی او بهادر ارساس ښه روابط چه د آریانادمرکز یونانو باختری پادشاه (دیودوت) سره یې قائم کړی وو، دوطن دوستی اوپښتونولی په خوږه مینه ښناوو. دیودوت لومړی باختر ی شوی یونانی دی چه باختریې له سلو کسیانو څخه آزاد کړ. ځکه نو دیودوت د«منجی» په لقب شهرت موندلی.

نقل کا چه کوم وخت دغه ښاغلی میړه ارساس مړ شو ورور یې (تیرداد) یادوهم ارشاك دده پرځای دپارتیا بادشاه شو. ده پارتی دولت قوی او مستحکم کړ.

اود باختری پادشاه دوهم دیودوت سره یې دوستانه اتحاد وساتلو. دهاییوردته نژدی کلاوی و دانی کړی.

او یوځل دسلوکسی کالی نیکوس یونانی په جنګ کښی مغلوب هم شو .

دتیردادنه ورو سته دده زوی (ارتیان ۱۹٦ - ۲۱۴ ق م) دپارتیا پادشاه شو . ارتیان همدان فتح کړو . لیکن دریم انتیو کوش سلوکسی په زور سره دده په مملکت کښی تیر شو ، اودباختر سره ئی جنګ ته ځان ورساوه .

ځلورم ارشك چه (فیری یاتس) نو میده پس له پلاره پاد شاه شو .

(۱۹۸ - ۱۱٦) ق م) او تـرده ورو سته ئـی ورور اول (فرهاتس) یعنی لومړی فرهاد سلطنت ته ور سید .

ددوی په دوره کښی دپارت دولت کمزوری وه . هر کله چه دپارتیا دسلطنت واګکی میترداتس (اول مهر داد) ته په لاس ورغلی (۱۷۴ - ۱۳٦ ق م) پارتی دولت تـرقـی وکړه . اونمرخاته اونمر پریواته ته پراخ شو .

مهرداد د «تیوریا» او «ترکزایان» لتی (دکشف رود او طوس حوزه) له هرات او مروسره اشغال کړی . اوورپسی ئی په باختر کښی سو قیات شروع کړل . اوهیلو کلس یی ئـه کمزوری کړ .

له هغه ځای نه ئی سیستان او کند هار ته مـخه وکـړه . دنمر پریواته په خوا کښی یی هم فارس او بابل ته متوجه شو او د سلوکسیانو سره یی چه یونانیان او اجنبی حکومتو نه وو . متعدد جنګونه وکړل داول مهر داد نـه وروسته دده پر ځای دوهم فرهاد اودوهم ارتیان په نوبت کښینناستل دوی دغرب خواته مخه وکړه اوشرق یی هیر کړ .

په دغه سبب سره اسکایان او تخاریان په باختر کښی

چه د پارتیانو ابائی هیواد ؤ کلك شول ۰ او د یو نا نو باختری حکومت یی د هـند و کش جـنوب ته وو تـه وشـاړه .

نو بیا غرب ته ایم شول او دهریرود حوزی تـه ور غلل . دغلته له پارتیانو سره چه دسلو کسیانو په جنګو نو کښی کمزوری شوی وو مخامخ شول ، او دجنګونو او نښتو پـه نتیجه کښی فرهاد داسکایانو او ارتیان دتخاریانو په لاس ووژل شول ، په دغه وخت کښی (۱۲۴ـ۱۲۰ ق ـ م) دآریانا په غربی خواوو کښی دپارتیانو نفوذ لـږ شو . کوم وخت چه دپـا رت دحکـو مـت وار دوهم مهرداد ته ورسید هغه دکلکو نښتو په سبب داسکایانو مخه ونیوله او پری یی نښودل چه پارتیا ته ور ننوځی .

نوځکه دوی دجنوب خوا ته مائل شول او دسیستا ن په ولایت ور ننوتل دغه ځمکه یی په خپل نامه ، ساکستا نا و بلله . دویم مهرداد دارمنستان اودروم دد ولت سره هم ډیر جنګونه اومقابلی وکړی . دغو جنـګونو دپـا رتـیا ددولت دثقل مرکز له شرقه غرب ته واړاوه نوځکه ددوهم مهرداد په ځای ناستو بادشاهانو دآریانا دمملـکت سره تماس نه درلود . په آخره کښی «اورودس» دپارتی دولت پایتخت دآریانا له غرب څخه «آستیزیفون» ته چه ددجلی په غاړه کښی ؤ نقل کړ ، تر دی وروسته دپار تـیانو تاریـخ دآریانا دتاریخ له چوکاټه ووت ، اودپارتیانو یو شخص چه وینونس نومیدو دپهلوایانو په نامه دپارتـیانو پـه شرقی سیمو کښی یومستقل دولت تاسیس کړ چه تر (۱۲۰ـ ۷۰ـم پوری یی دوام وکړ .

نتائج

(۱) دپارت دحکومت داول تاسیس نیټه نه ده معلومه خو دارساس نه بیاددوهم فرهاده پورې یې تقریباً (۱۵۰) کاله دوام کړی دی اودارساس نه دوینوس پورې پوره دوه‌سوه کاله کیږی .

(۲) فرهاد اومهرداد هماغه پارتـی شاهـان دی چه قصې ئې په شاهنامه کښې هم شته .

(۳) پارتیان دتاریخ په شهادت د(پخت- پکت) له تکوم څخه اوپښتانه دی .

(۴) دپارت اوباختر په منځکښې تعلقات دثقافت او قومیت په اساسونو بناوو .

(۵) هرکله چه پارت قوم د(پخت- پکت) لـه ستې څخه اوپښتون دی نومعلومیږی چه د(بهارت:هند)او (پارس: فارس) کلمې هم دپارت څخه جوړې شوی دی .

(٦) اوس نوپدی کښې شك څوك کولی شی چه موجوده فارسې ژبه دی دپارتیانو دژبې له بقایاو څخه وی ؟

۞ ۞ ۞

# شعر څه شی دی؟

دانسان په وجود کښې دوه شیه ډیر عزیز معلو میږی چه یوه ته زړه، بل ته دماغ وایی. له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه له زړه نه شعر اوادب. ارو پا یان زړه دعواطفو او نفسی احوالو ځای ګڼی، مسلمانان دایمان اوعقیدی ځای ته زړه وایی، صبر، رحم، کرم، شجاعت سخاوت دزړه کاردی. عشق اومینه په زړه کښې وی. شعر له زړه نه الهام اخلی اوله زړه سره کار لری.
ډاروین وایی:

«هغه لوی کمال چه یوازی انسان ورته دتحول او تکامل په لاره کښې ورسیدلی دی او نورژوي ترینه محروم دی دانسان قلبی عواطف دی چه په رحم مروت، کرم شجاعت نوعه پرستۍ «اوخیرخواهۍ» ترینه تعبیر کیږي که انسان غواړی چه له حیوانیت نه لری وی باید دغه عواطف ښه وروزی» دعواطفو روزل دشعر کاردی اوشعر ته دعواطف اواحساساتو دظهور او تجلیاتو کوه طور ویلی شو. څنګه چه دلمر وړانګې اوپلوشې لمرۍ ځل دلوړو غرو په څوکو پریوځی، او وروستۍ وداع هم دغرو له څوکو سره کوی دغسې دعواطفو اواحساساتو پرتو دشاعر په زړه له نورو نه زیات لویږی، اوځینې زړونه لکه دغرو سمڅې او غارونه دغه رڼا یا بیخی نه وینی یائی ډیره لږه وینی. همدغه عواطف اواحساسات دی چه د شاعر له زړه نه الفاظو او کلماتو ته رانقلیږی شعر تری جوړیږی او په زړونو اثر کوی.

هو ! دشعر او ادب دنیا په دلداری او دلبری ولاړه ده.
او شاعر هماغه دی چه ډیر حساس او له عـوا طفو ډك زړه
لری هغه چه په زړه ونو کښی هیجان، تاثر او تحسس نه شی
پیدا کولی او زړونه نه خوځوی شاعر ورته نه شو ویلی .
که دا خبره رښتیا وی چه انسان په هر وخت او په هر حال کښی
دزړه په خوښی پسی روان دی او دعقل ادراك هم د تمایلا تو
له تاثیر لاندی وی نو ویلی شو چه دیوه قام عقلی او ذهنی
سیر او حرکت هم دشعر او ادب تابع دی او شاعران په نفسیاتو
او روحیاتو کښی هم تغیر او تحول راوستلی شی .
همدغه شعر دی چه په زړه ونو کښی زلزلی او طوفانونه
پیدا کوی او کله په کښی داسی صبر او سکون بدی چه
غرونه ئی ثبات او استقامت ته حیرانوی .
که دا رښتیا وی چه دچر ګانو په ناروویده خلق له خو به
پا څیږی نو دا باید ومنو چه دیوه قام مړه احساسات او
غافل زړونه د شاعرانو په نغمو را ویښیږی او په دغه
اسرافیلی شپیلۍ کښی بل راز تاثیرات موجود دی. هغه
فلاسفه چه ژوند بدګڼی او ژوند ګی تو ره په نظر ور غلی
ده هغه هم شعر ته ښه ګوری او شعر د انسان د پاره یـو ښه
پناه ګاه بولی .
شو پنهاور وائی: ټولې بد بختی د انسان لـه نفس او
ارادی نه نشئت کوی او له ژوند سره ډیر مصیبتونه ملګری
دی. که څوك یوه داسی چاره لټوی چه له بد بختیو لږ څه په
امن کښی شی نو باید په صنعت او هنر کښی مستغرق شی او
او دښکلا په مظاهرو کښی ځان ورك کړی، په دغه حال کښی
سړی په ظاهره د خلکو سره وی مګر په معنی کښی یوازی

وي، دنیا ورته لکه یو سراب معلوم میږي، چه دده لمنه نه شي لمدولی، په همدغسې بیخودۍ کښې انسان د دنیا له شر او شوره آسوده کیږي او د بې نیازۍ مقام ته رسیږي چه غیر له حقایقو بل هیڅ شي ته متوجه نه وي دغه صنعت او دغه هنر چه د شوپنهاور په نظر کښې د ښکلا مظهر او د انسان د پاره ښه پناه ګاه ده د شعر په نامه یادیږي.

شعر دا کولی شي چه دا تیاره جهان دومره رڼا کړي چه دغه ظلمی او ظلماني عالم له نظره ورک شي او داسې حالت په انسان باندې راولي چه عناد او حسد هلته نه ځائیږي او مینه، محبت په هر څه غلبه وکړي. که چیري په دغه غم لړلي جهان کښې د سعادت او نیک بختۍ پلوشې کله کوم کور رڼا کړي وي نو هغه د شعر کور (بیت) دی. د شاعر خیالي دنیا تر ډیره حده له غمونو او مصیبتونو نه پټه دد او له درد، سره داسې بیخودي پکښې شته چه له سړي نه هر څه هیروي. تاسې شعر ته په عادي او معمولي نظر مه ګورئ د شعر تو منه او قدسیت په نظر کښې ونیسئ. !

هغه څه چه له زړه نه نشئت کوي او په زړونو اثر لري هغه عادي او معمولي څیز نه وي. په شعر کښې باید ارو مرو قلبي عواطف او عالي احساسات موجود وي او همدغه شي باید په زړونو کښې پیدا کړي. د یوه ملت ژبه، کلتور او ملیت ساتل د خوشحال خان او فردوسي کار دی د سړیتوب او انسانیت درس نه باید رحمان بابا او سعدي خلکو ته ورکړي. د عشق او مینې هنګامه حمید او حافظ توده ساتلی شي د رومي او سنائي کار له بل چا نه پوره نه دی او د اقبال او تاګور ځای بل څوک نشي نیولی پور ښتیاني شاعر که په

ظاهره دلته له تاسو سره په توروخاورو کښې اوسي نظر ئې له کهکشا نو نه پورته وی او له ډیر هسکځایه الهامو نه اخلی . تاسی دغه ملکوتی الهام او اسمانی پیغام خوار مه گڼی ځکه دزړه شی ته په زړونو کښې ځای ورکړی ، کله چه زړونه کلکیږی یا توریږی نو شعر په کښې رقت او صفائې پیدا کولی شی . اوهغه څه چه انسان د مادیت له غلامۍ او بت پرستۍ نه ساتی هغه هم د شعر برکت دی . کوم سوز او گداز چه غیر دانسان له زړه نه بل دنشو نماځای نه لری د شعر په او ریدلو پرورش مومی او عارفانه ذوق ، حکیمانه شعور ، انسانی احساس دشعر په نغمو وده کوی . دمینی او محبت له عالم سره زمونږ رابطه شعر ټینګه کړیده او دنیك نظر علایق همدغه شی ساتی ، کوم قام چه شاعر نه لری هغه زړه نه لری ، سترگی نه لری ، عواطف نه لری او دذوق دتمنا له خونده محروم دی . شاعران داکولی شی چه د انسان فرعونی غرور په تواضع بدل کړی . یاد دوهی ځکه ملنګ ته د شاهجهان خوی او مړی سترگی ورکړی غم او سرور دشاعر هدیه ده چه له زړونو څخه ئې اخلی او زړونو ته ئې ورکوی ، دوی کولی شی چه له ډیرو وچو او کلکو سترگو نه بارانونه واوروی او په ویده زړونو کښې سمندری چپې پیدا کړی .

هو ! شاعر دا کولی شی چه دیوه ملت په افکار او خیالاتو کښې لوی تغیر او تحول پیدا کړی مگر شاعر پیدا کول یا شاعر کیدل څه آسانه کار نه دی ، دا کار دفطرت او قدرت فیاضی غواړی ، په یوه مملکت کښې به ډیر خلك وی مگر شاعر به نه وی . ډاکټر ، انجنیر ، فیلسوف ، مهندس ، معلم ،

میرزا، مفتي، افسر، سیاسي په مدرسه کښې پیدا کیدای شي مګر شاعر دستور او سپوږمــۍ له رڼا او دطبیعت ته ښکلا ته زیاته زړکړه کوي او الهاماتو ته ډیر محتاج دی.

علم او فلسفه له شاعر سره مرسته کوي مګر شاعـرانـه استعداد نه شي ایجادولی یعنې خیال لکه فکر تعلیمي شي نه دی او په هوچ تعلیم نه حاصلیږی.

شعر غیبي وارداتو ته احتیاج لـري او بل شان زړه بل شان سترګې غواړي.

عمرونه تیر شول مګر په پښتنو کښې بیا خوشحال او حمان پیدا نشول، په دی کښي شک نشته چه مونږ به له هغه وخت نه اوس ډیری مدرسي لرو او تعلیمي سویه به لـوړه شوي وي مګر شعر نبوغ ته ضرورت لري او په محض الفاظو او قافیه برابرولو څوك شاعر کیدای نه شي.

ځینې خلك به وائي چه په پښتنو کښې شاعـران زیات دی مګر ماسره داغم دی چه پښتانه شاعر نه لري یاد شاعر نبوغ او ظهور دپاره زمینه مساعده نه ده. د شعر مشق او پټی به ډیرونو آموزانو دلته شروع کړی وي، مګر د قدرت او فطرت داخوی دی چه له لکونو او کروړونو ځاځکو نه یو نیم ځاځکی ګوهر کیږی او بس. هغه شاعر چه افکار او خیالات یو ځوا او بله خوا اړوي او له بر عالم سره تعلق او رابطه پیدا کوي مونږ ئې دلته نه وینو او کـیدای شي چه هغه هم خپل ځان نه وي لیدلی! مونږ باید دشعر او ادب مشق کوونکي په خیږو ونه وهو او دغه تمرین ښه وګڼو ګوندی له دغو مروایرونه کوم لعل پیداشي او ددی لاری یو لاروی هغسې جلوه ولیدای شي چه کلیم په کــوه طور کښي ولیده او په هماغه قوت ئې د ساحرانو طلسمونه او فرعوني قوتونه مات کړل! «اصلاح ـ الفت»

# دشعر غرض او غایه

شعر دارسطو د تعریف له مخې «هغه قوت دی چه د داسې مقدماتو څخه مرکب وي چه د هغو نه په نفس کښې انبساط یا انقباط پیدا کیږي» یعنې په داسې پیرایه او اسلوب سره خبرې او کلام کول چه په نفس کښې خاص تأثیر وکړي. داسې چه یا خفګان پیدا کړي او یا خوشحالي نو دغه کلام ته شعر ویل کیږي.

نو ګویا په نفس تأثیر کول د شعر خاصه ده د ا تأثیر کول به یاد خوشحالۍ په صورت وي چه نن ورته کمیډي وائي او یا به د خفګان په صورت وي چه نن ئې ټریجیډي بولي. دارسطو په نزد شعر د یو فن نوم دی چه هرڅوک د افن زده کړي او په دغه ډول او رقم خبرې وشي کولی، شاعر بلل کیږي. شاید ارسطو شعر ته د کومې اسماني موهبې په صورت قائل نه وي لکه نن سبا چه دلته ډیر خلك په دغه عقیده ټینګ دی.

اوس راغلو دې خبرې ته چه آیا رښتیا شعر څه داسې قول و بولو چه د داسې مقدمو څخه مرکب وي چه په نفس کښې فوراً تأثیر کوي، نو ورپسې دا خبره په مخکښې ده چه مونږ اراد تاً دا کار ولې کوو چه په دغه شان خبرې وکړو؟ معلومه خبره ده چه د انسان ژوند او زندګي د انسان پورې تړلې دي، که انسان داسې یو فن زده کاندي چه د هغه په واسطه د انسان په زړه تأثیر کولی شي، نو فکر وکړئ چه دا څومره لویه کامیابي ده؟ د دغه فن په واسطه یو انسان کولی شي چه په بل هرقسم

لو بې چه وغواړی ویې کاندې . مګر دلته یوه بله خبره هم شته ، هغه دا ده چه په دغه مخصوصه طریقه اوړول خبرې جوړول د جوړوونکی د نفس د خاصو اوقاتو پورې تعلق لری. کله په دغه جوړوونکی داسې یو حالت طاری وی چه که هغه هماغه حالت په الفاظو نوروته نقل کاندی نو شعر شی او کله دغه کیفیت وجود نه لری نو هلته که مقدمات هر قسم وی موثر نه لوېږی :

نو په شعر کښې دوه جنبې موجودې دی: یوه ارادی او اختیاری ده او بله جبری او اضطراری . یعنې شاعر په ځان باندې حالت او جذبه په زوره نه شی راوستی . او چه راشی نو بیا شعر ویل یا نه ویل د ده خپل کار دی نو په اختیاری صورت سره شعر د تعقل د سیوری لاندې کېږی او د اضطراری ږوږې له خوا یو غریزی او له ځانه پیدا شوی صورت غوره کوی. د دغو دوه خبرو له کبله له پخوا څخه په شعر او ادبیاتو کښې دوه رایې دی .

چا ویلی دی چه ادب د حیات د پاره دی او چا ویلـی دی چه نه ، شعر او ادب پخپله مقصود او هدف دی یعنې دغه جمال چه په شعر او ادب کښې پروت دی دغه پخپله مرام دی .

کوم وخت چه انسان د فطرت له موره تولد شوی دی نو هغه وخت شاعر و په انفرادی حیثیت سره خو انسان چه له څه څخه متاثر شو او په ده جذبه او کیفیت طاری شو او دغه جذبه او کفیت د الفاظو په قالب او صورت کښې مرتسم شو ، داسې چه د غوږو له لیارې یې په بل نفس کښې بیا هماغه جذبه پیدا کولی شوه نو بس شعر دی نو د هر احساس انتقالول یا د انتقال اراده کول بیشکه د هغه یو انفرادی

انسان د پاره ښايي چه د نورو انسانانو د غم نه بېغمه وي، خو بس چه کله يې سرې شونډې په زړه وور پرېدې دستي ور پورې شعر وتړي او بل هم په دغه بلا ککړ کاندي. له دغه رقمه تورې زلفې ، سره اننګي ، سپينې ليچې ډك غبغب بوس وکناو ، د هجران او وصال شپه عالمونه لري . چه شاعر ترې هيڅکله نه شي وزګار پېداى !

مګر يو سامع چه هغه د ځان په غم اخته وي او لاديې مړ وي . په ګېډه وږى وي . د ظالمانو د لاسه يې مرکنډې ماته وي . په وينو کښې ډوب ناست وي .

ياداسې يوه ډله چه په دغه ډول آفاتو باندې مبتلا وي هغه به ستا د کاکل ترانې څنګه واوري ؟ او ته به نه شرمېږې چه په دغسې يوه ډله کښې چه له درده او المه ژاړي سرې سترګې ناست وې ، او تا ورته د تورو زلفو نه قطع کېدونکې سلسله رانيولې وي .

دا په دوه صورته کېدى شي : چه يا دا شاعر چور ليونى او د جماعت له شعوره کاملا غافل وي ؛ يا دا چه و وايي زه په ګېډه موړيم ستاسو پروانه لرم . زمانور څه ته ضرورت نشته يو څه تفريحي او د ساعت تيرى شي راته پکار دي ، او دا کار له شعره واخلي .

او که په ماته کشتۍ سپور وي او طوفانه يې په مخکښې وي ، او د ديې وينې او د نورو ملګرو نه دده حواس تيز هم وي نو څنګه به په دغه وخت کښې دى خپل ساعت په تفريحي شيانو او د مړى خيټې په پاړسې ويلو تير کاندي .

هر چا ته خپل غم زورور معلومېږي . وايي چه ديو لوى خان ځوى مړ ؤ او ډېر خلك ور ته راغونډ ؤ او فاتحه

یې ورته کوله، نو ده په مجلس کښې یوه ته مخ راستون که
وېل یې فلانیه په غمونو کښې ګوم غم ډېر زوروردی؟ دخان
مدعا داوه چه دی به و وایې چه دزوی دمرګ غم زوروردی
او دده د خبرو تمهید به شي مګر مخاطب چه غریب
او وږی سړی ؤ وی وېل: خدا نه! د ګېډې
غم تر ټولو غمونو زورور دی. هغه وېل څنګه؟ ده وېل
داسې چه اول غم دنس دی چه سړی په خپل دغه غم اخته ؤ نو
اولاد ئې لاهم هېر وی!

شعر او ادبیات احساساتو پورې تعلق لری او احساسات
هم مدارج لری. لوړ او ټیټ. که څوك شعر دخپلو ټیټو
احساساتو ائینه ګرځوی نو ودی ئې ګرځوی.

مګر دجماعت مجلې او جراید چه دجماعت دروح تمثیل
کوی هغه باید نشر نه کاندی هر څوك دخپل غرض دپاره
کار کوی. شاعر څوك نه شی منع کولی چه دی دی خالص
تغزلی شعر نه وائی، وائی دې؛ مګر دا قسم شعر چه جماعت
ته فی الوقت نه په کار یږی باید وسائل شی نه نشر؛ زما
عقیده داده چه لکه څنګه چه د تیر عمومی جنګ په ورځو
کښې ډیرو ملتونو د «هر چیز برای جنګ» نظریه پاس
کړی وه نو مونږ هم په دی وخت کښې «هر څه د ملت ملت دپاره»
ومنو او په خوشی خبرو ساعت تیر نه کړو او په هره
کنده کښې و نه څغلو. مونږ په منبر ختلی یو او د بیدارئ
چغی او سوری وهو. هر څوك چه مونږ ته دا د بیهوشئ
ګولی جوړوی او را کوی ئې دغه کسان زمونږ داجتماعی
پروګرام او د ژلمیانو داخلاقی هدف سره تصادم کوی.
که مونږ یوازی ددغسی خلکو سره فقط د تندی تر یوه لو

کار کوونو داهغه د ترك موالات فلسفه ده چه په شرق کښې خورا مفیده او کارګره ثابته شوی ده . که نه نو لازم خو دادی چه مونږ دغه د بلې چه دا ګولي پکښې دی مات کړو او دغه ګولی سینه ته واچوو .

دغه شاعر چه مونږ ته محض غزلي وائی . دا زمونږ په اجتماع او ټولنه کښی ځان دا خل ګڼی که خارج ؟ که خارج وی زمونږ کارو سره نشته . هغه به خپل کار کوی او مونږ به خپل کار کوو او که دا خل وی نو دی و لی دومره بی ذوقه بی شعور او دومره مړ ژواندی دی چه ټول جماعت یو قسم ناله او شیون کوی او دی په همدغه ډله کښی ناست دی ، دخپل شوق او ذوق سرغږ وی او سندرې وائی . احساس ولی نه شی کولی چه خلك د آزادۍ په وزر اسمان ته وختل اود فو لادو کلك کلك زنځیرونه او سیخونه ئی مات کړل مګر دی لا همغسی دزلفو په دام ګیر دی او پړ کیږی .

شعر او شاعری په دنیا کښی ډیر مراحل طی کړی دی او خورا ډیر تحولات په کښی راغلی دی مګر زمونږ شاعر همغسی د قرون وسطی په اصولو د کنایې او استعاری په شاوخوا کښی لګیادی دزلفو خخه دامونه جوړ وی اودا لوی کمال ګڼی !

شعر د احساس او شعور د تبدلاتو سره بدلیږی زمونږ احساس او شعور کښی بلاشك تغیر راغلی دی اما متاسفانه زمونږ په شاعر کښی تغیر نه دی راغلی . دلیل څه دی ؟ دلیل دادی چه دی د قرون وسطی د شاعری کلاسیکی دیوانو نه لولی او د نوی دنیا او نوی عالم مطالعه نه شی کولی خو پښتنو

شاعرانو دد نیاد تجد د کاملاً احساس کړی دی اود شعر رجحان او مخه او بښتی ده مګر څه وکړو چه د زړو مغزو خاوندان دا یوټکی مونږ ته تکراروی چه «شعر احساسات بدیعه په شور راولی» او د دوی بدیعه احساسات فقط په «کاکل پریشان او چشم خواب الود» کښې منحصر دی .

مونږ دا منو چه د شعر او ادبیاتو محرك او سایق لکه څرنګه چه ډاکټر فروئید ثابته کړی ده جنسی غریزه او عاشقانه تمایلات دی ولی دې ته حیران یو چه همدغه شی په هند کښې «تاج محل» په وجود راوستی شی ، په اروپا کښې د مللو او اقوامو بناګانی دړولی شی ، په شرق کښې خلك ور باندی د مادی عشق نه پاك او بی آلایشه محبت ته رسیدی شی مګر زمونږ اوسنی شاعر دومره ټیټ شوی دی چه نه د حافظ د شعر هدف پیژندلی شی او نه د رحمان او خوشحال د شاعری تحلیل کولی شی . زه په دی باب کښې ډیری خبری او ډیری شکوې او ګیلې لرم د کلام د طوالت او د مخاطب د ملالت نه په ډار کښې یم زیات څه قصداً نه وایم چې [illegible] چه زمونږ د حیات اصلاح او تحول د شعر او ادبیاتو د اصلاح او تحول پوری یقیناً مربوط دی . زه په همدغه پور ته مجملو خبرو کفایت کوم لیکن یو سوال پاته کیږی هغه دا دی چه که شعر او ادب ته د استخدام په سترګه وکتلی شی نو خپل جمالیاتی هدف به بایلی او «ادب برای ادب» او «شعر برای شعر» د فن تکامل او ارتقاء د پاره لازم او ضروری معلومیږی داخبره اساسی ده مګر لنډ جواب ئې دا دی چه «که چا په د سرو د ه د څیګر د منلو خو نه ده» .

موږ د اجتماع او ټولنې په ضرر او نقصان دفن کمال
نه شو اخستی ! «وسله هماغه ده چه په لاس راشی» لکه
څنګه چه موږ دموټر، راډیو، لباس او تعمیر په ټولو
شیانو او فنونو کښی د نوی تحول کولو په فکر کښی یو
تش دد نیا د ساخته او بافته مودونو څخه جدید ترین خوښوو
او په کار ووئی نو شعر او شاعری هم دغسی یو فن دی په
دنیا کښی چه دې فن څومره ترقی کړی ده عجالتاً هماغه
مترقی صورت د ملی فائدی د استخدام دپاره غواړو. هو!
دفن د کمال سره ایده آلستی افکار تضاد نه لري. کیدای
شی چه کامله درجه فنان کامله درجه ایده الست هم وی
لکه ډاکټر اقبال، ډاکټر رابندرانات، ټاګور یا جبران
خلیل، جبران یا برنارد شاؤ او دغسی نور ډیر اهل فن
شعراء او ادباء. غواړم چه نور دلته خپل بحث تمام کړم.
زمن با شاعر رنګین بیان کوی.

چه سود از سوز اګر چون لاله سوزی
نه خود را می ګدازی ز آتش خویش
نه شام درد مندی بر فروزی

✲ ✲ ✲ ✲

# ادب او حیات

خان محمد ایوب خان (دادب مقصد) دعنوان لاندی پر ادبیاتو عالمانه او وژوره تبصره کړی ده چه زما ډیرو دوستانو له ما نه پرهغی باندی دخه لیکلو داسی خواهش وکړ چه ما نه شو ردکولی. نوسره دهغه ګریزه چه ماه د(بی مقصده ادب) شخه (عملی تضییع اوقات) ته کړی دی مجبور شوم چه په دغه موضوع قلم را پورته کړم. قدرتا زما دا ګریز دخان دهغه ګریز په شان دی چه ده دعملی بی ادبی په وجه و بی عمله ادب ته اختیار کړی دی.

زما دا خبری دمفاهمی او تلاش حق پر اساس مبنی دی او بس زما په فکر په وروستنیو قرونو کښی دپښتنو ناکامی دحیات په ساحه کښی وقط او فقط دی ته راجع ده چه زمونږ د مشرانو عمل له ادبه خالی ؤ او ددوی میل او عشق اصل او بنیاد هیر کړی ؤ. فروعات ئی په نظر کښی نیولی وو.

خان دادب دمقصد دښودلو نه مخکښی دادب او ژوند کی په تعلق شروع کړی ده او ډیر ډار وین دارتقاء او فروید دعلم النفس داصولو پر اساس ئی دژوند مقصد د تنازع للبقا او د فطرت د کتاب دپاڼی اړولو شخه ئی دبقا دپاره دغه مسلسل کوښښ ددائم تخلیق او جنسیت په صورت ښودلی دی، دی وایی چه دمحبت فلسفه یا داقدام بنیاد پرهمدغه جنسی غریزه ولاړ دی. نو هر کله چه تخلیق دفطرت لایتغیر قانون دی او انسان هم دفطرت مخلوق او دهغه دلاس آله ده ناچاره په انسان باندی دا قانون چلاوه شی خو دغه مجبور انسان هغه وخت اختیار پیدا کړی چه په تخلیق

کښې راشي نو کوم وخت چه دانسان دغه تخليقي کوششونه
د تاريخ د تسلسل په رنګ کښې په نظر کښې و نيوۀلی شي نو
د تمدن تاريخ تری جوړيږی چه څينې خلك پکښې کامياب
او فوزو فلاح ته رسيدلی ښکاری او څينې پکښې خاسر او
خاذل او نامراده ليدل کيږی .

خان وايي : د انسان په فطرت کښې پر نورو باندی
د تفوق خواهش موجود دی چه ددی خواهش نه دعمل په
ميدان کښې دافرادو باهمی مبارزه شروع کيږی په دغه
حياتی مبارزه کښې ناکام خلك ګريز ته مجبور ريږی او
بيا دغه ناکام خلك دسر پناهی دپاره دادب چار ديوالی ته
ور ننوزی نو پر دغه اساس سره دشاهد اوشراب يادتصوف
دادب ميدان ګرم شوی دی .

نو بنا پردی اديب يو کمزوری سړی دی او يا سړی هغه
وخت کمزوری شي کوم وخت چه اديب شي . نود حقيقت
څخه ګريز دادب دوهم نوم دی . او اديبت او فرار دوه
مترادف الفاظ دی . خو په هر صورت ادب کله دتفريح طبع
او کله دتهذيب نفس دپاره وی ، اودا يوه انسانی وظيفه
ده چه ددی دواړو په منځ کښې تميز وکړی .

دخان په تير بيان کښې داستفا دی ډير ټکی شته او يقيناً
د نن عصر غربی مفکوره د حيا تـی فلسفی پر همدغه
بنيا دو نو ولاړه ده . تنازع للبقا ، بقای اصلح ، هر
کمزوری دزور ور دپاره قربانيږی ، زورحق دی ، حب
ذات ، اوهر څه دحب ذات دپاره کيږی ! دادنن عصر مشهوری
مسئلی دی .

مګر هره مشهوره خبره حق نه شي کيدای زر ګونه

کاله او پېړی مخکښی مها تما بـد ، حـضرت سقراط او حضرت عیسی علیه السلام درحـم ، عاطـفی ایثار خـود فراموشی اوعدم تشدددرس ورکړی دی دشلمقرن مغربی فلاسفه ؤلکه نیټشی اوداسی نورو دحضرت عیسی هدایاتو ته د انسانی ضمیر د ضعف او کـمزوری څخه پـیدا شوی افکار وویل اوپه شدت سره ئی ور باندی حمله وکړه مګر ګاندی چی په شلم قرن کښی ددغی مفـکورې څخه د یو داسی مقتدر مادی قوت په مقابل کښی هغه کار واخیست چه خپله مادی دنیاورته داحترام سرټیټ کړ . اوس که څه هم ټوله دنیادحب ذات او تفوق جویۍ اوزور ګوۍـی پـر خوا ولاړه ده مګر مونږ وینو چه په انسان کښی دحب خیر غریزه هم شته ، او انسان ورنه غافل شوی دی .

ډاکټر فروید که څه هم دحیات دفعالیت مبداء جنسی غریزه ښودلی ده چه د افرادو باهمی تصادم ته منجر کیږی مګر دهغه رشید شاګرد ډاکټرادلر ور باندی انتقاد کړی دی او دژوندګۍ دفعالیت منشأئی د«ارتقاحس» ښودلی دی او اخرورنه دار اوځی چه یو ترقی خواه انسان دی نوروسره ارو مرو تصادم وکړی ځکه چه ترقی په خپله لاره کښی مخکښی تګ تـه وایـی .

او دا بی له تـصا دمـه هم کـیدای شـی او قـدرت دا غـریـزه پـه انسان کـښـی ځـکه ایـښی ده چـه انسان دلا یتـنا هـی ارتـقـائـی مـدارجو پـرخوا روان اودژوندګۍ هنګامه ترابده توده اوسی !

داچه ادب دفرار نتیجه ده اودحقیقت څخه ګریـز تـه ادب وائی او ادیب یو کمزوری سړی وی وغیره ، د دی

نه‌داسې معلومیږي چه (خان) ادب ته په محدود نظر کتلی دی او که ادب ته په لږ وسیع نظر وکتلی شي نو ادب هغو مره وسعت لري لکه څومره چه زندګي وسیعه ده ځکه دا خو خپله خان هم منلې ده چه ادب د زندګۍ تصویر یا تفسیر دی . او څیوشی کامل تصویر یا تفسیر خود هماغه شي سره مساوي وي .

بله داده چه په انسان کښې دوه شیونه دي :-
دماغ او جوارح ، تفکر او تعقل ، تحسس او اد راك خو د دماغ کار دی . کار ، فعالیت کول او اجراء په جوارحو اړه لري . نو په دغه لحاظ سره انساني حیاهم ت دوه برخی لري ، نظري او عملي ، حیات تر څو چه د فکر ، تعقل ، وینا او لیك چه ساحه کښې وي نو ادبي حسابیږي او کوم وخت چه د کولو او عمل میدان ته راشي نو بله جامه وا غو ندي .
یوازي د حافظ . ټاګور ، خیام رحمان بابا او مولانا بلخي کلام ، ادب نه دی ، بلکه ټول هغه نظم او نثر ، فن او علم انشأ او کتابت چه افکار له یو انسان نه بل ته نقلوي ادب دی ، خپله سائنس چه که په کتابي رنګك کښې وا خستلی شي علم دی چه د ادب جامه ئې اغوستې ده . زمینی کتابونه خو لاخه کوي تورات ، زبور ، انجیل او فرقان هم د ادب شان لوړوي پخپله قرآن کریم یوه ادبي معجزه ده . ګیتا ، څلور واړه ویدونه اود زردشت او کنفیسیوس وینا وي او اودار نګه ټولي خطابي او بدیعي خبرې بهترین ادبي آثار دي .

کوم وخت چه حضرت عیسی (ع) د خپلې مور سره له مصره فلسطین ته راغی او هلته کلی په کلي ګرځیده او تبلیغات

ئې شروع کړل چه څوئې یو ماهیګیر ته دوند په غاړه وویل:
دا ماهیان څه کوی چه نیسی یې، راشه د خلکو د زړو نود
نیو لو دستور یاد کړه. بیا یې ور ته خپل پیغمبرا نه تبلیغ
ورساوه او هغه ور باندی ایمان راوړ. بیالا پراو یو محصول
اخستو نکی سړی ئې و مینه او هغه ته ئې خپل تبلیغ
ور ساوه او هغه هم ور باندی ایمان راووړ. هلته نو دا
تبلیغ یو لوی قوت نه ؤ چه خدای تعالی ور ته اعطا کړی ؤ؟

کوم وخت چه زمونږ پیغامبر (صلعم) په یوه سر دټولی
جاهلی او ظالمې دنیا اصلاح ته ملا تړله نو هلته که خدائی قوت
ده ته بې دادب له شکل نه په بل صورت ور کړی شوی ؤ نـو
هغه به څه شی ؤ؟ په دغه شان سره (خدای تعالی) ټولـو
پیغامبران او مصلحینو ته یو لوی قوت چه د خلکو د اقناع
او اصلاح د پاره ور کړی دی هغه ادبی قوت دی چه په دغه
واسطه سره خلک دهدایت سمی لیاری ته را بلل شوی دی،
لوی لوی شعراء مفکرین او صلحأ چه په دنیا کښې د څه اصلاح
او تغیر موجب ګرځیدلی دی، هغه ټول دادب، قلم او بیان
خاوندان دی.

په حدیث شریف کښې دی «اول ماخلق الله اللوح والقلم»
یعنې له ټولو اول (خدای تعالی) لوح او قلم پیدا کړل. دغه
دلیل دی چه حضرت مولانا بلخی ویلی دی «شاعری جزوی
است از پیغمبری»

دمولانا دا کلام ددی حـدیث شریف مفهوم بیا نـوی
«الشعراء تلا میذ الرحمن» شا عـر ان د خـدای
شاګـر دان دی. البته و هـم او خـیـا ل پـر ستی
دروغګوئی په هر صورت بده ده له شاعره وی او که له غیر

شاعره . نو اوس دې دفکر خاوندان پخپله قضاوت وکاندی چه که ادب حقیقت اوقوت نه وی نو څه شی به وی؟ - او هر کله چه ادب پخپله حیات یادحیات یوه ټوټه ده نو څنګه سړی ویلی شی چه ادب له ژوندګی او حقیقت څخه دفرار نوم دی . مونږ په دی خبره هیڅ نه شو پوهیدی چه ولی دتن اوګیلړی او نفسانی خوهشاتو لکه تکبر، غرور او تبختر پوره کولو ته حیات وو ایو، او جمال پرستئ او عظمت ته سر په سجده اینبودلو ته دحیات نه ګریز! سره ددی چه دا هم فطری تقاضاده. په دی خبره هم خلك غلط شوی دی چه دحافظ او خیام شعر ته دشاهد او شراب او درحمن، ټاګور او رومی شعر ته دتصوف شعر وایی . زه وایم دا ټول ژوندګی ده . دژوندګی فلسفه ده او دژوندانه تصویر یا تفسیر دی . دغه مخصوص رنګك او قالب فقط دکلام ډیر تاثیر اچولو او رنګینی دپاره غوره شوی دی . وګوری دد غه شعراؤ په کلام کښی څومره عبرتونه او حکمتونه پراته دی ؟

« بیا تا ګل بر افشانیم و می در ساغر اندازیم
فلك را سقف بشګافیم و طرح نو ر در اندازیم»

هو! په دنیا کښی څه داسی کسان هم تیر شوی دی او تیریږی چه دهغو عمل له ادبه خالی دی. لکه اتیلا، چنګیز هلاکو او داسی نور - مګر دا دحیات هماغه نیمګړی خوا ده چه دټولو انسانانو ضمیر او وجدان ورنه اباکوی .

دټولو نه نوې او غټه خبره داده چه یوازی انسانی حیات نه بلکه په ټولو کاینا تو کښې ادبی رنګك لیدل کیږی که کاینات دتجزیی او تحلیل له خوا وګورو نوذره ی او ایټم ته رسیږو او که دوسعت او عظمت خوا ته لاړ شو نو افلاکو او شموسو ته رسیږو او ګورو چه په ټولو کاینا تو

کښې یو نظام چه شمسي نظام یې بولي جاري دی .

په اینم کښې له هستې نه چاپیره الکترونونه او په افلاکو کښې اقمار له شمسه او بیا هر شمس له خپلو توابعو اقمارو سره دیو بل شمس نه گرد چاپیره څرخی ، او مرکز دجاذبې په قوت سره خپله سلسله ساتي . هلته هیڅ زورور کمزوري نه خوري او نه یې هلاک ته ورکوي بلکه که احیاناً داسلسله خطا شي نو هلاك او تباهی طاری کیږي نو آیا انسان له دی نظامه کوم وتلی شی دی ؟ چه دلته به داجتماعي مرکز چه شاه وی که حکومت ، بی له تنظیم او نواداری نه بله خوا چه تخریب ته منجر کیږي نیسي ؟ او که دالیاره ونیول شي نو دکایناتو ددغه حاوي قانون نه به پرته بله نتیجه ورکاندی ؟ بلکه د کایناتو نظام دار تقاً او تکامل خواته هدایت اورهبري کوی ، نه د تخریب او تباهی خواته . کشمیري غني وایی :

«مغان که دانهٔ انگور آب می سازند

ستاره می شکنند آفتاب می سازند»

نو معلومه شوه چه ادب حیات دی او مرام یې عمران او نظام او ارتقاده او دامنه یې دومره وسیعه ده لکه څومره چه حیات او کاینات وسعت لري داؤ زما دنظریاتو اختصار الحمدالله وسلام علی عباده الذین اصطفی .

# د ملیت علمي تشریح

که په غور خپل و لس ته ځیر شو نو دا به راته څرګنده شي چه په دې څو ورو سیتیو کلو کښې یو لوی فکري تحول پکښې پیښ شوی دی هر چیری چه څو کسه سره پیښ شي معلم وي که متعلم، مامور وي، که دوکاندار سم دلاسه خپل یا د جهان اجتماعي اوضاع د بحث میدان ته راغورځوي. خپل او پردي حال سره څیړي د جهان په لویو اشخاصو، رهبرانو او لیکوالو تبصري کوي. یو یې ښه یادوي بل یې بدوایي. یو یې د حق د لاري پیرو بولي، بل یې د نفس د خواهشاتو مرید. یو یې اجتماعي خدمات شمیري بل یې خبط او خطاوي. یو بل په دلایلو او براهینو سره قانع کوي او له خپله بحثه نتیجه سره اخلي. مقصد دا دی چه نن ورځ لکه پخوا سړه او توده هوا، یا د فلاني آس او ګاډۍ د بسمندان سپي او پیشي یاد ها بل لنګر او ډوډۍ د بحث موضوع نده. بلکه د انسان بشري صفات د اجتماعي او ملي خدماتو په مقیاس د مباحثې ډګر ته راوتلي دي. هیڅ یو مطلع سړی د یو ملت د مادي ترقۍ له مزایاؤ څخه انکار نشي کولی هیڅ یو د عقل او شعور خاوند به پیدا نشي چه د ښکلو ښارو، د لویو فابریکو د منظمو هوسا لارو او سړکو، د لوړې ملي حیاتي او اقتصادي سویې آرزو نه لري. مګر زه فکر کوم چه تر دې ډولو نه لمړی هغه فکري تحول او هغه اجتماعي حالت ډیر د خوشحالۍ وړ دی چه سړی ووینې و لس یې د جامعې

سره علاقه او مینه لري . د ملت په خیر او شر په هسکه او ټیټه کښې ځان شریك بولي او د واسي او ملي رهبرانو او لیکوالو کړه وړه څیړي ، نه غواړم چه ددې اوضاع د نتایجو او اجتماعي مفادو په وینا مو سر وخوږوم مګر صرف دخپلې ادعا د اثبات دپاره دومره وایم چه ډیرو جوامعو ته د مادي ترقي وسایل میسر شول . دوسپنې خطوط په کښې وغځیدل ، لویې ماڼۍ ، ښایسته ښارونه ، په کښې جوړ شول ، فابریکې پرانیستلې شوې خو چه ولس کښې یې اجتماعي حس نه ؤ ملي مفاد یې نه شوای پیژاندی د هر چا نظر فقط په خپله ګیډه او خپل کور کهول ؤ نو نتیجه یې هغه شوه چه دوسپنې لهپټلیو او د فابریکو له فولادو ځخه یې ، بیلونه او سپارونه او یادتشناب نلونه جوړ شول ، شته او هستي یې تالا شوه او ملي جواهر یې په شخصي هوسو ولاړل .

ځوورځې پخوا په یوه مجلس کښې د اصلاح اقتراح (ملیت او بین الملیت) ۴۴۴ داد بحث موضوع وه له یوې خوا دا اقتراح یوه ډیره د ستایش وړ او هغه بل (دیوه غټ سړي د وینا په استناد) بې موجبه بلله . یوه ویل چه رښتیا دا لمړی پلا ده چه په اصلاح کښې داسې یو مضمون د بحث او اقتراح میدان ته راوځي ، بل ویل دې موضوع کښې علما ؤ ډیر کتابونه لیکلي . . .

مونږ فطرت تامل پرست یو . . . ، نو د دې مضمون لیکل بې مورده دی . دا بل ورته راسم شو ، ویې ویل رښتیا چه علماؤ په دې موضوع کښې او ډیرو نورو موضوعاتو کښې کتابونه لیکلي دي که مونږ د جهان کتابونه پسې

را وپلټو داسې یوه معمولي خبره به هم پیدا نشي چـه په امریکاء یا اروپا او یادجهان په بل ګـوټ کښې په هغې خبرې کوم کتاب یارساله نه وي لیکلې شوې. نـو په دې اساس مونږ باید هیڅ و نه لیکو چه مبادا دانږې د کوم مولف پرحق تجاوز و نه شي .

همدارنګه دایقیني خبره ده چه د ملت او بین الملیت موضوع په درستو وینو ممالکو کښې خیرل شوې، کتابونه پرې لیکل شوي او یا لږ ترلږه ترجمه شویې دې او جامعه په دې مهمو موضوع عا تو پوهول شوي ده مګر زمونـږ په مملکت کښې چه تراوسه په دې خبره تالیف لا څه چه کومه وړه رساله هم نه ده ترجمه شوې په سلو کښې مو یو سړي هم په دې موضوع ښه نه پوهیږي نوځکه اجـازه نه ورکوې چه یوخادم راپیدا شي او کومه کوچنۍ مقـاله داولس تر غوږو ورسوي دا چه وایي مونږ فطرتا ملـت پرست یو نو بین المللي موضوع کښې ګډیدل خدای مکړه زمونږ د پحس ته ضرر پیښوي ډیره د تعجب خبره ده !

اول خو بین الملیت « اینټر نا سیو نا لستي » او ضدملیت ( اینټي نا سیو نالستي ) دوه بیل موضوعات دي یعـني بین الملیت د ملیت د ضد معنی نلري .

بله دا چه له بلا څخه د ژغور لاره دا نه ده چه د خـپل خوا خوږ ي لاس او پښې ستر ګې او غوږ و نه و روتړي ، بلکه د ګمراهۍ نه یکانه ناجي علم او پوهـه تحقـیق او مطالعه ده او بس . دجهان په بیدیا کښې هغه څوک جل وهي او تباه کیږي چه د سراب له خواصو خبر نه وي په هر تقدیر دامباحثه اوایراد که د شخصي نقا ضت په اساس

ؤ او که بې له کومه غرضه ؤ دفکر وړ وځکه چه د ایراد او انتقاد اسرار آمیزه خاصه‌داده چه‌یوې ډېری کوچنی او بې اهمیته‌موضوع ته‌هم‌دخلکو ورپام کوی‌او بې له انتقاده ډېرې لویې او مهمې خبری ته‌سړی نه‌متوجه کیږی !

نودا مسلمه کلمه ده‌چه انتقاد که‌پرځای وی‌یا بېځایه په دواړو صورتونو دجامعې په خیر تما میږی . په اول مورد کښې انتقاد دسهوې اوخطا دخبط اوخیانت مقتدر راګرځوونکی دی‌او په دوهم مورد کښې لوموړی د یوه فرد خیر خواهی ته‌یوخه صدمه‌رسوی مګر له بلې خواچه دخلکو توجه موضوع ته جلب‌شوه ،حقیقت ښکاره کیږی او ډلی ته‌دهغه فردقدر او احترام لازیاتوی .

همداخبره ده‌چه دجهان یوه پیاوړی شخصیت ویلی دی‌چه که‌په فرض دمحال څوك داجتماعی خدمت په‌ډګر کښې مخالفه ډله‌ونلری نوښایی چه‌دا جنبه له‌تیبری او لرګی څخه‌جوړه کړی .

په‌اوله کښې‌چه دملیت او بین المللیت موضوع اقتراح ته راووته زماقصد دانه‌ؤچه زه دې هم‌دا بحث و څېړم مګردی پورته مباحثی اړ کړم چه‌یو څو کرښې ولیکم .

ملیت او بین المللیت :

ملیت په هغه مفهوم چه نن ورځ یی د نیا پیژنی کومه زړه خبر نده او خصوصاً ددی کلماتو شیوع زمونږ په وطن کښی ډیره تازه ګی لری . مقصد د اند ی چه منظم اجتماعی ټولګی چه په معینی خاو ر ی کښې زیست کوی تریوه بیرغ لاندی راټولیږی ، دولتی منظم تشکیلات لری داکوم نوی شیان دی ، دپښتون قوم څو زره کاله پخوا (داسترابو ن اوهرودت په قول سره چه په خپل عصر کښی دجهان پیاوړی علمی شخصیتونه ؤ ) په همدی خاوره کښی ژوند کاوه ، دخپلی زمانی سره سم یی منظم تشکیلات لرل منتها د افغانستان نوم آریانا ؤ ، سیاسی حدودیی دومره نه ؤورانغښتل شوی یوې خوا ته یی اباسین بلې خواته یی پارس پاپرزلیس ؤ . شمال ته یی جیحون (آمو) او جنوب کښی یی بحر پروت ؤ . دافغان اوسنی جامعی وجود در لود خواسا س دتشکل یی ملت نه ؤ یعنی د ملت پرستۍ په محور نه ؤ را ټول شوی بلکه په هغه زمانو کښی او بیا حتی ترڅو کلو را په دی خواددی خاوری بشری کتله دیوی کورنۍ اویا دیوه مطلق شنهنشاه ترقیادت لاندی را ټوله وه اویا دیو جهانګشا تر بیرغ لاندی دریدلی وه دا اجتماعی سره وضعه یوائحی زمونږ دجامعی په برخه شوی نه وه بلکه دجهان ددرستو اوسنیو مللو خاصه هغه ورځ همداوه . دبلخ امپراطورۍ اود بګرام ستر ټولواکی د کابل شاهیانو ، غزنو یانو او غور یانو .. هری یوی کورنۍ ترهغه دخوند شهنشاهی چلوله چه اهل اولایق

کسان ئې درلودل په مجرددې چه به یو بې کفایته ټولواک په تخت کښېناست یو دلاس لاندې حکمدار یا همسایه پادشاه به پرې یرغل راوړ هغه به ئې ورك کړ. او اول به په رضا اورغبت ددې نوی دقدرت خاوند فرمان بردارؤ. فدا کاری اکثراً دشخصی اغراضواو یا دیوه فرد دپاره وه نه دیوې سپېڅلې مفکورې (ملیت) په خاطر!

بابر له فرغانې راغې پښتنو په کابل کښې د هند د امپراطورۍ اساس ورته کښېښود، لرې به نه ځو په ۱۸ او ۱۹ ع پېړۍ کښې ورورډو رور، پلار د زوی، زوی د پلار، تره دوراره او وراره دتره په مخ توری راوویستې د کابل، کندهار، فراه، اوهرات، بلخ اومزارمیدانونه یې دیو بل په وینو ګلګون کړل داځکه چه زمونږ داجتماع محور فردیت اوقدرت پرستې وه نه وطن دوستې او ملت پرستې!

دملوك الطوايفې، یا خان پرستۍ لمن د ۱۹ پېړۍ په آخر و کلو کښې په ډېر شدت سره ورټوله شوه درست قوتونه قلع او قمع شول. او مرکزی قوت په ټول مملکت کښې سلطه ټینګه کړه.

د شلمې پېړۍ په ابتدا کښې لومړی ځل دملت پرستۍ پلوشې وطن ته راولویدې دملت پرستې رڼا د افکارو تنویر دوطن میدان ته راوؤت. تعلیم او تربیه، نشریات او تبلیغات ورو ورو شروع شول .. د قوم پرستۍ بنا دملت پرستۍ خواته توسعه و میندله ترڅو چه لومړی ځل دملت پروری عالی اومقدس روح داستقلال په جنګ کښې مجسم تبارز وکړ! ددې خاورې ځمریو ړومبی د لوی

تاریخ پهٔ ادوارو کښی ډیری مجاهدی کړی دی ډیری
وینی ئی توئی کړی او د ډیرو وینی توئی شوی دی پردی
خاوری ئی پهٔ خپلو وینو ګلګونی کړی او خپله خاوره
ئی د دښمنو پهٔ وینو رنګینه کړی. مګر د استقلال مقدسه
مجاهده د معنی پهٔ لحاظ له هیڅ یوی بلی جګړی سره
مقایسه کیدای نهٔ شی. ځکه چه دا هغه وخت ؤ چه دښمن
ظاهراً د پښتنو پهٔ خاوره تیری نهٔ ؤ کړی، د پښتنو پادشاه
آمر، او مامور درست پښتانه وو، له پښتنو کوم پردی
باج او خراج نهٔ غوښت دوی آرام او آسوده پهٔ خپلو کورو
کښی له خپل کلی کور سره ژوند کاوه، مګر یو ناڅاپه
هیجان او شور ورته پیښ شو توره او توپك، تبر او چاړه
ئی سره را واخیستل د وطن پهٔ جنوبی او شرقی سرحدو
کښی د دښمن د توپو او طیارو، ماشینګڼو او بمو پهٔ مقابل
کښی و دریدل. دوی څه غوښتل؟ آیا د غوریانو او
غزنویانو برم او جلال ئی پهٔ زړه شوی ؤ؟ آیا د احمد شاه
او زمان شاه هوائی پهٔ خاطر کښی ګرځیدلی وه نه نه. د دوی
غایه له دی واړو څخه ډیره لوړه وه
د دوی مقصد ډیر مقدس او سپیڅلی ؤ دوی د ملی
حریت او سیاسی آزادئ پهٔ معنی پوهیدلی ؤ او د دوی استقلال
او خپلواکی غوښته له نر او ښځی، له قلم او کاغذ له توری
او توپکه د حریت او آزادئ ناری ختی هغه څوك چه
ملت پرستی زموږ فطری خاصه بولی ګمان کوم چه یا
سهوه کوی او یا د خلکو خوشحالول غواړی، یو لیکوال
چه د جامعی د طبابت سمت لری نو د یو پوه او صادق طبیب
غوندی اول د ناروغه رنځ کشفوی او بیا ئی علاج ته ملا تړی، ترڅه

دوا ور کوی او کله ، کله یې پېچ کاری او اپریښن کوی هم له
دی هیڅوك انکار نشی کولی چه پښتانه که څه هم اساسی
تعلیم او تربیه نه لری افق نظر ئی هم نه دی وسیع شوی خو
بیا هم قومی حس پکښې دومره قوی دی چه کله کله هر
یو فرد دخپل قوم په مخ کښې له سر او مال نه تیرشی ، او بیا
هم دا حس دخارجی خطر په مقابل کښې په یوه ملی حس
بدل شی چه د تاریخ پاڼی ئی له مثالو ډکی دی .
په پښتنو کښې یو متل دی چه : تربور ته دی خدای بې وروره
مه کړه ورور ته بې زویه مګر هغه پښتانه چه یو وار یوه شول یو ځل
یې افق نظر وسیع شوه او دجهان په حال او په خپله ور ځ خبر
شول یو پلا دملیت حس ورته پید اشو دحق په مقابل کښې
پرهغوی دتربره او ورور ، دورور او ځوی فرق نه کیږی
هغوی ته ټول وطن خپل کور او درست وطندار ان ورونه
او ځامن ښکاری ، قومی ، نژادی طبقا تی او نور درست
.غټ وا ړه اختلا فات دملیت تر نامه قربانوی . په کراره
کښې خو دوطن دشپږو خواو خلق یو د بل له اجتما عی
حال څخه خبروی یو دبل په ښادی ښاد او په غم یې غمجن
وی اساس دټولنی او اجتماع ئی مجور دبحث او څیړ نی
وی ، مګر کله چه ئی دملی احساساتو سیند په څپو شی ،
زړه ئی له شوق او محبته جو ش وکی د وطن او ملیت
له پا کو کلماتو خبر ا خلی نو یو ر وحی عا لم ئی
احاطه کړی په خپلی اجتماع کښې فقط یو شی وینی ، یو شی
اوری ، او هغه یو شی څه وی؟ (ملت) دلویو ملی اشخاصو
او باعظمت سلسلو د کا ر نا مو په یاد ونه ئی زړه
باغ شی دوطن د بدبختیو دعا ملینو دخار جی او د اخلی

غاصبانو اوظالمانو په یادئی دخیری رنګ بدل شی ،
وینی ئی په جوس راشی اودنفرت طوفان ئی چپی ووهی
له بنودورو سرمشق اوله تیاره اوغمجنو شپو ورځو دعبرت
درس اخلی اودملت پخوا پوری لانژدی کیږی .
ملت پرور دملی سعادت او لوړ تیا په مخه کښې دوطن
دارتقا اوبرم په لار کښې له کور، کلی اوقوم څخه تیروی
ملی ګڼی ته له هری یوی بلی ګڼی نه تر جیح ورکوی .
داحس چاکښې نه شی پیدا کیدای تر څو چه پوه نشی ،
سترګی ئی خلاصی نشی په خپل اودجهان په احوال خبر
نشی . ملت پرستان په نړیه کښې بی معارضی ندی پاتی ،
یوه ډله مخالفین لری چه هغوی ته انتی ناسیو نالستان
وائی اودوی دنظریاتو پهاساس دولتونه هم جوړشوی
دی ، دوی ملت پرستی خودخواهی ګڼی او وائی چه
له ملی احساساتو تفوق ملی اوله تفوق ملی څخه لوی
مخالفتونه دمللو ترمینځ پیدا کیږی او په نتیجه کښې داحس
بشری جامعه دخونړیو جګړو خواته راکاږی نوښائی چه
دجهان ملل له دی تنګ نظری څخه صرف نظر وکړی
اودیوکوچنی ټولګی په ځای چه ملت ئی بولی ددرست
بشریت لمنی ته ځان ور واچوی .
مګر ناسیو نالستان وائی : په دی کښې شك نشته چه
بشریو بشردی دانسانیت په لحاظ دبشر تر مینځ فرق نشته
مګر درو حی جنبی له نظره دمللو ترمینځ زښت ډیر
اختلافات موجود دی چه له دی څوك منکریدای نشی .
مثلا په ظاهری شکل او دڅ وند پهسویه کښې داروپا
متمدن ملتونه لکه جرمن، انګلیس اوفرانسه به چند ان

تو پیر نلری مگر که عادات ، اخلاق، شئونات ، دوددستور طرز تفکر اوروحیاتو ته ئی ور ننوځو نوفاحش لری والی اوجدائی به ئی ترمینځ ولیده شی .

بل داچه ملت په عالم بشریت کښې دیوه فامیل حکم لری نو که چیری څوك له خپل فامیل سره مینه کوی دا معنی نه لری چه له همسایه سره دی رخه او حسد ولری او که څوك دخپلی کورنۍ آسایش اوشرافتمندانه ژوند دسمون په لار کښې هڅه کوی ، د خپلی کورنۍ دغړو دحیاتی ، اقتصادی، صحی اوعلمی سویې په لوړ تیا کښې زیار باسی معنی ئی دانه ده چه هرو مرو دخپلوګاونډیانو دحقوقو غصبول غواړی ، بلکه یومهذب فامیل دیوی ښې تربیې خاوندکورنۍ یوپوه اوباحسه فامیل څو مره چه د ملت دپاره خدمت کوی ، یودلوړو صفاتو خاوند ملت هم په جامعهٔ بشری کښې همداغومره عالم بشریت ته لوی خدمات کوی . برجسته ملت ضمناً دنورو مللو درقابت حس راپاڅوی چه ددی مسابقی په نتیجه کښې دمدنیت دکاروان سرعت کړندی کیږی .

بین المللیت ( انټر ناسیونالسیتی ) :

بین المللیت داسی یوه مفکوره ده چه دملیت ترمینځ واقع شوی ده له یوی خوا ملت ته قابله او دملت دوجود احترام کوی له بلی خوا غواړی چه دمللو دتصادماتو جلوګیری وکړی .

په هغه وخت کښې چه ملتونو وجود نه درلود یعنی بشری جوامعو قبیلوی اوقومی ژوندکاوه یادکوم جهان کشا په قلمرو کښې شپی ورځی تیرولی په هغه وخت کښې

هم دا د بین المللیت او صافو اوخواصو وجود د ر لو د .
مثلا څوزره کاله پخوا د بودا او زردشت په زمانې کښې
ځینې داسې اوصاف اوممیزات، داسې دودونه اورواجونه
اخلاق او آداب د آریانا ، فارس ، هند او چین ترمنځ
موجود وه چه دوی ئې لږ اوډیر یو بل ته سره د نژدې کول .
په نوی عصر کښې کوم وخت چه ملي حس تقویه او ملي
حکومتونه جوړ شول د بین المللیت مفکوره په عمومي ډول
سره میدان ته راووته وئې غوښتل چه د مللو دزیاده روی
مخه ونیسي اودوی سره نـژدې کړی . نو د منازعاتو او
دعوو دد فع د پاره ئې بین المللي محکمې او بین المللي
جوامع جوړ کړل ، او ددوی د نـژدې والي د پاره ئې
موسسات او مجالس لـکه د پوستې او تلـګراف اودوسپنې
د لارې او د امراضو د مجادلې بین المللي موسسات، د مللو
داجتماعي ، علمي او اقتصادي سویـې د لوړ تیا مجالس
وپرانیستل .

د بین المللیت عناصر یا په بل عبارت د بین الملیت
د بناخښته ملت دی . بین المللیت بې د ملت له وجوده معنی نلري .
حقیقي ملت بې د ملي حس له روزنې تشکیلیدای نشي ، او
ملي حس پرته د تعلیم او تربیې، د نشریاتو او تبلیغاتو له
لارې په بله لارپیدا کیدای نشي ، هغه څوك چه وائې فلان
قوم فطرتاً ( بې له تعلیم او تربیې ) ملیت پرست دی ، دوی
یاد ملیت اوقومیت ترمینځ فرق نشي کولی او یا د ځان یا
دجهان غول غواړی!

۞ ۞ ۞ ۞

# آسمانی غږ

(یاد کېږه ای پښتنو !)

هغه ـ چه خدای په تاسو فضل او مهربانی وکړه: تاسو ته یې صلاحیت اوښه خویونه درکړه. په تاسو کښې یې سړی پیدا کړه. تاسو ته ئې قوت او اقتدار درکړ. لوی لوی قومونه او پراخ ملکونه ئې ستاسو دامرا و فرمان لاندی کړه. دغه وخت شرف او افتخار، حکم او نفوذ، مال او دولت ستاسو په لاسونو کښې ؤ. تاسو باداران او خانان وی تاسو پادشاهان او سلاطین درلودل. ستاسو بیرغ د دنیا په خور اوډانه او معموره برخه ترپېړیو پېړیو رپېدو!-او-

یاد کېږه هغه- چه بیا تاسو ناشکری غوره کړه. په تاسو کښې د «پښتون» پرځای دځان ځانی ءخواهش پیدا شو رخه، حسد، او اغراض په تاسی غالب شول! نو تاسو په تاج او تخت، چوکیء او منصب یو تر بله جنګونه او مرګونه شروع کړل- او تاسو په ځمکه کښې فسادونه کول!- په دغه خویونو قدرت تاسو ناصالحه وګڼلیء او خدای پاك ټول هغه نعمتونه چه په تاسو یې پېرزو کړی وو، بیرته واخستل. دغوریانو، لودیانو، خلجیانو، سوریانو، هوتکو، او ابدالیانو بیرغونه، یو پربل پسی، وار په وار ټیټ، او نسکور شول !ـ

تاسو پوه نشویء او توبه مو ونه ایستله، نو په تاسو څلور سوه کاله مغول او د هغو پسی سل کاله پرنګیان مسلط کړی شول. تاسو یې ووهلی؛ تاسو خوار، ذلیل او قتل کړی؛ په تاسو کښې یې داسې دسر سړی پری نښود، چه څو

یی په توره هلاک یا په پیسو دؤس نکړ!- نو تاسو تار پـه تار او ټوټې ټوټې شوی ؤ.-

په دی غلامی ؤ او ذلت کښې پیړی پیړی پاته شوی ؤ چه خوستاسو ذهنیتونه ټیټ او غلامانه شول. تاسو ځـان تـه سپك وکتل او خواری مو خپله برخه وبلله. تاسو له ودانو ښارونو او ابادو ځمکو شاړو غرونو او وچو ډاګو نو ته وو تی ؤ. علم او کمال ته مو شا کړه او دلېوانو او ګیدړانو غوندی په ګارو او غارونو کښی په او سیدو بسیا شوی!

ای دساهو پښتون بابا اولاده! تا سو په دی هم ونـه شرمیدی چا د کفار و او چا دسپکو خلکو نوکر ی ؤ ته ملا وتړله؛ دخپل قام او وطن په سر پوټ چیان شوی ؤ. دسوال او خواست لاسونه مو له لستوڼی را او ایستل او دښمنانو ته مو اوږده کړه تاسو دخلکو مریونه او ښځی مو دخلـکو وینځی شوی.-

اوس ستاسو ځینو په ملی لحاظ شرف غیرت، ننګ ناموس؛ پښتو او پښتنواله هر څه هیر کړی دی. ستا سو پښتو داده چه خپل ورور او د تره زوی وو ژنی ؤ خور و او ر خر څه کړی. په یو کیله خپلی وینی د بل چا د پاره د پښتون پرضر ر هېته تو ئی کړی ؤ. پښتونو نه منی ؤ او پردی ته سر کوزی غوره کړی!- بېشکـه چه تاسو سمه لیار ورکه کړه.

یادکی ؤ هغه- چه بایزید روښان یو سل او شپېته کالـه خپل اولاد او احفاد دښځو او نرو ترورو ستنی سړی پوری دیو ډیر لوی قوت په مقابل کښې ستاسو دعزت دراګرزولو او ټینګولو دپاره قربان کړل؛ او همدا تاسی وی ؤ چه پیر

تاریك موور ته وواېه او د کفر فتوی مو پرې وکړه .-

خوشحال خان په تاسو کښې د اتفاق د پیدا کولو د پاره کلونه کلونه په غرونو رغونو منډې وکړې؛ د تورې او قلم کارنامې ئې در ته پرېښودې، او ستاسو د لاسه ناکامه مړشو .- غازي ایوب خان او محمد اکبر خان په تاسو کښې پیدا شوه، او تاسو د هغو قدر ونکړ .-

سید جمال الدین افغاني په تاسو کښې آواز پورته کړ او تاسو وانورید؛ چاچه ستاسو د لوړتیا د پاره ملاوتړله تاسو وشاړه .- نادرشاه افغان چه ستاسو د خدمت د پاره را وړاندې شو نو تاسو ور سره څه وکړه .- عبدالغفار خان ستاسو له لاسه په وینو کښې ډوب ناست دی او ستاسو په حال ژاړي !- وګورئ: تاسو څه کړي دي !

ای پښتنو! ویښ شئ؛ توبه وباسئ؛ خپل ځان و پیژنئ د خپلو مشرانو او خدمتګارانو خبرې ومنئ . نا باوري او بدګماني پرېږدئ . خادم او خاین سره بېل کړئ، له یوې خوا عزت او شرف، وقار او عظمت ولاړ دي تاسو ته انتظار کاږي . له بلې خوا هلاك او تباهي مرګ او ادبار خوله وازه کړېده او وار په وار رانږدې کیږي !- په یوشي کښې نجات دی چه هغه «مېړانه او لوړ همتې» ده . پاڅئ ای پښتنو!- هو، پاڅئ په مېړانه او لوړ همتې !!!

کهی: ۲۷٫۳٫۲۲

# زما دوه ژبې اشنا

هر وخت چه زه خوا بدی شم ، ته مې خوشحا لوی !
هر وخت چه زه په خوشحالیء کښې تر چنې او ړم ،
ته مې راګرځوې !
هر وخت چه مایوسې په ماحمله راوړی اووژنی مې ،
ته نجات راکوې !
چه ټول ملګری اوخپلوان رانه وګرځی ، یوته ئی
چه ماسره خبرې کوې !
چه وږی شم ، ته مې مړوې !
چه وډ یږم ، ته مې روانوی !
چه بې پردې کیږم ته مې درنوی !
ته مې په زړه کښې ئی ، اوته مې په خوا کښې !
زما عقل هغه وخت وده کوی ، چه تا سره غږ یږی !
زما نظر هغه وخت پراخیږی ، چه ته ئې مخ کښې اوسې!
ته په جهان کښې ئی ، او جهانونه په تاکښې دی !
زه دژوندانه خوندونه هغه‌وخت اخلم چه تا ته‌ګورم!
زما دژوند په کورګی کښې دحق ډیوه هغه وخت بله
شوه چه تالـکه پرخه وژولم !
او زما جمود د هغه وخت په حرکت کښې راغی چه
تاولړ زولم !
ستا ژبې دوه دی ، خو په دواړو حق وائې !
ستا ژبې دوه دی ، خو وینا دې یوه ده !
تا ، ماسره درواغ نه‌دی ویلی !
تا په ما خپل غرض نه دی تحمیل کړای !

تا ، زه غولولی او تیر ایستلای نه یم !
ای زما لارښوو نکیه استاذه !
ته هرڅوك سمولای شې ، خوچه سم درسره لاړ شی !
ته هره ورانه رغولای شی ، خوچه څوك ستاو منی !
ته بې زوره زور ورئی ، او بې لښکرو باچا !
هرڅه به پریږدم ، خو تا نه شم پرېښودای !
ای زما دټول عمر اشنا ! ای له هرچا ښکلیه !
ای زما درد او زما درمانه !
ستا په سرچاو ترڅلم ، اوچاو نازولم !
ستا له کبله چا دوست کړم اوچا دښمن !
ستا په واسطه را نه څوك وتر هیدل او څوك را نه را چاپیره شول !
خو تا ما ته دبدی نغوته نه ده کړې !
او نه دې ګمروه لار راښودلې ده !
له تا جار شم - پرماګرانه ، ای زما ما تکیه قلمه !
«پای»

# افغان ملیت او پښتني ښځي

افغان قوم د تاریخ په تېرو دورو کښې د دنیا د تمدن دقافلې سالارؤ . د ویدی ، اوستائی ، یونانو باختری او کوشانی عصر د تاریخ غټې کربڼې و لولئ ـ بیا را شئ هغه معرکې په نظر کښې وینسئ چه ددې تاریخي مملکت په دفاع او ساتنه کښې ، ددې ملك لرغونو او سپېڅلو نیکو چه زموږ اجداد او نیکونه وو ، دېر د یو په مقابل کښې اجرا کړی دی .

داسلام په راتګ سره ددې خاورې زامنو قران کریم په اول تبلیغ سره ؤ ما نه چه ددوی په حقیقت نما نښه دلالت کوی . مګر دوطن دازادۍ دپاره درې سوه کاله تر هغې وجنګېدل چه خوئې خپله ازادی د بغداد په خلافت و منله . په بخارا ، سمرقند ، بغداد ، نیشاپور ، لاهور او ډیلي کښې تر ننګه لا پورې د پښتنو یعنی افغانانو مدني او اجتماعي اثار د تاریخ له تیرو اعصارو څخه پاتې دی ، زموږ اسلافو په دنیا کښې په هسکه غاړه او جګو سترګو ژوند تېر کړی دی .

همدغه وجهه ده چه « ټیټې سترګې » او «سر کوزی» په پښتنو کښې غټ پیغور ګڼل کیږی . موږ تر اوسه په غیرت ژوند کړی دی ، په همت او میړانه او سپېڅلی یو د ضعفاؤ او مظلومانو دحق دپاره مو سرونه ور کړی دی

اوډېر متکبر او جبار طاقت په پوزه کښې مومهار اچولی دی .

د دې ځمکې د تاریخي وقار او حیثیت دپاره یوازې همدا خبره کفایت کوي چه ویدی او اوستایي مدنیت له دې ځایه خپور شو . قرآن کریم زمونږ پلرو نو په غېږ کښې ونیو او ټولې ایشیاته ئې ورساوه . د محمود زابلي او شهاب الدین غوري کارنامې د دنیا داد بیاتو او تاریخ جزء ګرځیدلی دی .

په دې ټولو کارنامو کښې زمونږ د هیواد باشها متهښځې یعنې زمونږ پلرونو خوېندې میندې، زمونږ د پلرو نو نیکونو سره په هره هنګامه کښې سیمې ولاړې وې د ویدی عصر په ریشي شاعرانو کښې «ګوشا» ، «سوریا»، «زاچې» او د داسې نورو ښاغلو میرمنو نومونه او آثار ترمونږه را رسیدلي دي .

د سکندر سره په باختري جنګونو کښې د ښکلې او میړنۍ، «رخشانې» «رکهشانه» او د دې پلار «اکسیارتس» چه دوطن د نامتو مجاهد او مدافع «بسوس» خونږ ملګري ؤ د قصو یاد ، لا اوس هم د پامیر او هندوکش په غرو لیك پاتې دي . ښکلې «رخشانه» د سکندر د بې شمیره فوځ په مقابله کښې دوطن د نورو میړنو زامنو سره سمه جنګیدله چه څو د نورو مجاهدینو د صف په سر کښې د دښمن لاس ته ورغله او حبس شوه . په بند یخانه کښې د سکندر لوی جرنیل او په آخره کښې پخپله سکندر ددې ته ورغلل خبرې یې ور سره وکړې . نو د دنیا لوی فاتح د رخشانې د افغانی حسن جمال ، غیرت او شهامت او د دې د عالي

همت په دام کښې داسې ونښت لکه مرغۍ په لومه کښې.
در خشانی لوړ شخصیت په لوی سکندر اور ولګاوه ، او
دومره بې اختیاره شوچه ددې دپلار نه یې ددې دازدواج
غوښتنه وکړه .

مګر رخشانی دا کله منله چه ددې دوطن مدافعین او
ددې دصف ملګرې دې ددښمن په بند کښې پراته وې، او
دادې آزاده شې : او بیا دې دوطن د دښمن سره دزړه
مینه یعنې از دواج وکړې . تاریخ تر اوسه مونږ ته داپته
نده راکړې چه سکندر د رخشانی دحب الوطن څو مره
شرایط پرځای کړل چه څو ښکلې رخشانه ددنیا دتاریخ
دلوی پهلوان ملکه شوه !

هو ، دومره ثابته ده چه بندیان ایله کړی شول او ډیره
موده درخشانی پلار دهندوکش دجنوبی برخو خپلواك
رئیس ؤ !

زمونږ دوطن لویشت زمونږ دغیر تمنو پیغلو
اومیرمنو دبهادرۍ قصې په خپل مخ ثبتې کړې دی .

ددنیا دتاریخ نامتو مشاهیر «ګوروش» او «داریوش»
دپښتنو له لاسه دوطن په دفاعی جنګونو کښې مړه شوي دي
دچنګیزخان ، هلاکو اود دوی داولاد ، احفاد ظا قتونه
دلته محوه شوی ، اودی خاوری وخواړه . استعمار چه
له دی خاوری ماتی وکړه ، بیائی بښه په افریقا کښې هم
ټینګه نشوه .

او په دغو ټولو حوادثو کښې ښځی د نر وسره سمه ی
ولاړی وی زمونږ دو طن پیغلی او میرمنی باید د رضئی
سلطانی : زرغو نه ی انا ، حلیمی ، ملا لی ، ګوهر شاد

او د بایزید روښان د لور ، د جلال الدین د خور مثالونه هیر نکړی چه ورو ستنی د غزنی په کوټ کښی د خپل ورور سره محاصره شوه ، ورور ئی ومړ ، او دی تر هغی د افغانی ننګ څخه د فاع کوله چه څو پوه شوه چه او س دد ښمن په لاس کښیو ځی نو ځان ئی له برجه وغور ځاوه ، او د ورور سره ئی یو ځای ځان تباه کړ . مګر نورو پښتنو ښځو ته ئی وښوده چه پښتو څه شی ته وائی !

دعبد القادر «روښانی» مور «بی بی علائی» دزو یه سره یو ځای په پښتنی هوډ جنګید له چه څو ټول و نیول شول او جالندر ته فرار کړی شول .

دوطن په وړاندی پښځه زره کلن تاریخ کښی زمونږ دښځو برخه له ناریندو څخه کمه نه ده . زمونږ په دغه تیر اوږد او روڼ تاریخ کښی ښځی د ناریندو سره په تعلیم ، تربیت او حقوقو کښی مساوی وی . تاریخونه لیکی چه په قدیم ویدی تمدن کښی د عائلی د پلار او مور حیثیت او مقام مساوی ؤ .

مور د کور و ظائف په غاړه لرل ، او پلار د با ندی . ځوانه لور به په کور کښی د قدر میرمن وه ، اود زوی په شان تر بیه کیده ، د غه اصول زمونږ په هیواد کښی تر هغه وخته رائج او معمول وو ، چه څو اسلام راغی د اود ښځو شان ئی په دنیا کښی لا لوړ کړ . خلاصه دا چه زمونږ دهیواد په ویدی ، اوستائی او اسلامی دورو کښی ښځی مستقل شان او عزت لاره . د پښتنو کورنی او ولسی رواجونه اوس هم په هماغو متینو اصولو بنادی . ښځی د نرو سره په کسر و نده ، مالداری ، کور کهول ، جنګ او

دفاع ، کار او کسب کښې سمه برخه اخلي . په دې لاره
کښې افغانانو ته له نیکو نو څخه تو ارث پاتې دی چه هغه
«عفت» اود ستر ګو مړښت بولي .

د پښتنو ښځی په خپل ملي لباس کښې دخپلو نارینه و
سره دحیات په هره مبارزه کښې شریکې وی ، نازو ،
زرغونه انا : ملاله او داسې نورې دقصو او رومانونو
ښځې لکه ګلمکۍ ، رابیا ګله ، شهو ، بیوجانه ، اودرخانۍ
دشهامت ، وفا اوعالي اخلاقو لوړی نمونې وې .

د بایزید روښان اوعبدالغفارخان په ملي مبارزو کښې
دښو برخه دلوی افتخار وړ وه . په روښانی مبارزو او
دخدائی خدمتګارۍ په جهاد کښې پښتنو ښځو خپل شهامت
دنیا ته ښودلی دی . دوزیرو ، اپریدو ، مهمندو او باجوړ
په هغو جنګونو او جګړو کښې چه پښتنو داستعمار سره
کړی دی او کوی ئی دپښتنو ښځو کار نامې اولوړ اخلاق
ددنیا دپاره دعبرت وړ سبقونه دی . خو افسوس چه دا
قصې نه دی لیکلی شوی .

د باچا خان په هره جلسه او مظاهره کښې دښځو شمیر
له نارینه ؤ کم نه ؤ . د استعمار دما شینونو اوتوپونو
خولو ته چه لکه خنګه نارینه ولاړ وو ؛ ښځې ورسره سمې
په صفونو کښې ښکا ریـدی . څوك دوا دهٔ په جوړو
ګانو کښې ولاړی وی ، چا واړه ما شومان په غیږ کښې
نیولی وو ، دچا قرآنونه په سر وهٔ ، چه ئ بابړ ی په عام
قتل کښې ئی په پښتنی ننګ سرونه ورکړل . اوپه ګولیو
غلبیل شـوی .

هو ، په قام ، وطن او پښتو د پاره سرور کول د پښتنو ابائــي عنعنه .

نن افغاني شعور ، او د پښتو نولۍ غريزه په ټــوله جامعه کښې په سرعت سره مخ په انکشاف روان دی ښځې او نر په يوه شان د ژوند د نوو غوښتنو او د مليت د نوو مبارزو د پاره په عصري ډول ځانونه اماده کول خپله وظيفه گڼي اوس ښځې ته عاجزه ، صنف نازك ، مستوره ، مخجوبه او څه څه ويل عيب گڼل کيږي . خو افغاني جامعه ښځه ملعبه ، لوبوني او د نارينه و د خو شوقتيۍ شی نه گڼي ځکه د پښتنو په مصطلحاتو کښې ښځه «ميرمن واکــدا ره» او د پوره انساني حق حقداره ده .

❁ ❁ ❁ ❁

# د پښتو د اد بیاتو لومړی آثار

پښتو دژ بې په حیث دویدی مدنیت، اوستائی مدنیت، اودقدیم بلخ په تهذیب کښې محققینو او دمد ققینو نظر ته راڅی تر کومه حده چه دقدیم ویدی مدنیت څرك له تاریخ څخه ددې عصر دانسان په ستر ګو لګی او تر کومی اندازی چه داوستا اقتبا سات دنن ورځی تـار یخی پلټونکو ته په لاس راغلی دی، او تر کومه ځـایه چه دپخوانی فارسی یعنی دهخا منشیانو درسمی ژ بی عبارات د پښتون له کتیبو څخه نوستل شویدی، نو دغومره لغات کلما ت اودستاویزونه لاس ته ورڅخه راغلی دی چه یو بیطرفه محقق انسان باور کولی شی چه پښتو دیوی ژ بی په حیث په دغو اعصارو کښې وجود درلود. دکوشانیانو دعصر سکی چه تراوسه لوستل شوی دی، او همدا رنګه دسرخ کوتل لیکلی تیرې چه ځینی عبارات ئـی خلـکو روان کړی دی له د غو کښې هم دپښتو څر ګـنده څهره لیدل کیږی. ابا سیند، پامیر، بلخ، هلمند، غور، او شیبر داټول په وړاندی زمـانو کښې دپښتو پـه وجود دیوی ژوندیء ملی اوادبی ژبی په حیث دلالت کوی پـه دغو پورته خبرو باندی چه مونږ ورته اشاره وکړه دافغانستان داوسنیو ادبی آثارو کښې پوره، پوره څیړنې او بحثونه شوی دی چه دلته یې ذکر ناممکن دی. او ډیر طوالت پیدا کوی. تر ټولو لویه خبره دپښت، پکهت، پکتین پوتا پکتیا اوپښتونخوا لرغونی نو مونو دی چه دپښتون قوم

او د دوی د مملکت د پاره په ریګویدا، او ستا، یونانی، چینی، او اروپائی آثارو کښی راغلی دی. نو هر کله چه د نن ورځی نه د دوه څلورو زرو کلو د مخه پوری د پښتو په لغاتو او کلماتو او د پښتون قوم په وجود کلک او قوی شهادتونه میندل کیږی نو د دینه د پښتو ژبی په وجود د کښی پوره باور کیدلی شی ځکه چه کوم وخت پښتون قوم موجود ؤ نو ضرور به پښتو ژبه هم موجوده وه. ولی چه پښتون قوم د پښتو ژبی ویونکی ټبر دی، او بی له دی بله هیڅ معنی نلری !

مګر د یقینی ادبی وثائقو څخه چه کوم شی نن زمونږ په لاسونو کښی شته پټه خزانه ده پټه خزانه د یو کتاب نوم دی چه د افغانستان د هوتکی شاهانو د کورنی په عصر کښی محمد هوتک د داؤد خان زوی په (۱۱۴۱) هجری قمری کښی لیکلی دی. محمد هوتک د شاه حسین د شاهی ادبی انجمن چه د پښتو د ترقی د پاره یی تاسیس کړی ؤ غړی ؤ.

د محمد هوتک پلار داؤد خان هم یو فاضل سړی ؤ هر کله چه هوتکی کورنۍ د پښتو ډیر قدر کاوه او د دغه شاهی ادبی انجمن په عضویت د هوتکو په دربار کښی ډیر لوی لوی ملکی او عسکری منصبداران او علماء مقرر شوی وو، نو هر چا زیار کیښ او کوښښ یی کاوه چه د پښتو د ادب او د پښتو د آثارو په لیکلو او پیدا کولو پادشاه او دربار ته تقرب حاصل کاندیٔ نو په دغه وخت کښی محمد هوتک پټه خزانه لیکلی ده. او د دغه وخت له پادشاه څخه یی ورباندی پوره صله اخستی ده. دی

کتاب ته ئي په هغه وخت کښې پښه چزانه ځکه ويلې ده
چه ددې کتاب مضامين او نمونې ئې د سپين ږير و له خوا
دخلکو له حافظو او زړو قلمي نسخو او کتابو څخه چه
دغه وخت موجودوو راټول کړي دي نو په واقعه کښې
دغه مضامين په هغه وخت کښې هم يوه خزانه وه چه پټه
پرته وه اوددمحمد هوتك لاس پرې ولګيد. دايوه قدرتي
خبره ده چه پټه خزانه دهوتکو ددورې په تير يدو بيرته
ورکه او پټه شوه. او داعليحضرت محمد ظاهر شاه
په منوره دوره کښې داخزانه بيادپښتو اديبانو په لاس
رابرڅيره چاپ او نشر شوه. اصل کتاب چه يوه زړه قلمي
نسخه ده دمطبوعاتو دریاست په کتابخانه کښې قيد ده.
محمد هوتك دغه پټه خزانه په يو پوخ اديبي اسلوب ليکلې ده او
هيڅ مضمون، شعر، او نمونه يې بې حوالې نه ده پريښې. پټه
خزانه کښې ديوې سلسلې رجالو، مشاهيرو، کتابونو
اشعارو، اوقصايدو ذکردی. ده هيڅ خبره بې سنده او
بې حوالې نده کړې. داکتاب ډيرې خزانې لري. يوه يې
له(۱۰۰) هجرې څخه د ( ۱۰۰۰ ) هجرې پورې او دوهمه
خزانه دمؤلف دمعاصرينو اودريمه خزانه دپښتنو دښځو
اديباتو حال او آثار بيانوي په خاتمه کښې مؤلف د ځان
اوخپلې کورنۍ حال وايي. دپښتو شعر کومې نمونې او
آثار چه ددې کتاب په او له خزانه کښې راغلې دي ډير
مهم قيمتي او مستند شيو نه دي دا آثار دو مره متين په
منفرد وزن او په سوچه پښتو ليکل شوي دي چه ددې عصر
هيڅ فرد په دغسې اثر ليکلو موفق کيداى نه شي نو له دې
څخه مو نږ دا نتيجه اخستی شو چه دپښتو شعر او ادب دا سلام

نه مخکښې هم په پوره قوت او قدرت موجود ؤ ځکه چه دوهم ه ادبي پختګي ديوی يا څو پيړيو کار نه دی ٠

دپټې خزانې لومړی نی شعر دامير کروړو ياړ نه دی چه اته بنده لری او په خالصه سوچه پښتو ويل شوی دی چه هيڅ پردی لغت پکښې نشته ٠ په دی ويار نه کښی هند، سند تخار، کابل، غرج، باميان، زرنج، هريوا، هرات، جروم يادشوی دی او د هجرت په اول قرن کښې ليکل شويدی ٠

دده دفخر يو څو بنده دادی :

زه يم زمری پردی نړی له ما اتل نشته
په هندو سند وپر تخار و په کابل نشته
بل په زابل نشته ـ له ما اتل نشته
دزرنج سو به می دتو دی په مخسور وکړه
په باداری می لوړاوی دکوردسور و کړه
ستر می تور بور و کړه له ما اتل نشته
په لو يو غرومی وينادرومی نه په ځغلو په تال
نړی زماده نوم می بولی پر دريځ ستايوال
په ورځو شپو مياشتو کال ـ له ما اتل نشته

٭٭٭

# اې ځمکې !

زموږ دا ځمکه چه ډېرې لوړې، ژورې او هوارې لري چه په دې کښې رنګارنګ ونې، او بوټي، د خپلو رنګارنګ خواصو او فوائدو سره زرغونېږي ـ دا زموږ کور دی !

سره ددې چه ډېر وګړي پکښې اوسېږي، تنګه شوې نه ده. ـ زموږ د پاره یې هماغسې خپله غېږ پرانستې نیولې ده. ـ پرېږدی چه زموږ د پاره پراخه اوسی، او موږ په خپلې غېږ کښې وروزی ! ـ

هغه ځمکه چه په مخ یې د ریابونه چپې وهـی ـ هغه ځمکه چه سیندونه یې په مخ ځغلی او منډې وهی ! ـ هغه ځمکه چه په مخ یې وګړي او خواړه پیداشوی دی. ـ هغه ځمکه چه په مخ یې وګړي ګرځي او کار کوی. ـ دا ځمکه دې په خپل ټټر موږ ته او له درجه ځای راکړی !ـ

هغه ځمکه چه په مخ یې پخوانو خلکو او زموږ نیکونو ژوند کړی دی . ـ هغه ځمکه چه د هغې په مخ رڼا پر تیارې، او ښاپېریانو پر دېوانو غلبه موندلې ده ـ د هستوګنې هغه ځای چه غوایی، آسونه او مرغان پکښې اوسی ـ دغه ځمکه دې موږ ته د خوښۍ او پرمختګ لارې پرانیزی ـ ته ای ځمکې، د ژوند د پاره پراخه ورشو یې ! ستا کار، حرکت او ګړندتیا زیاته ده ـ لوی غښتلي په پوره واک ستا ساتندوی دی ـ ای ځمکې، ته موږ د سرو زرو په شان سر مرد یه کړه ! ـ داسی چه هیڅوک په موږ رخه او حسد ونکړی . ـ د دوستانو خوږ بوی له تا څخه د نیکبختی

او بریالیتوب چه په ښځو ، سړو ، نوابغو او پهلوانانو، علم اوقوة کښې پروت دی.

ښکلا او شهامت چه په نجونو اوځوانانو کښې لیدل کیږی داهم ستادی. ته ای ځمکې ، مونږ په دغو و سپیڅه ! چه هیڅوک مونږ ته په بده سترګه ونه ګوری .

هغه ځمکه چه په مخ ئې غنم ، جوار ، وریجې اواور بشې کیږی . هغه چه خوږې میوی اوښکلې ګلان لری . هغه ځمکه چه دپنځو برخو خلك پرې سکونت کوی .

هغه چه دنغمواو سرودو نونه ډکه ده.هغه چه دپسرلی بارانونه پرې اوری اود برسات بادونه یې پرمخ الوزی په هغې دې ډیر سلا مونه وی ! او هغې ته دې ډیره نمانځنه !

دا ځمکه چه ټول خلك ئې پر خپلو اوږو اخستې دی هغه‌خلك چه رنګا رنګ ژبې ، او ډول ، ډول دیانتونه لری، او بیلا بیل ژواك ،دادېږمونږدپاره دبهائی زرګونه ویالې جاری کړی داسې چه لکه لنګه غوا نه‌وچیږی .

د خلکو د سفر لیاری ستا پرمخ تللې دی دموټرو نو اوریلونو سرکونه ستا په مخ ځغلیدی‌دی.الوتکې ستا په مخ کښینی اوالوزی چه‌دهغو په‌واسطه ښه او بد هر څوك دخپل مقصد پرلور درومی.دغه‌لاری‌دی‌زمونږ له میرڅمنو اوغلو څخه پاکې اوستا دخیر اوخوښۍ ټولې لیاری‌دې مونږ ته پیرته وی !!! (ترجمه!)

✲ ✲ ✲ ✲

# پښتانه څوك دی؟

پښتون په قومي لحاظ ديو توکم او نسل نوم دی چه
په پښتو ژبه خبرې کوی. دا قوم د زړو نو کالو څخه د آمو
او اباسيند، پامير او بحر هند د منځ په غرنيو علاقو کښې
اوسيدلی او اوسيږی.

دزر دولس سوو کالو څخه مخکښې ددی قوم تاريخ څه
ډير روښ او روښان ندی. د اسلام د دوری نه رادی پلو دا
قوم په زيات تعداد د بلخ، غزنی، غور، ملتان، پکتيا، کابل
او ننګرهار په سيمو کښې د مالدار او زميندار په حيث
ليدل کيږی. د شل ديرش کالو مخکښې پورې ددی قوم
تاريخ نوروخلکو ليکل دی. پخپله د پښتنو په لاس نه دی
ليکل شوی د اسلام نه مخکښې آثار اوس يو يو له ځمکې
د ليکل شويو ډبرو په شکل راوځي مګر هغه هم لا په ښه
شان تر اوسه ندی لوستل شوی او څه زمانه غواړی چه دغه
تاريخی خبرې سپينې شي. د اسلام نه وروسته زمانه هم
په دغه قوم باندی اکثره دداخلی او خارجی جنګړو او
جنګونو په صورت تيره شوی ده. نو په دغه لحاظ نو مونږ
سره خپله ددغه قوم په لاس ليکل شوی تاريخی وثايق
ډير لږ دی چه هغه هم بل چا ليکلی دی او د سهوو، غلطيو
سياسی او استعماری اغراضو څخه خالی نه دی.

دایشیا او اروپا غیر پښتون لیکوال لو پښتنو ته هر څه
ویلی دی خو هغه چه تر اوسه یې دیو لوی روایت شکل
غوره کړیؤ هغه دا خبره ده چه پښتانه بنی اسرائیل دی
ددې خبری سر پوره نه معلو میږی چه لمړی څل دا خبره
چا او د څه مدعا د پاره لیکلی ده مګر دا خبره ډیر څله
ډیرو خلکو یو تر بله نقل کړی ده دا سی معلو میږی چه دا
خبره هغو خلکو عمداً جعل کړی ده چه هغوی غو ښتل
چه پښتانه یو مهاجر ، منفور او مغضوب قوم معرفی کړی.
او په د غه شان سره ددغه غیور او بهادر قوم رسوخ او
قیمت هم دد نیا او هم د دوی په خپلو نظرونو کښی ټیټ
کړی نو دوی به خپله په نفسیاتی ضعف اخته شی.

او ددوی په بنکلی څمکه به دغه مغرضین تسلط وکړی
دی کښی هیڅ شك نشته چه خلك د پښتنو د رندا نه جرأت،
بیباك اقدام او ملی حمیت څخه سخت په ډار کښی وو، او دی.
له دغه کبله خلکو او مخصوصاً اروپائی استعمار چیانو
چه په مشرق کښی هر ځای دقوت مبدأ لیدلی ده ؛ علم ،
سیاست، توپ او توره یی هغه ټکی ته متوجه کړی دی
چه څو یی منحله کړیده. نو په پښتنو باندی دا سرائیلیت
اطلاق خالص دغرض کار دی. چه د پښتنو ژبه، ادبیات، عتیقه
آثار او ملی عنعنات ټول یی په وضاحت سره تردید کوی.
دلته یوه بله خبره هم شته چه داولی نه کمه نامعقوله
نده او هغه داده چه پښتانه عرب او دخالد بن ولید او لاد

دی. دپکت او پښت مـبد ا چـه دپښتون دکلمې اصل حسابیږی او ددغه قوم نوم دی، او دغه شان دپښتو ژبې دلغاتو اوکلماتو څرك دومره مخکښې لګی چه هغه‌وخت لاتقریبا حضرت اسماعیل اوحضرت یعقوب هم نه ووپیدا شوی. نو معلومیږی‌چه پښتانه او پښتوژبه دعربو اویهودو، عربی اوسریانی ژبو څخه مخکښې موجود وو.

دلته یوه‌غټه خبره دپښتوژبې ده. پښتوژبه خودمؤثقو دلائلو له مخې یوه لرغونې اوپخوانی ژبه ده‌چه سنسکرت اوژند اواوستا سره خواپه خوا، اویا ددغو دوو ژبو نـه مخکښې هم موجوده‌وه. نوهر کله چه دپښتو ژبه څوزره کاله مخکښې ژوندۍ‌وه‌نو دپښت او پکهت دریښې او هم دارنګه دبلخ دکلمې دشهادت په اساس چه په اصل کښې بخدی‌ؤ اودبخد بخت پخت او پکت کلمې ته راجع کیږی نوداهم دلالت کوی چه پښتوژبه‌او پښتوویونکی زرګونه کاله مخکښې موجود وؤ. نودغه پښتو ویونکی زرګونه کاله مخ کښې هم دمخه پښتون قوم دی چه دیو ملت پـه حیث دامو او ابا سیند په مـنـځکښې اوس هم او سیږی. همدارنګه‌دفردوس کلمه چه په قرآن شریـف کښې راغلی ده اوپه اروپائی لهجو کښې په پیرا ډائیز ګکر ځیدلی ده په اصل کښې (برادیس) یعنی اوچته‌هیواداوداستوګنې جګک ځای په معنی ده.

فردوس اوجنت هم پـه آ سمـا ن کښې دی. دا سی بریښی چه داتخیل دپښتون‌له‌تخیل څخه معرب شوی دی. قرآن کریم چه دخلکو په اصطلاح نـازل شویـدی دغـه کلمه یې اخستی ده اودغه فکریـې تصحیـح کـړی دی.

داعلیحضرت نادرشاه (رح) دعصر نه پلو چه پسه وطن کښی رسما ادبی او تاریخی تحقیقات او انجمنونه جاری شول اوس په ډیرو دلائلو او شواهدو دا خبره ثابته شوه چه پښتانه آرین او پښتو ژبه د آریایی ژبو له جملی څخه یوه ډیره پخوانی او متینه ژبه ده چه دزمانی دحوادثو له لاسه تراوسه دپښتیانا یعنی پښتونخوا دغرونو په منځ کښی دپښتو په وینا او لهجه باندی دنن ورځی پوری پاته ده او څوك چه دغه ژبه وایی طبعا هغوی پښتانه او ددی خاوری بومی او لرغونی خلك دی .

په افغانستان کښی یهودځای پرځای، تراوسه موجوددو چه هغو په خپلو کښی په سریانی ژبو ګړیدل هر کله چه پښتو ژبه او پښتون قوم بل هیڅ ټاټوبی له افغانستانه نلری نو په یقین سره دپښتنو له څخه د اسرائیلیت شرمناك اوتهام چور لیری کیږی !

(پای)

# شیخ ملی

شیخ ملی د پښتنو په تاریخ کښی یو مشهور سړی دی د پښتنو
داد بیاتو تاریخ، د پښتو د مهاجرتونو تاریخ، د مشاهیرو
او نوابغو تاریخ او بالاخره اجتماعی او ددنیا داقتصادی
ستونو فلسفه، د پښتون قام دغه لوی مفکر او د لوړ عقل
خاوند روحانی شخص نه شی هیرولای. شیخ ملی د پښتانه
قام د نوی نهضت او نوی حرکت دلارښوونکو د پاره دغور
او دقت تکی دی. د دی وخت په څیړنو او تالیفاتو کښی
دډیرو خواؤ څخه د شیخ ملی یادګیرنی او نوم اخستلو ته
اړتیا پیښیږی، او ډیر هم یادشوی دی. مګر تر اوسه لا ددغه
مشهور او نامتو سړی په باب کافی او پوره معلومات لاس
ته نه دی راغلی. خود امید خبره داده چه د شیخ ملی په باب
هره ورځ زمونږ د معلوماتو دائره ارتیږی.

پخوا مونږ سره د شیخ ملی په باب د خوشحال خان د دیوان
د یو بیت او دزړو تاریخونو د کوم مختصر ذکر او د قو می
روایاتو څخه پرته چه هغه هم خورا مجمل وو، نور څه په
لاس کښی نه وه، خو اوس چه پښتانه لیکوال د خپل پښتنی
ثقافت د تازه کولو او رابرسیره کولو خواته متوجه
شویدی نو په هره خوا کښی ګوتی وهی، او د کار خبری

پیدا کوی . لس، شل کاله مخکښې دپښتانه قام په ځینو ولسونو اوسیمو کښې څه عجیب او غریب رواجونه او قوانین موجود وو، دغه عجائب خو څه دنوی تمدن او تهذیب دراتلګ اورواج، او څه دپښتنو په ایالاتو دپردو او اجنبي وکړو دسلطې په واسطه له مینځه تللي او څه لا اوس هم په ځینو ځایونو کښې مجوددی . یوله دغو ځانته او علیحده رواجونو څخه دځمکو دویش دودؤ . چه په سوات، بونیر، باجوړ، اودپښتنو په ځینو نورو ایالاتو کښې ئې رسوخ درلود . ددی قانون په مطابق به هردولس کاله پس د یوولس ټولی ځمکې دخلکو له لاسه ایستل کیدی، او مشترکې به شوی، او بیا به دنوی ویش او تقسیم په اساس په ټپو، کورونو اوافرادو توزیع کیدلی . دیوی حوزی او ساحې دځمکې مالك فقط هماغه قوم وه چه دغلته به اوسیدۀ . دافرادو او کورنیو او ټپو مالکیت اودداستفادی حق موقتي اودڅه وخت دپاره ؤ مدعاداچه فرددځمکې مطلق مالك نه ؤ بلکه مؤقتي اومشروط مالك ؤ، البته قوم او ولس دخپلې سیمې مطلق مالك ګڼل کیده . داقسم ویش به ددولس، دولس کاله پس یوزل کیده . پدی اساس نه څوك بی ځمکې پاتې کیدی شو، او نه دډیری ځمکې خاوند کیدی شو . دځمکې دخرڅانه اوپیرودلو حق هم هیچاته حاصل نه ؤ . اولکه چه

محکمه په وراثت هم نقل کیدی شوه. نو هیڅ ضرورت هم
نه ؤ چه یوسړی بل یو په محکمه او پوله پټی ووژنی. یوه له
عجائبو څخه داهم ده چه دغو ولسونو له هغه وخته څخه
چه په افغانستان او هند کښی د پښتنو حکومتونه کمزوری
شول او سقوط ئی وکاوه خپل مرکزی حکومت نه درلود!
مګر له بلی خوائی عجیبه قسم لامرکزی حکومت درلود.
چه ډیرقوی او نافذالکلمه ؤ. یعنی «د مو قتی شوری
حکومت» دا:داسی ؤ چه د وړو وړو حوزو خبری او داخلی
حوادث خو به د همغه ځای د محلی جرګو مشرانو فیصله
کولی، خو چه غټه او ولسی قضیه به پیښه شوه، د ټول قو م
مشران به راغوندیدل او په جرګه به ئی فیصله کوله. بیا نو
د تصویب اجرا هر فرد خپله لو مړنی فریضه ګڼله.
جزاګانو او تعذیراتو هم عجیب شکل درلود. مثلاً په غټو
ګناهګانو کښی چه قتل او مړو بنی ښځی تښتول او یا بی
ناموسی او داسی نور وو، که به مجرم په لاس ر اغی او
د قوم جزاته به ئی غاړه کښیښوده. نو د قوم دروایاتو او
د جرګی د فیصلی په اساس به سزا ورکول کیده. او که
وبه تښتید، نو د هغه جزا داوه چه د قام د جملی څخه به
ووت. له ویشه به ئی پچه وغورځول شوه. او که تښتیدونکی
به داسی مجرم وه چه باید وژل شوی وای، نو جرګی به
پر ی د «کشنده» حکم کاوه. یعنی دا که چا مړ کړ،
پوښتنه ئی نشته. خلاصه داده چه د دنیا د دی عجیب اوساوو
قوم په مینځ کښی د دقت او ملاحظی ډیر څه وو، او ډیر څه
لا شته.

دا به ډیر لوی ظلم وی که ددغسی تاریخی او قوی ثقافتونو خاوندانو قومونو پسی دشاه ، وحشی ، قاتل او غارتګر یا بد اخلاقه په عبارتونو پروپاګنډه وشی . مګر افسوس چه ددغه قوم پسی ددوی قوی دښمنانو په ټوله دنیا کښی دغسی پروپاګنډ کړی دی ، او دنیائی خطا ایستی ده .

زما څیړنه په شیخ ملی بابا ده . شیخ ملی دخپل وخت لیکوال ، مفکر او لیکوال ؤ . دځمکو دغه قسم روایتی ویش چه تراوسه هم لا دباجوړ په سیمه کښی شته ، دشیخ ملی دفکر نتیجه ده . شیخ ملی پدی باب یو کتاب هم لیکلی دی چه دغه قسم ویش ته ئی قانونی شکل ور کړی دی دا کتاب دشیخ ملی دفتر» نومیږی د کتاب دنامه په اساس اکثره پښتانه اوس هم «پټی» اودکروندی ځمکی ته «دوتر» وائی لکه طلاته چه اوس هم ټول پښتانه «اشرپی» وائی اودادشاه اشرف هوتك پاچا نامه ته منسوبه ده .

یو وخت چه ما ددغو قومونو دځمکو ددغسی ویش قصه واوریده سخت په حیرت او تفکر کښی ولویدم ما ویل پدی صووت خو به دځمکی سره هیڅوك علاقه نه ساتی ، ودانی به نه کوی . کورونه به نه جوړوی او په عایدا و او محصولاتو کښی به ډیر تاوان او نقص پیښیږی ! مګر پنځه شپږ کاله مخکښی چه ماته دباجوړ دسفر موقع په لاس راغله . او په چمرکنډ ، ناوګی ، چارمنګ ، کوټګی ، خلوزو ، اومروره باندی تیر شوم ، ماته معلومه شوه چه دغه خلك دپښتنو ډیرو قومونو څخه ، ودان ، ماړه ، روغ رمټ خو شحاله آزاده او مست وو . ماهغه ښځی ولیدی چه دنارینه وسره به ئی یو ځای کارونه کول دوی بهدغاړی

نه د لمنو پورې په‌سپینو روپیو کښې پټې وی . او د هر
سړی په‌غاړه به اصیل ټوپك او تـمانچه وه . نو حیرت مې
لا پسې زیات شو .

ما واورېدل چه‌دا خلك دتقسیم په‌وخت کښې خپلې
ودانې څمکې کورونه ، باغونه اوجایدادونه په ډیرې
خوشالۍ پرېږدی اویوتر بله ئې تبد یلوی .

اوس راشی دحضرت شیخ ملی (رح) په باب لږ زیات
معلومات چه‌په دوران مجله کښې دښاغلی نصرالله خان
«نصر» په قلم خپاره شوی دی ولولیء د شیخ ملی (رح)
اصل نوم «آدم»دی . دپلار نوم ئې یوسف‌او په‌قام یوسفزی
دی ، دپښتنو دملا تړله بر کته چه سلطان محمود غز نوی
«کال ۳۹۰ ه څخه تر ۴۱۵ه» له هندوستان نه څـو مـره
څمکې ونیولې پدغو څکو کښې دلازاك قوم‌ودان‌شو . کوم
وخت چه‌دتر کو اوپښتنو خپلو کښې زړونه بد شو ل او
کو زاره سخته شوه ، دپښتنو یوځو قومونو له‌افغا نستان
نه دسرحد دصوبې لورته هجرت وکړ . دارغستان دسیمې
دغوړی‌مرغې یوسفزی‌چه‌د ننګرهار په لارد سرحدصوبې
ته په‌کښه راتلل دشیخ ملی نیکونه هم‌ور سره وو پیښور ته
چه‌را ورسیدل دلازاکوئې درناوی‌وکړ،او په‌پیښور کښې
ئې ځای ورکړ ، خو کوم وخـت چـه‌د پښتنو اوتر کانـو
«مغولو» اختلاف ډ یـر زیات شو او یـو دبل غـوښو تـه
کښېنا ستل ، دلازاکو دمغولو پره‌وکړه ، مګر هغه‌وخت
چه‌د یو سفرو کومك‌ته نور پښتانه قومونه راورسیدل .

نو او ل ئې دلازاکو سره دحساب سپیناوی وغو ښت
دغه وخت ددلا زاکو او نورو قومونو په مینځکښې ډیر

خو نړی جنګونه واقع شول چه همدغه د دښمنانو مدعاوه په آخره کښی د لازاکو میدان بایلود او بری د یوسفزو په برخه شو. ملک یوسفزو واخیست او د سوات پوری ځمکه د یوسفزو لاس ته ورغله خو موده وروسته بیا دوی هم یو بل ته بدنیته شول او په ځمکو ئی جنګونه راواخیستل پدغه وخت کښی د شیخ ملی او شیخ احمد په برکت چه د پښتنو سیاسی او روحانی مشران وو او په پوهه! هوښیاری او د توری او قلم په لرلو ئی شهرت درلود) په پښتنو کښی بیا اتفاق پیدا شو شیخ ملی د پیښور نه سوات پوری ملک په مندړو، لغمانو، ننګرهارو، اکوزو، عیسی زیو خلیلو، مهمندو، ګګیانړو، محمدزو او یوسفزو باندی د سر د شمیر په لحاظ وویشه. دغه ویش د شیخ ملی ویش په په نامه شهرت وموند. دویش په وخت کښی د ختګو قام په وزیرستان کښی ودانو. د پیښور نه اټک (اباسیند) پوری علاقه د خلیلو برخه شوه. د ویش نه وروسته شیخ ملی په یوه لویه جرګه کښی وویل چه «دا ځمکه د خدای تعالی ده مونږه د هغه مخلوق یو، مونږ ته پکار دی چه د خاوند د رضا سره سم پدی ځمکه واوسیږو. د دی ځمکی مثال داسی دی لکه یو سرای چه یو تری ځی او بل ورته راځی» شیخ ملی د ځمکی د ویش د پاره قوانین کښیښود دلا و لاری ئی وایستی. دا قوانین ئی د کتاب په صورت وکښل چه د شیخ ملی دفتر ئی بولی لکه چه خوشحال خان وائی:

په سوات کښی دی دوه شیزه یو جلې دی بل خفی
مخزن د درویزه دی بل د فتر د شیخ ملی

اخون درویزه د شیخ ملی د ویش په باب داسی لیکلی دی:

یوسفزو چه د سوات مملکت ونیو، شیخ ملی د مصلحت ولید
چه د ټول ولس واړه، لوی، نر، ښځی، حساب کاندی او
سوات ور باندی تقسیم کړی. اکوزی د یوسفزو سره شپږ
زره شول منډړ د ولس زره شول، مګر ننګرهاری،
لغمانی او کابلی چه دوی سره وو، ورسره ئی حساب کړل
د شیخ ملی د دفتر دقوانینو یو څو مثالونه دادی:

(۱) ټول قومونه به د ولس کاله پس خپلو کښی د پچی
(      ) په ذریعه ځمکی ویشی. یعنی د کوم قوم پچه چه
د کومی ځمکی راووته، هغه قوم به په کده هغه ځمکی ته
د دولس کالو د پاره ځی.

(۲) که چیری د دوه قومونو مینځ کښی غروی، د هغه
غر بارانی او به چه کوم قوم پلو بهیږی، هغه ځمکه به هم
د هغه قام تصور کیږی.

تبصر: د ځمکو د ګروپونو د جوړولو د پاره به خیال کیږی
چه ودانی شاړی آوی- بارانی سمی او غریزی منطقی
په عدالت سره برابری کړی شی او بیا به ورسته د قومونو
د سر د شمیر په حساب ور باندی پچه واچول شی.

شیخ ملی هم په هماغه وخت کښی دا خیال ساتلی و. د دغه
ویش هغه وخت پښتنو ډیر خوښ کړ. نوی روح ئی پکښی
پیدا کړ. د ویش قوانینو ته به ئی په درانه نظر کتل. د ویش
دقوانینو خلاف کار به ئی لویه ګناه ګڼله.

کوم وخت چه د پښتنو ملک ته د انګریزانو حکومت-
راغی، د شیخ ملی د ځمکو د ویش څه مواد په خپله د انګریزانو
حقوقیونو او قانون پوهانو ومنل، او حتی په بین المللی
مسایلو کښی ورته په اهمیت قایل شول. خپله ډیورنډ

دغړونو په ویش کښې د شیخ ملي د «آبریزی» ماده قانون وګڼله او دغه شان ئې چه څنګه خونړوه خپل منحوس خط د پښتونخوا په منځ کښې کش کړ. د شیخ ملي ویش* په پښتنو کښې ډېره موده دوام وکړ په ۱۸۴۹ع کال کښې چه انګریزان د سرحد صوبې ته راغلل د سرحد په صوبه کښې لا همغسې ډېرو پښتنو د شیخ ملي د دفتر په اساس د محکمې فیصلې کولې - د ۱۸۷۰ع په سرشته کښې د قبایلي ایجنسیو څخه علاوه نورې څومره محکمې چه چاسره وې حکومت د همغو په نامه ثبتې کړې. په ۱۹۴۶ع کښې چه پر ننګیا نو علیجاه عبدالودود ګل شهزاده د سوات والي ومنلو، د ده د حکومت په دوره کښې د شیخ ملي د ویش رواج دوام درلود، چه څو دده د ویش قانون منسوخ کړ. هغه وخت کښې چه چا کومه محکمه خوړله، همغه پسې یې ولیکله، د مالاکنډ ایجنسۍ د «تاڼې» علاقې اوسیدونکې د محکو په باب د پخوا زمانې د ویش په ډېرو قوانینو عمل کوي. دغه رنګ د هزارې د ضلعې د ویشان (د ښکرې علاقه) سواتیانو د خپلو پخوانو مشرانو یاد تر اوسه پورې تازه ساتلې دې. دوی هم هغسې د شیخ ملي د زمانې په شان د محکو ویش کوي. نن صبا د دوی د ویش لار په لاندې ډول ده!

د ولس ګاله پس د «ویشان» علاقې اوسیدونکي په مقرره ورځ باندې ټول راغونډیږي د ټولو ټبرونو د مشرانو نومونه په بېله بېله پاڼه ولیکي بیا دا ټولې پاڼې د یو ماشوم (کوچنی) په څولۍ کښې واچوي دیوې ونې لاندې ئې کښینوي. مشران ورنه ګرد چاپېره کښینې. اول یو کس د محکې دیوې برخې نوم واخلي، ور پسې ماشوم د څولۍ نه یوه

د کاغذ پاڼه راوباسي، په پاڼه کښې چه د چا نوم راوخیژي ده غه
ځمکه د دولس کالو د پاره د دغه قوم شي. منشي د هغه قوم نوم
په کتاب کښې وليکي. ځمکه ښه وي او که بده په خوشحالی
ئې قبلوي. دغه ځمکه بیا د قوم د مشر له خوا د کور نیو
دافرادو په سر ویشل کیږي. ښځې او نر مساوي برخه
اخلي. کومه ښځه چه د قام نه د باندې واده شوی
وي، د هغې برخه وسوزي. د کورنیو له برخو څخه علاوه
د معنوي خدماتو په عوض کښې هم وګړو ته برخې ور کول
کیږي. په پېښور کښې اوس هم ټول مساجد برخې لري
دغو برخو ته (سيرۍ) وائي. د «ویشان» وګړی د دوېش
ورځو ته که د دنیا په هر کوټ کښې وي ځان رارسوي.
دوېش نه پس هر چا ته چه هره برخه ورسي، په خندا
خوشحالۍ جرګه خپره شي. خلك د خوشحالۍ
هوائي ډزې وکړي، او هر څوك خپلو خپلو ځايونو ته
لاړ شي.

د سرحد د صوبې په ځمکه چه د پر ګنګيانو قبضه ټینګه
شوه، نو د هری ژبې د علمي او ادبي آثارو قلمي نسخې
ئې راغونډې کړې، په دې آثارو کښې د شيخ ملي دفتر
د پښتو ژبې مشهور مستشرق میجر راورټي ته په لاس
ورغې. ډیر زیات پرې خوشحاله شو او کتاب ئې د بريټش
موزیم کتابخانې ته وسپاره. چه هلته اوس هم خوندي دی.

په (۱۸۵۵)ع کښې چه راورټي د پښتو ګریمر ولیکه،
د دغه کتاب په مقدمه کښې ئې د شيخ د دفتر تاریخ (۱۴۱۷)ع
لیکلی دی ښائي چه دغه تاریخ استنساخ نېټه وي، نه د تصنیف.
اخون درویزه وائي کوم وخت چه ښا غلی شيخ ملی

دمرګک په دروازه ښه کښېښوده ، نو عقیده تمندان ئې ورته راغلل، ده هغو ته وویل: « ما په خپل عمر کښې دولس خدمت خاص دخدای دپاره کړی دی . په ټول عمر کښې مې یودرهم یاددی چهلاس ته مې راغلی ؤ . لیکن هغه مې په څه تمه اولالچ نه ؤ اخستی . که چیر ی زه رښتینی یم نوزه له خدایه هیله کوم چه زما دوېش په دود باندی په زما ولس تراوو پښتو پوری عمل کوی . اوس معلومه شوه چه شیخ ملی رښتینی ؤ . تاریخ ثابته کړه چه داوو پښتو رڅخهزیات دده په قانون عمل وشو .

دپېښور په تاریخ کښې دشیخ ملی داولاد شجر ی چاپ شوی دی لیکن مآخذنه لری . ځینی تاریخ پوهان وا یی چه ملېزی قوم دده اولاد دی . خودتیرا شیخ ملخېل قوم دعوی لری چه شیخ ملی ددوی نیکه دی . په تیرا کښې دشیخ ملی په نامه زیارت هم شته چه متولیان یی همدغه خلک دی . دتیرا اپریدی چه دشیخ ملی په نـا مه منښتـه وکړی ، نودغو خلکو ته یی ورکوی نن په دغه کښې ملک نیازمحمد مشر اوسپین ږیری دی له بلی خوادپېښورخلک وائی چه دشیخ ملی بابا زیارت په هشنغر کښې دبولـی بابا دځنګله هدیره کښې دی دیوسفزوخلکداعقیده لری چه دشیخ ملی بابا قبرپه مردان کښې دی، اوپه ملی بابا مشهوردی دغه شان په نوروعلاقو کښې هم دشیخ ملی په نامه زیارتونه شته زما په عقیده داز یار تو نه دشیخ ملی دناستی ځایونه دی چهوروسته پرېقبرونهجوړ شوی دی . نصر ملګری په آخره کښې وایی: «دتیرا زیارت یی راته اصلی ښکاری !»

# د رباب نغمه

تمامه شپه د غرو لو ستر ګو په کتلو ن اوښتون ـ ...
لکه د سهار ستوري ستومانه او نا ميندهشوي وم !
ړپيدم، ترهيدم او زنګيدم !
غوښتل مې چه کوم داسې افق کښې سر کښيږدم چه
و نه ګورم داد نيا ـ اوخړ مخ يې !
د پسرلي د سهار وږمه، چه د سر وغو ټيو له مخه د شين
داوڼي پورته کولو د پاره له اسمانه راغلې وه، زما په زړه
يې ورو لاس تير کړ !
نرلا پخپلو وړانګو جهان طلايي کړی نه و !
د سهار خفيفې رڼا د نياد ياسمن په ګلانو کښې پټه کړې وه !
نسيم وروپو اوازراووړ !ـ
لکه د ښا پيرو د ښو د ګو نګر و شر نګهار !
هو، د ژ ند ګې د زړه تارونه رپيږي «رباپ» دی ؟
ـ نه (رباپ) دی !
د نغمې په وزرونو، د ساز د چپو د ټيټ او پاس په زينه
وختم !ـ
له دی خاورينې تودې !ـ
داوړی اوزړی خبرې راته سپکې او عبث ښکاري !ـ
د روح په پرواز کښې مې د رباپ نغمه او ريده !ـ
چه څنګه د نورو کوچينو او لويو ساز ونو لار ښو نه
کوي !ـ
د رباپ واړهٔ واړهٔ تارونه د دوهٔ غټو د آهنګ، په پير دي ،
روان دی !ـ
او خپل غږونه د هغو د ندا سره جوختوي !

سیرینده ورسره خپل ژړغونی غږ پورته کړی!
طبله په مناسبه موقعه کښی له خپلی ګیلی یو د اسی درز باسی چه دزړه ستنی خوځوی!
شپیلی ورسره خپل غم ژاړی او له جدائی شکایت کوی!
چنګګ او نورو اړه سازونه دبلبلو او مرغیو په شان په نریو اوازنو دغه نغمه تکلمیلوی!
ددغو ټولو په هم آهنګی او یوه خوله کیدو سره یو داسی ساز منځ ته راځی چه انسان آسمانونو ته بیایی!
هو، دژوند هره نغمه بی له لارښوونی او پیروی نه تکلمیلیږی! -
رښتیاده چه روح دخوشحالی په وخت کښی (ارتقایی پرواز) کوی!
اوچه واړهٔ اوغټ په کښی هم آهنګګ نه شی (دژوند ساز) بی سره غږیږی!
نوای ربابه، ای مستوونکیه، خوشحالونیکه ملګریه مونږ ته په خپلو خوږو نغمو کښی د«معراج» نو راسرار هم ووایه !!!

# پښتو او پښتنولي

د پښتو او پښتنولۍ کلمه اوسنی نده له زرګونو کلو څخه چه پښتو ن ځان د پښتون په حیث پیژندلی دی نو پښتو او پښتنولي ورسره ده. هرشی علامه لری او دهر شی دشناخت او پیژندګلوی دپاره نښی نښانی پیدا شویدی او د پښتون د پیژندګلوی نښه او مارك پښتو او پښتنولی ده.

پښتنولی د پښتو دګرېمر او دژبی دلیاری په اصطلاح جعلی مصدر یعنی دمعنی اسم دی پښتنولی د پښتون د کلمی نه جوړ شوی لفظ دی. پښتنولی یعنی افغانیت یا دفارسی په تعبیر افغان بودن! پښتون په ګریمری اساس سره صفتی اسم دی. دا اسم د پښتو له کلمی څخه ساز شوی دی نو د پښتو ن معنی شوه (هغه شخص چه پښتو لری او د پښتو خاوندوی) پښتو خو که یو پلو پښتو د ملی ژبی نوم دی خو له بلی خوا یو جامع لفظ دی او ډیری معنا وی لری چه دغیرت همت شرافت او اصالت دعناوینو لاندی را غونډېدای شی. پښتو دګرایمر اصو او په قرار منسوب اسم دی نو اصل کلمه (پښت) پاته شوه (پښت) دشا، توکم، نژاد، اصل او قوم په معنی دی.

په قدیمو تاریخی روایا تو کښی چه دهیون تسانګ چینی زوار او یونانی مور خینو څخه منقول دی، پښت: پکت هم قید شوی دی. چه د یو قوم نوم ؤ. همدار نګه پکتین او پښتین هم پخوانو مور خینو ددغه قوم نوم یاد کړی دی. زمونږ داو سنی پښتو په لهجو کښی هم چه ځینی و او په (یی) بدلوی پښتون

ته پښتین وائی او همدغه شان دپکتون تلفظ باید پـکتین وکړی خو داسی معلومیږی چه اصل کلمه (پښت) ده .
پـکت دیو نا نی لهجی په اساس د (پښت) د کلمی متحرف تلفظ یا تحریر ته راجع دی .

دپښت اوپکت څخه (پکتیا پښتیا پکتیا نه او پښتیا نا) ظرفی کلمی جوړیږی نو دپکتیا او پښتیانا مـعنی شوه د پښت او پکت قوم داوسیدو ځای یاوطن او هیواد . دپکت څخه پکتیا کټ مټ په هغه شان جوړیدای شی لکه د (ار) څخه چـه (اریا) جوړ شوی دی . پښت نه هم پښتی پښتیه، پښتیا، پښتیا نه او پښتیانا اصولا او اساسا جوړیدای شی وګوری ۶ له لو دی څخه لودیانه دظرف اسم جوړشـوی دی اوهـمدا رنـګه خوګیانی چه خوګیانه ته منسو ب دی یعنی دخو ګیانی او سیدو نـکی .

اوس مو چه د پښتو او پښتنولی په اشتقاق د ګر یمری او فلا لوجی خو اؤ څخه مجمل بحث وکړ ، نو را به شودی ته چه پښتنولی په موجوده اصطلاح څه شی ته وایی لکه دپښتنو ټو ل کلتور او ثقافت چه تر اوسه پټ اود خاورو لاندی پاته دی .

نو په پښتنو لی باندی هم تر اوسه په کتا بـی صـو رت چا بحث نه ؤ کړی . لومړی کتاب چه په دی باب و لیکل شو هغه دپښتنو لی په نامه ددی کتاب دلیکو نکی لخوا په ۱۳۳۱ هش ) کال کښی چاپ شو ی د ی .

ښاغلی عبدالصمدخان اڅکزی دوروړ پښتون رئیس دپښتو میا شتنی مجلی په ۹ ـ ۱۰ ګڼه کـښی چـه د مارچ اپـریـل (۱۹۵۴ ع) کال له بابته له ګلستان څخه نشر شوی ده دپښتنو لی له کتا بـه اقتبا سات کـړی دی او خـپله اڅـکزی خـان

د پښتنولي په باب خورا مدلل او قوي بيان په دغه مجله کښې نشر کړی دی راځي چه دده له خولې د پښتنولي شرحه اومعنی واورو: (پښتو يا پښتنواله ديو بيل ژواك او ژوند لياره ده داليار سړيتوب، روغی، امن، نيکی، آزادی او مسلمانی ته تر اوسنۍ انګريزی يا يو روپۍ ژواك يا ژوند ترلار او دود چه خپله دغه خلك يې قانون بولي زياته ورته او نژدی ده. پښتنو هر کله د خپل دين په شان په خپل دغه ژوند اوژواك اودغه دود او قانو ن سرو نه ور کړی دی. همدغه شی داوسني افغانستان دخپلواکی سبب دی. د کابل دويم جنګ چه د غازي اکبر خان، غازی عبدالله خان اوغازی محمد جانخان په مشری شوی دی، په همدغه پښتنولۍ شوی دی.) ښاغلی عبدالصمد خان اڅکزی وايي: دپښتنو جرګه په رښتيا دخلکو له خوا او دخلکو دپاره وه اوده. پښتانه بې له جرګې چه دپښتنولي پراساسو نو جوړه شوی وی نه چليدلي دی او نه به وچليږی) خان وائی:

(لنډه داچه پښتانه او بلوڅ له نورو خلکو څخه جلا او بيل خلك دی ځکه دوی ځانته ژوند او د ژوند عليحده دود او قانون لری چه نورئی نلری ځکه خو پخوانی هند چه پاکستان اوبلوڅو ونه مانه، تر دی ورسته هم پښتانه بې پښتو او پښتنولي په بل څيز نشي چليدلای او نه ورته غاړه ږدی او داځکه چه پښتنولي که نور هيڅ هم نه وی د پښتون دپاره تر بل هر دوداو قانون ښه ده)

ښاغلی عبدالصمدخان دو ينا خلاصه داده چه په پښتنولي کښې د پښتنودژوند ټولي خوا وی لکه اخلاق، عادات،

اجتماعیات، جزائی اصول، دجنګ قوانین، عدلی مسائل، حتی اقتصادیات هم پښودل شوی او فیصله شوی دی.
دپښتنو ولس دپښتنولۍ دقوانینو دتطبیق دپاره ځانته متخصصین او جرګې لري دپښتنولۍ عمومیات هر پښتون نر او ښځې ته معلوم دی. نو پښتنولي دپښتنو دپاره د ژوند ضابطه او قانون دی. البته دا قانون تر اوسه دپښتنو په منځکښې په روایتي او تعاملي صورت موجود دی او په کتابي رنګ کښې ئې بابونه او فصول ندي پیدا کړي. خو دپښتنو دروح سره اغږل شوی دی.

د هیواد نماینده له خوا :

# د شعر او شاعر په باب سوالونه

او د ښاغلی خادم ځوابونه

س : شعر څه شی ؟

ځواب - شعر یو آهنګک یو سرود او یوه نغمه ده چه په دقیقو، باریکو او لطیفو معناؤ مشتمله وی - ر او ځې هم د دغسی احساساتو، او لګیږی هم په همدغسی احساساتو - غر بیان وایی «د بد یعنی معنی بدیع تعبیر شعر دی!»

مګر شرقیان وائی : «کلام د خبر و مجموعی ته وایـی هر وخت چه په دغه مجموعه کښی یو خاص کیفیت پیدا شی نو شعر شی!»

ډاکټر اقبال وایی :

«حق اګر سوزی ندارد حکمت است
شعر میګردد چو سوز از دل ګرفت»

زه وایم چه «شعر د ژوندګی لطیف تعبیر دی !»

او که سړی لږ نور هم دقیق شی نو به وو ائی چه «شعر د روح اواز ادی چه روح ته کیږی !»

ښاغلی خادم وویل :- د ټولو ادیبا نو په اتفاق شعر دیوی طبیعی قریحی مولود دی. خو علم، کسب او معلومات د شعر په نغاست او ترقی کښی ډیر کومك کوی . همدغه وجه ده چه په ممارست سره هر شخص د عالم او کاتب کید و صلاحیت لری خو د شاعر کیدو صلاحیت نلری ډیر داسی کسان لیده کیږی چه په علمی لحاظ د مطول او مفـتاح ادبی نکتی په ښه شان حل کولای شی یو خو بیت چه وایی

هم سړی پوهیږو چه خوله یې ور باندی ورانه ؛ ورانه کیږی. په اوږد، لنډ، آهنګ او تقطیع باندی هیڅ نشی پوهیدای او ذوق یې نه لری. دا خبره دی ته راجع نه وی چه ګوندی ده فکر او ممارست ندی کړی. بلکه دی ته راجع وی چه دی د شعر ذوق نلری نو ځکه یې دې پلو ته توجه نده راګرځیدلی!

پدی بله خوا کښې داسی ډیر خلک لیدل شوی دی چه هیڅ سواد یې نه درلود، او ډیر لوی لوی او منلی شوی شاعران وو. لکه توکل، میرا، نوروز او داسی نور. د توکل دا بیت زما په نزد ډیر قدر لری.

«د هغو چراغ بل شو ترسحاره
چا چه کړی په عاشقو ظلم زور ندی»

نو شعر یوه قریحه ده. لکه څنګه چه اوبه هر چیر ته شته خو چینه په ځینی، ځینی ځایو کښې را اوخوټیږی. دغسی هر انسان د علم او کتابت د صنعت قابل خو دی. مګر شاعر هر څوك نشی کیدای.

او که څوك په زوره سره ځان شاعر کول غواړی.

نو دی خو به د شعر پسی منډی ووهی مګر شعر به ورنه په مخکښې ګړندی ځغلی او و به ئې نه نیسی. په زور خو به څه الفاظ پیوندګاندی، مګر سره نښتی به نه وی د «متشاعر» الفاظ داسی وی لکه د وچو تیږو باره که یوه و بل و ئیږی ټولی را لویږی، شاعر د بابا دم په اولاد کښې د یوه قسم ځانته فکر او نظر خاوند دی. کښینی او پاڅی له همدی خلکو سره خو وینی د آسمان ستوری او الوځی هم هلته.

دغه دلیل دی چه خلك په شاعر اودی په خلکو پوری خاندی.

ښاغلی خادم زیاته کړه چه زما عقیده داده چه شعر دانسان دفطرت سره پیدا دی! اومری به هم دانسان سره یوځای! څوپوری چه انسان ددی مځکی په مخ ژوند کوی، نو څنګه چه عالم، ادیب، کاسب اومتدین پکښی پیدا کیږی اوفنا کیږی نودشاعر بیت (کور) به هم پکښی تش پاته نشی. دابیله خبرده چه په شعر کښی به څه تطورات راشی. همدغه اوس هم تاسودشرق او غرب په شعر کښې ډیر تفاوت لیدلای شی. دغه تفاوتونه به ترهغه وخته پوری موجود وی چه څوپوری په انسان کښی تفاوت وی. که په انسان کښې تفاوتونه کیدل نودغه خلیج به هم ورو، ورو راتنګ شی خودنیا به له شعره خالی نشی ځینی خلك داسې فکر کوی چه دعلم اوصنعت دنیادشعردپاره ځای نلری خودا خلك نه دی پوه شوی زه خوداسی فکر کوم چه که رښتیا هم انسان چورساینس دان او تخنیکر شی او شاعر پکښې یوهم نه وی نو یقین لرم چه په دنیا کښې به دیو مدهش تصادم واقع شی اوورانه به شی ځکه چه خالصه خودخواه اومغادپرست انسان چه له عشقه خالی وی، هغه به دمصنوعې سپوږمی غوندی یوشی وی چه په فضا کښی دهریو جسم سره ولګیږی پاش پاش او ټوټې ټوټې به شی. د رحمن بابالاندی کلام دومره رښتینی دی لکه آسمانی کلام یا د ساینس کومه فارمولا:

«داجهان دی خدای له عشقه پیدا کړی
دجمله ؤ مخلوقاتو پلار دی دا»

ښاغلی خادم ددې پوښتنې په ځواب کښې چه شعر ویل
تر کومه وخته او څومره باید وی وویل: دې پوښتنې ته
زما فکر ورونه رسید.، نو ځکه یې جواب هم راته ګران
دی په شعر ویلو کښې وخت او مقدار څه دخل لری ؟
دشعر ویناخو څوپوری چه شاعر ژوندی وی او څومره
ورته الهام راځی بایدوی‌وائی.دشاعر نګاه نظر او تخیل
پخپله شعر دی.هو، دا بیله خبره ده‌چه شاعر ددغی نګاه
او تخیل دلیکلو دپاره‌زمان‌اومکان‌مساعد ګڼی،او که نه ؟
لیکی أسی او که نه! شعر شاعر ته اړتیا لری اوور پسی
ګرځی. شاعر له‌شعره‌ځان خلاصولای نشی . ده ته ځمکه
آسمان او کاینات په یوه بل رنګ جلوه‌کوی،ذره ذره
دشاعر سره خبری کوی دغه خبری شعروی.خوشحالخان
وایی «شعر ماپسی داسی ګرځی لکه سپی چه دسړی پسی
ګرځی!» وایی که زه یې پرېږدم دامې نه پرېږي دی دغه
دلیل دی چه خلك دشاعرانواحترام کوی‌اوموقع‌ور کوی
چه خپل الهامات ولیکلی شی ځکه که چیری‌د دغه‌الهام
مخه ونیول شی نوګویا دفطرت دیولوی‌فیضان‌مخه نیول
کیږی که دچا دافکروی چه دعلم او تخنیك په عصر کښې
به شعرورك شی نولکه مخکښې موچه وویل‌دافکر صحت
نه لری وګوری‌ه نن سوسیالستی دنیا دعلم اوصنعت دنیا
ده مګر څومره چه دفن او هنر قدرهلته کیږی ښایی چه
پخوا به هم نه ؤ ! ده وویل: مخکښې مو په شعر او شاعر
یوڅه خبری کړی دی خودا باید په فکر کښې وساتل شی
چه‌شاعر هم‌شاعر بویه .شاعر له‌متشاعره بیل‌شی‌دی‌او بله د اده
چه څه قسم شاعر مراددی؟ که تاسو د شاعر او متشاعر ،

ادب المعده او ادب الحیاة په مینځ کښې فرق وکړی نو بیا ماته جواب آسانیږی، که مراد دغسې شاعروی نو دشاعری مقام زما په نزد دغومره دی لکه څومره چه دزندګی مقام دی یا لکه څومره چه د علم، ساینس او فلسفې مقام دی. البته دومره خبره شته چه علماء صنعتګران او کسبه په یو وطن کښې ډیر پکار دی. خو دا ډیر هم یو تناسب لری. همدغسې شعرا هم دی. اول خو ټول خلك شاعران کیدای نشی. ځکه شاعر دفطرت ځوی دی. فطرت پخپله دتناسب مراعات کوی او ساتی ئې خو که مونږ دشاعر او شعر په باب لږ اغماض کوو او هر چا ته موقع ور کوو معنی به ئې دا وی چه مونږه دتجربې له مخې شاعر او متشاعر، د ځان شاعر، او دفطرت شاعر و پیژنو، او بیا ئې په هغه اندازه ونمانځو او غښ ئې کړو.

شاعر د یوه قام علمبردار او هغه کس دی چه دقام دناموس ښیښه ئې په بغل کښې ساتلې ده. ډاکټر اقبال وائی:

«دی شاعر رنګین نوا دقام دپاره»

«لکه قام ته دبینا سترګو انعام»

نو اوس خو به پوه شوی یاست چه دغسې یو کس څومره او څه مقام لری.

شعر د شعر دپاره که د ژوند دپاره؟ په ځواب کښې استاذ خادم وویل:

داسوال کاملاً بې ځایه، پخوانۍ، مبتذل او عبث دی ځکه هر کله چه د ژوند هر فعالیت د ژوند د پاره دی او قدرت دحیات او د نوعی دبقا دپاره داسې قوانین ایښی

دی چه په اتومات صورت افراد قربانوی او نوعه ساتی نو بیا دحیات یو دومره لوی فعالیت لکه شعر څنګه دځان دپاره کیدی شی ؟ بی له دی چه دژوند دپاره شی؟ که څوك شعر دشعر دپاره وائی نو دوی باید پدی هم اعتراف وکړی چه ښځه ښکلی اوحیسنه ده ، خودځان لپاره .

تاسی پخپله فکر وکړی ـ ښځه خدای ولی حیسنه پیدا کړی ده آیا بې لدی به څوك بل تاویل پیدا کړی چه دښځی دښایست مقصد فقط او فقط داولاد پیدایښت او دنوعی بقا ده که په زوجیت کښی دغه کشش نه وای نو باور نشی کیدای چه په مصنوعی القاح نوعه تر ډیره وخته ساتل شوی وای. نو اوس د قدرت د دی دومره اهتمام سره چه پر حیات ئی لری څنګه کیدای شی چه قدرت په انسان کښی یوه داسی غریزه او طبیعت هم پیدا کړی وی چه دهغی مقصد حیات نه ، بلکه بل څه وی ؟ نو شعر ـ دحیات دپاره دی بلکه حیات پخپله جمیل او حسین دی .

پدی خبرو که څوك نقد کولای شی په خوشحالی به ئی واورم !

(دهیواد له ورځپانی څخه)

❃ ❃ ❃ ❃

# زوړ باغوان

داځل ئې ټسکوره ډېره پورته کړه، اوچه په پوره طاقت
ئې دیوه زوز په سټه وار کړه .
نو ټسکوره ئې په خاورو کښې ډوبه پرېښوده او کړو په
ملائې لږه سمه کړه .
ښې ځ خپره ئې د ټسکورې په لاسټې را چاپېره کړه ، کینه
منګوله ئې پرې د پاسه کښېښوده ! سر ئې لږ ګسې خواته
واړاوه .
د نمر پلوته ئې وکاته ـ چه په خړوو ریځو کښې پټ ؤ
او زیړ بخنو وړانګو ئې د وریځو د نریو نریو درزونو څخه
اووده ځنا بونه په ځمکه را خپرول اولکه چه په دۀ ئې
خندل .
دۀ چه خپلو سپینو ویښتو ته ؤ کتل نو دده هم ونکی
څه لږ غوندې سره وتښتیدل !
اوچه په کین لاس ئې د تندی خوله پاکه کړه نو په وړو
ئې وو یل :
اخر مازیګر شو. زما ټوله ورځ دزو زانو په وهلو
تېره شوه !
ګلان به څه وخت کرم ؟
ځمکه لا بنجره پاتې ده .
دائې وویل: او بیرته لګیا شو دزو زانو په وهلو، دده
په زړه کښې تېره شوه زوزان ایستل خو هم کار دی .
زه به خپله وظیفه سرته ورسوم

انسان په خپله وظیفه مسئول دی او په خپله وسه پر، نور
ی بیا خپلې چارې په خپل وار سرته رسوی . د ده په کره
ملاوتیت سـ ، زوزان ایستل .

خو په ډیرو سوداګانو کښې ډوب ؤ :

عمر مې شپیتو ته ور سید .

آخر ما څه وکړل؟ ما باید څه کړی وای ؟ ولې و نشول؟
ماطاقت نه درلود ؟ زما لاره غلطه وه ؟ - نه !

نو زما باغ ولې دخندیدونکو ګلانو نه ډک نه شو ؟ هو
اغزی ، زوزان ، خنلیان !

اخر په دی نتیجه ورسید ! که زما باغ دخندا د ګلانو نه
ډک نه شو ، نو زوزان خو کم شول ، لاره خو صافه شوه !

کرونده کیدی شي .

دده ورو ستنی ء تسلی دا وه :

ما خپل کار کړ ی دی .

خپل اجر مې اخستی دی . چه هغه دخلکو د خندا او
خوښی ء د پاره خو لې تو یول ، ځان ستړی کـو ل ، او
زیـار ایستل دی !

او په دی خـدمت کښې ماته خـو شالـی ،سـکو ن ، او
اطمینان حا صل شوی د ی ! ! !

۲۳ دثور ۱۳۴۱

✲ ✲ ✲ ✲

# ښکرور غویی

د ملګرو په ډله کښې دی هم ناست ؤ هر چا خپل سرګذشتونه ویل یوه ورته مخ ور وړ او ویل یې:

سر کاتب صاحب ستا قصه خو هم ډیره عجیبه ده ) ده وویل هو! او بیا یې خپله قصه داسې شروع کړه:

په پلانی وخت او پلانۍ نیټه کښې ما د یوې علاقه دارۍ د لیک د څانګې کار په غاړه درلو.

د ده خپل علاقه دار نوم هم وښود. بیا یې خپلې قصې ته ادامه ورکړه: علاقه دار زه د یوې فقرې د تحقیق د پاره یوې قریې ته ولیږلم زه هلته په تحقیق بوخت وم. غرمه ده او ډوډۍ تیاره ده. مالاسو نه وو ینځل ډوډۍ ته کیناستم. په دې کښې یو سړی ساه نیولی راغی پاکټ یې راته ونیو ویل یې علاقه دار صاحب راکړی دی.

ما پاکټ بیر ته کړ. پکښې لیکلي وو چه که ناست یې راپاڅه او که ولاړ یې راروان شه!

زه هم په سودا کښې شوم پاخیدم چه راغلم، ګورم، زه یې نن له کوټې الیانو شخه یو ډیر غټ او روغ رمټ سړی سمه تخته مړ پر ت دی.

علاقه دار وویل دا زمونږ دریم سړی دی چه په دغه کوټه کښې د شپې خملی او سبا ته مړ موندل کیږي. هیڅ نه پوهیږو چه داخه چل دی.

علاقه داری له ولسه لږه وتلی په یوه کلا کښې واقع وه. په همدغه کلا کښې یوه بله کوټه وه چه یوې خوا ته پرته وه.

په دې کوټه کښې به چه هر څوک د شپې خملاست سبا ته

به مړ موندل کیدو.

دادریم سوی ؤ چه په دغه شان مړ شو. خیر د رشه چه وو دمړی سره خومو دمړو سلوك و کړ چه وزګار شوو. ما علاقه دار ته وویل صاحب ما ته اجاره راکړه بیګاته زه په دغه کوټه کښې شپه کوم.

ملګرو په دې خبره موافقه نه کوله ویل یې په دې کوټه کښې شپه کول په ښکاره مرګ ته غیږ ورکول دي. ما ویل چو ځوی دا سر معلوم نکړم نه یې پرېږدم. بیګا شو، او ما خپل کالي په کوټه کښې واچول، پریوتم. که څه هم زه په خپل زور مغرور وم خو بیا هم خوب نه راته. شپه ډیره تېره شوې وه زما سترګې هم د خوب له زوره مرغۍ مرغۍ کیدې. ناڅاپه غنګ شو د رواز ه بیرته شوه. ګورم چه یو غټ «ښکر ورغویی» په کوټه راننوت. زه او چت پاڅیدم. سمدستی یې سر راته اړم کړ. سر یې زما ګیډې ته. او دواړه ښکرونه یې زما له تشو په یو پلو او بل پلو برابر شول.

غویی په مخکښې ټیل وهلم او ما غویی په شا ټیل وا هه. تر یوې ښې شیبې پورې موزورونه وازمایل.

په آخر کښې مې پرې غږ کړ چه (والله که رانه خلاص شې) په دواړو لاسو نو مې دده ښکرونه ونیول او د (الله اکبر) د چیغې سره مې په ټول قوت دده اورمیږ تا و کړ چه په ځمکه یې وولم، که ګورم یوې توری پیشو په دروازه کښې زیړې سترګې راپوته کړې. (میاو) یې کړل او مخ په دروازه یې منډه کړه ما ور پسې غږ کړ ارمان دی چه روغ رانه لاړې!

# سړی څنګه شاعر کیږی

ړومبی دهر مرام اوهر مقصداومقام دحصول اورسیدو دپاره دهمدغه شی شوق اومینه په کارده . که سړی دخیاطی معماری - سنګتراشی - رنګمالی - اوداسی نورو کسبو نـو اوفنونو دزدکړی اراده لری نو ړومبی دی په ځان کښی فکروکړی چه ایاده دغه خواته دزړه میلان شته که نه، که میلان ئې نو په دغه شی دی لاس پوری کړی . بیشکه چه په خپلو شرایطو به یې حاصل کاندې .

دویم شی استعداد دی . هر کار بیل بیل استعداد لری او دهریو شخص استعدادونه متفاوت دی څوك دیـرو او څوك دلږوشیانو استعداد لری . بیاهم داستعدادونه په چا کښی قوی او په چا کښی ضعیف وی . داستعداد بحث مونږ په مخکښی کـړید ی مـګردا چه څوك دڅه شی استعداد لری ړومبنی علامه یی هماغه عشق او علاقـه ده . فطرت چه کومه موهبه چاته ورکړې وی نودهغی فطری اسباب ئې هم دهغه په خلقت کښی ورسره اېښی وی .

شاعری هم دمستظرفه فنونو دجملی څخه یوفن دی لکه دغه ټول چه په مشق او تمرین سره پخیږی او کره کیږی دغسی دشاعر کیدو دریم شرط هم مشق اوتمرین دی . لـیکن فرق دومره دی چه نورفنون چندان دکوم مخصوص طبیعت اومزاج پوری اړه نه لری هرسړی مثلا کولای شی چه کم و بیش خیاطی زده کړی مګر شاعری یوځانته مزاج اوقریحه هم غواړی . داشی باید په سړی کښی موجود اوسی . دا همغه شی دی چه مخکښی موور نه په استعداد سره تعبیر

کړدی. یعنی شاعري د نورو شیانو نه زیات خپل مخصوص استعداد پورې اړه لري.

مونږ ډیر لوی لوی علامه ـ او پوهان لیدلـي دي چه اشعار یې له سجعې بې انظباته او بې قافیې وایـې. شعر داسې شکسته او مات کاندي چه د ذوق دخاوندانـو زړونه ورسره بریښیږي. مګر دوی بیچارګـان پـرې نه پوهیږي چه دوی ګوندي په شعر ظلم کړی دی. او که سړی وغـواړي چه دوی په خپلو غلطو اشعارو ویلو یا ویجاړو لیکلو پوه کاندي نو هم نشي موفق کیداي، له دې کبله چه دوی، د شعر په ورانې وداني نه متحس کیږي او دا ځکه چه دوی ذوق نلري یا په بل عبارت فطرت د دوی په خټه کښې داماڼکه نه وي اچولي.

دشاعرانه قریحې د پیژندلو د پاره یوه لاره داهم ده چه سړی د موزونو کلماتو اهنګونو ـ ساز او سرود او خوش اوازۍ څخه خوند اخلي او مزه ورکوي. دا مه وایئ چه داسې به نو څوک وي چه په دې شیانو به لذت نه اخلي! ځکه چه داسې ډیر کسان شته چه د مطرب ترانې او د سیریندې ساندې ده ته د تیږو د ټکولو سره هیڅ فرق نلري. بلکه دخوړلو څښلو یا بل کوم احساس څخه خوند اخلي.

ژور شاعرانه مزاج او عالي استعداد له دې معلومیږي چه انسان هرشي ته په عمیق نظر ګوري. پوازې توب او زمزمه یې خوښه وي ټول ښکلي شیان یې خوښ وي ـ لکه

(۱) هلته یوه غونډه غوړسکه د چینارونه ولاړه ده ـ ور لاندې ښه شنه جلګه ده چې سیوري یې پرې اچولي دي او په خوا کښې یې سپینې خوړې او به بهیږي. (۲) د پسرلي په شنه ګلالي راغ. کښې لنګۍ ده، ئې بچو سره په څر لګیا دی

تورې بلبلې یې په شا ناستې دې او واړه ماشومان چه دا
بیایې دخوړو په یخې اوړو شکو کښې لو بې کوې. کله یو
څملوې او کله بل(٣) دواده دسازاو سرود مجلس چه هلته
واړه غټ جنګې ء اوهلکان راغونډې وې او هرچا بنکلې
جامې او غوښتې وې اودخپل توان سره سم پیغلو او هلکانو
ځان سنګار کړی وې. اوهمدغسې درحم اوزړه سوی مناظر
هم دې لیدو متا ثر کوی (٤) په سړو او یخنې کښې
شلیدلې جامې یتیم طفل ددې ناست دی.
(٥) دړې وړې مرغې په خوارې خوارې جالې جوړوې
بچې پکښې اچوې . پیشو ظالمه ورقې او په بیرحمې سره
جالې ورانوې او بچې یې خورې (٦) نیمه شپه ده نرې نرې
دژړا اوازراځي- سپوږمۍ ء دغره نه ایله سرو هلې دې او
ږومبنۍ ء یاسیمنې شغلې یې په ځمکه رااچولې دي دا ژړا
دهغه بنځې ده چه دمیړه دظلمه څخه پټه پټه ژاړې او
غواړې چه خپلې اوښکې دسپوږمۍ په سپین رومال پاکې
کړي .
دا- اوداسې نورهغسې مظاهردي چه دجمال او حسن
طلبې ء او رحم اوعاطفې احساسات راخوزوي چونکه دانسان
نوعه شریکه ده له داسې کیفیاتو تر یوه حده هر څوك متا ثر
کیږي . مګر شاعر له داسې مقاماتو نشي تیر یدای چه څو
ورته ونه دریږي. پکښې چرت ونه وهي او تقریباً یا ورته
ونه ژاړي یا ونه خا ندې .
حاصل داچه په شاعرانه مزاج کښې دجمال پرستې او
عاطفې احساسات تر نورو په ډیرو مدارجو قوې او ټینګ
وې همدغه وجه ده چه خدایې الهامات زیات دشاعر په

زړه کيږي اوهمديته اشارت شوی دی چه (الشعراء تلا ميذ الرحمن) تردغو ورو سته شاعر دښه فصاحت اوښه بيان خاوند هم وی اودا دفطرت لهخوا دهته بخشش شوی دی.هغه څه چه نور تری تعبير نشي کولی دی ئی تری کولی شي . ده سره دالفاظو او کلماتو دومره ذخيره وی چه دی په الفاظو حکمرانی کوی.هره کلمه چه وغواړی په مناسب ځای کښی پخپله دده استخدام ته حاضريږی اودی ورنه کار اخلی زرګر پيزوانو نه جوړوی او نجونی يی په پوزه کوی ، او بړی سازوی او پيغلی يی په مرمری سينو اچوی ، هار ونه او اميلونه جوړوی او نازنينانی يی په غاړه کوی .شاعر هم دغه شيونه جوړوی مګر دالفاظو څخه.دهيڅ زرګر پـه ګانه او دهيڅ خياط په لباس ځوك نهدی مست شوی مګردشاعر په جوړ کړی افسون پريرويان ناڅی اولا-ونه غورځوی. د اد شاعر فطری مواهب اوعلايم دی مګرهغه چه تعليم او اکتساب پوری اړه لری هغه دادی چه هر استعداد پـه تعليم او تمرين سره ښه بروز کوی او کمال تـه رسيږی . نوددی دپاره لازمه ده هغه ځوك چه غواړی شاعـر شی بايد داساتذه‌ؤ کلام ولولی او په ياد يی وساتـی چه څو دده سره يوه ذخيره پيدا شی او په تمرين او مشق ورته يو ذوق په لاس ورشی چه دموزون اوغير موزون کلام فرق پـه روغ ډول وکړی شی او بيا دالفاظو او کلماتو حسن ترکيب او امتزاج وپيژنی تردی وروسته دی پخپله دابياتو په جوړولو شروع وکړی مګرپه ومبی دی دخپل هر شعر دپاره يوه نمونه په نظر کښی نيسی دهغه اقـتفاء کښی دی څه وايی اوددی دپاره چه شاعری فن دی علم نه دی او پـه

کتابونو لوستلو نه زده کیږی نو باید یو۔ کره استاذ تحانته پیدا کړی او خپل خام دی په هغه پخوی چه ضمناخپلی سهوی او د کلام غلطی ۔ و پیژنی هو۔ ښه شاعر ته په تولو علومو عبور لازم دی۔ ولی د کاغذ د کتاب نه ورته د فطرت د کتاب مطالعه ډیره ضرور ده نو که خدای کول په دغه شان سره به دی ښه شاعر شی نو په نیمو شپو کښې چه نورخلك په خوب ویده وی. دی به بیداره وی داسمان ستوری به شمیری۔ خلك به خاندی او دی به د نورو دپاره ژاړی. خلك به عیش وعشرت کوی او په ده به حیات زهر وګنلیږی. البته دده بیداری به دقوم او ملت بیدارې وی. دده او ښکی به د پسرلی باران وی. سمی او غر ونه به پری شنه کیږی. حیات به په ده ګنلیږوی خو به نورو بـه یی شات ګرځوی. نو که زمو نږ لمیان شاعری غواړی نو خدای دی یی دغسی شاعران کړی.

خرد کر باس راز رینه سا زد
کما لش سنګك را آئینه سازه
نو ای شاعر رنګین بـیـا نـی
زنیش زندګی نو شینه سا زد
اقبال

# د احمدشاه بابا پښتونــولـی

کوم وخت چه نادر شاه افشار په مشهد کښې یـخچـاله دایر انیانو له لاسه په قتل ورسید، نواحمدشاه بابا پدغه وخت کښې دغلته داحمد خان په نامه دنـادرشاه په فوځ کښې لوی جرنیل ؤ. دنادرشاه دوژلو په وخت کښې پر ته لــه احمــد خــا نــه نـور نــهه تنه پښتنا نه سر داران هم دنادرشاه په عسکر کښې په ایران کښې مو جود وو. یو له دغو نهو تنو څخه حاجی جمال خان دپا ینده خان پلار اودوزیر فتح خان اودامیر دوست محمد خان نـیکـه اودمشهور مجاهداووطن پرست غازی اکبرخان ور ینکهؤ فیر یر فر انسوی دپښتنو دتاریخ په ٦٨ مخ کښې لیکی چه دغوسرداراونو ته تجربی ثابته کړې وه چه دپښتنو دمحکومیت اوغلامی اصلی سبب ددوی بی اتفاقی، اغراض او کورنی ؛ جګړې دی، نه درقیب قومونو زور اوقوت!

په دی وجهه دغو سردارانو دنادرشاه له مرګه پس یوه جرګه وکړه او پههغې کښې ئې په قرآن قسمونه وکړل نو به پس لهدینه په مینه محبت اواتفاق یو تر بلهژوند کوو.

دوی دغه جرګه دیوې میاشتې دپارهخپره کړه. او وئې ویل چه پهدغه موده کښې باید مونږ پهفکر سره د پښتنو درواجونو اوروایاتو سرهسم څه اصول پیدا کړو چه دپښتنی حکومت بنیاد اواساس وی. دپښتنو سر دارانو ددی جرګې یو محرك هغه حمله هم بلـل کیـده چه ایرانیانو دنادرشاه له مرګه پس په دغو پښتنو باندی

کړی وه او په دغه حمله کښې ډیر پښتانه دایرانیانو له لاسه مړه شوی وو، څه موده پس بیا پښتنو سردارانو یوه بله جرګه وکړه په دې جرګه کښې په قطعي طور پریکړه وشوه چه پښتانه باید نور دهیڅ غلامۍ ته غاړه کښې نږدی. دوی تصمیم ونیو چه باید دپښتنو په منځ کښې دوروولی، اتفاق او تنظیم اساسونه تقویه کاندی پدغه وخت کښې ددغو پښتنو په مغزو کښې دپښتانه قوم تاریخي عظمت اودخپلواکۍ جذباتو چپې وهلې او دپښتون قوم دجاه وجلال اوشان وشوکت خوبونه به یې لیدل.

تردې وروسته دغه سرداران اونور پښتانه کندهار ته راغلل په کندهار کښې بیادغو مشرانو یوه جرګه وکړه او په دې جرګه کښې ئې په اتفاق نورمحمد خان علی زی دفوځ له سپه سالارۍ موقوف کړځکه چه دی دنادرافشار له لاسه ناست ؤ. ددې نه بس دغو مشرانو دکندهار دټولې علاقې یوه لویه جرګه راغونډه کړه چه په هغې کښې دابدالیانو، غلجو، بلوڅو، هزاره ؤ مشران شامل وو. دوی په اتفاق سره داخبره فیصله کړه چه دایران سره تعلق پریکول په کار دی ځکه چه ایرانیان او پښتانه بیل بیل خواص لری، اویوپربل حکومت نشی کولای او دائی لازمه وبلله چه داجرګه دې خپل بادشاه غوره کړی چه هغه دخپل ملك او ملت دانتظام واګی په لاس کښې واخلي. وائی چه پر له پسې اته جرګې وشوې، مګر هرکله چه له هری خوا قوی سړی کاندید شوی وو او ډیر طرفداران ئې لرل فیصله کول ډیر ګران کارؤ. پدغو کاندیدانو کښې ذکر شوی حاجي جمال الدین خان دمحمدزو سردار اومشرهم موجود ؤ.

واٸي چه پهدغو جرګو کښې يو پښتون ملنګ چه «صابر شاه» نوميده هم شامل ؤ. پهاخره کښې صابر شاه راپاڅيد وٸي ويل «پښتنو! دخداى دپاره داجرګې خپرې کړئ داڅهشور اوغوغا موجوده کړيده؟ ـ خداى تعالى پهتاسو کښې احمدخان يو لوى او درونده سړى پيدا کړى دى، هغهپهټولو پښتنو کښې پههرڅه ښهدى او قابل هم دى. نو کهتاسو خداٸي کار نهمنئ، نود خداى تعالى قهر به دربانذې نازل شي!ـ» داٸي وويل اودا وربشو يوه کوډه ٸي راوښکوله اودا احمدخان پهپګړۍ کښې ٸي وټومبله. ويل ٸي خداى دى داستا تاج کړى!ـ تر دې وروسته حاجي جمالخان اونورو ټولو سردارانو تقريرونه وکړه اودا احمد خان پهلاس ٸي بيعت وکړ.! احمدخان دټول قوم پهمنځکښې پهبيغرضۍ دحکومت کولو، اودټول قوم دمشترک مفاد لټولو دپاره عهدونه وکړه ـ په١٧٤٧ع کال پهيو مسجد کښې داحمدخان باقاعده تاجپوشي وشوه، او دباد شاه لقب ور کړى شو. پهدغه وخت کښې داحمد شاه بابا عمر ۲۳ کاله ؤ مګر پهرښتياۍ، ايماندارۍ، تقوى، نيکۍ پهقومي جرګو کښې پهدرنهوضعه، پهمشوره کښې دراٸي پهپخوالۍ دقومداخلاقو څخه پهواقفيت هرچا پيژندلى ؤ، نو ځکه ٸي پهټولو پښتنو مخصوصا پهابداليانو کښې ډير رسوخ درلود.

احمد شاه بابا پنځهويشت کاله حکومت وکړ. هغه حکومت چهله نشته دهشته کړى ؤ، ددهدوفات پهوخت کښې ٸي دشمال لهخوا سرحد دآمودرياب اودکافرستان دغرونو پورې رسيدلى ؤ ـ اود لمرخاته پلوته ٸي دتبت کوهستان، ستلج

او اباسیند حدؤ- جنوب ته ئي .دعمان خليج ؤ، اوغرب ئي خراسان ،ایران، اوکرمان ته لګیدلی ؤ. دده د حکومت دوره دپښتنو او نورو خلکو دپاره دسعارت، خوښی، ودانۍ، امن اوعدالت زمانه وه. په احمد شاه بابا باندی د ځینو خلکو اعتراض دادی چه ده ملکونه ونیول اوو ئي نه شو ساتلای . مګر اصل خبره داده چه احمدشاه د خپل پښتني خوی پر بنا دجهانګیری ږوږی نه ؤ. په حکومت کښی دهغه مقصد استعمادر نه ؤ. بلکه دامن او عدالت، مساوات اوخدمت په اراده دده اکړاوونه په سراخستی وو. او شك نشته، چه دی دپښتون ملت بانی اوشم خادم ؤ! او داکار دده دعشق درجې ته رسیدلی ؤ .

په دی ځای کښی مونږ نه غواړو چه د احمدشاه بابا دجنګونو، فتوحاتو، او مبارزو څخه بحث وکړو. بلکه زمونږ په مخکښی یوسوال پروت دی دهغه جواب لټوو . هغه سوال دادی چه داحمدشاه بابا ددی ټولو حیرانوونکو کامیابیو علته العلل څه شی ؤ ؟ دی کښی شك نشته چه احمدشاه فوق العاده شخصیت، نبوغ، دها او لیاقت درلود . مګر هم دومره خبره دسوال جواب نشی کیدای !

دسائل په زړه کښی داخدښه پاتی کیږی چه آخر دغه لوی انسان کومه لیاره غوره کړه چه دغی کامیابی ته ور باندی ورسید؟ ځکه چه دلویو خلکو اصول او مقررات د پیرو زمانو، پوری داستفادی وړوی. بله داده چه تاریخ یو متکرر ځیز دی. که هغسی اسباب، علل، شرائط اصول او مقررات بیا تکرار شی ممکنه ده چه ښه نتیجه ورکړی .

مخصوصاً د پښتنو د موجوده مشکلاتو په وخت کښې د احمد
شاه بابا د کامیابو اصولو په فلسفه غور کول د هر مفکر
پښتون او افغان وظیفه ده. اوس د تاریخ له پاڼو دغه جواب
غواړو! پښتون لیډر قاضي عطاء الله خان مرحوم په خپل
کتاب د پښتنو په تاریخ کښې لیکي چه کوم وخت احمد شاه
دراني په تخت کښیناست نو دده په مخ کښې دوه لوی کارونه
پراته وو. یو د پښتنو خپری او تیت وپرك څانگی د یو ملیت
اوقامولی ء په دائره کښې راغونډول - او په هغو کښې
د مشترك قومیت جذبات تازه کول او ټینگول - بل د یو قوی
او کلك حکومت تهداؤ ایښودل. هر کله چه احمد شاه بابا
د پښتنو دخوی خصلت اودهغوی درواجونو اوعاداتو ښخه
ښه واقف ؤ، او خدای تعلی ورته روڼ دماغ اوصاف ضمیر
ورکړی ؤ، نو هغه دخپل حکومت دپاره یوه داسې طریقه
غوره کړه چه هم فطري وه اوهم دپښتنو په زړونو کالو
روایاتو برابره. داسې چه دڅد ټولو پښتنو قومونو
سرداران اومشران ځان سره د حکومت په ټولو معاملو
کښې شریك اوشامل کړل. هغه ته دا معلومه وه چه څو
پوري د پښتنو هر قام او هره قبیله د آزادۍ او خپل
حکومت خوندوا نخلي اوڅو پوري چه زه دوی ته دحکومت
په هره شعبه کښې برخه ورنکړم تر هغې په دوی کښې
دقامولی ء جذبه اودقومي ژوندون احساس ټینگول مشکل
کار دی نو احمد شاه بابا د پښتنو دقومونو کورنۍ ء چاری
لکه د مشرانو مقرول، داخلي امن اوفیصلې کول، ماتې
ګوډې د خپلو پښتني اصولو د شرائطو لاندې په
جرګو سمول او داسې نور کارونه خپله قومونو ته

ور پرېښودل. او په لويو لويو خبرو کښې لکه د نورو قومونو سره جنګ یا صلحه کول یا په ټول ملک کښې د یو خاص نظام یا قانون جاري کول، یا په خلکو باندې غیر معمولي محصول یا مالیه لګول، او په دغسې خبرو کښې به یې د قومونو د مشرانو او سردارانو سره مشوره کوله او صلا به یې ورنه اخسته بیا به یې اقدام کاوه. احمد شاه بابا د پښتنو هر قوم ته په قومي اصولو د شاهي فوځ د پاره د لښکر ورکولو تعداد معلوم کړی ؤ. د احمدشاه بابا لوی قابلیت داؤ چه هغه خپل هر کار ته قومي رنګ ور کاوه.

هغه ځان ته «پښتون بادشاه» وایه. ده به ویل زه پښتني قومیت او حکومت جوړنګوم. او د پښتنو د خیالاتو او د پښتو او پښتنولۍ د تهذیب او روایاتو په بنیاد حکومت کول غواړم. احمد شاه بابا به چه له پښتنو څخه هره غوښتنه او تقاضا کوله نو د پښتو او پښتنولۍ له مخې به وه «هغه به ویل پښتنو وروڼو! د پښتو په روی ما سره داکومک وکړئ!» یا به یې ویل: «پښتنو عزیزانو د پښتون د سر لوړۍ د پاره راولاړ شئ داکار وکړئ!»

احمد شاه بابا به هیڅکله کوم داسې کارته لاس نه اچولو چه د ټول قام مشترکه فایده او ګټه په کښې منظوره نه وه. د پورته اصولو په بنا هغه د پښتنو د لویو قومونو څخه د نهو تنو مشرانو یو وزارت جوړ کړو. او په ټولو معاملو کښې به یې د دغه جرګې په فیصله عمل کاوۀ. د ټول قوم او سردارانو ژبه په جرګو کښې او باهر له جرګو څخه پښتو وه. فیصلې به د پښتو په رواج او قانون کېدې. هیڅ کار به د قام د مشرانو د منظورۍ نه بغیر نه کېدۀ. رشتیا

خبره داده چه لوی احمدشاه دلوی افغانستان لوی بادشاه نه، بلکه مهربان پلار ؤ. ځکه نو خلکو ورته (بابا) لقب ورکړو. په پښتنی تهذیب کښی ددینه بل لوی او معنی دار لقب نشته! - دا نه وه چه ګوندی احمدشاه بابا یوازی د پښتنو مشر، محبوب، بادشاه او پلار ؤ، بلکه دافغانستان نورو قومونو هم دهٔ ته دهمدغه احترام په نظر کتل. ځکه چه احمدشاه بابا دحکومت کولو دپاره یوځه اصول لرل دا اصول اګر چه پښتنی وو. لیکن د حکومت فواید او ښیګڼې دکوم خاص قوم اوخاص ټبر د پاره مخصوص نه وې بلکه ټول مملکت پکښی مساوی ؤ.

پښتنی اصول د نظم انتظام، دحکومت دتحکیم، دخلکو دخوشحالی، آزادی اومساوات ساتلو او په یوه نقطه را غونډولو دپاره منل شوی وو. د دغو لوړو اوعالی اصولو په بنا خلکو احمدشاه بابا یو بادشاه نه، بلکه یو ولی اود برخی خاوند ګڼلو. کوم وخت چه احمدشاه بابا په تخت کښیناست، نودستی یی دقامونو « لویه جرګه » راوبلله. دې جرګې ته ئی په خپل سلطنت کښی دهغو ټولو علاقو د شاملولو تجویز وړاندی کړو چه هلته پښتانه اوسیدل. په دغو علاقو کښی غزنی، کابل، پېښور هرات او دپښتنو ځینی نور غربی ولایات شامل وو چه دایران په لاس کښی وو. جرګې فیصله وکړه چه دا علاقی دې آزادې کړی شی. ولی عجالتاً دکابل، غزنی او پېښور دآزادۍ دپاره اقدام لازم وبلل شو.

دکابل ګورنر یو سړی ؤ چه ناصرخان نومیدو دی د مغولو لهخوا مقرر شوی ؤ، خو کوم وخت چه

نادرشاه دی مات کړ ، نو بیرته یی له خپلی خوا په همدغو علاقو مقرر کړو . احمدشاه بابا ، ناصر خان ته و لیکل چه دغه علاقی د پښتنو دی ، دا خوشی کړه . ناصر خان انکار و کړ . داوخت دکابل په بالاحصار کښی ۱۲زره قزلباش پراته ووچه نادرشاه دځان سره راوستی وو . دا خلك ناصرخان دجنګك دپاره تیار کړل . له بلی خوایی کو شش شروع کړو چه هزاره او وزبك په فوځ کښی و نیسی ، مګر «هزاره او وزبکو داحمدشاه سره دجنګك کولو نه انکار و کړ» او ناصرخان ته یی چور پر یکړی جواب ور کړ . تر دی وروسته ناصرخان دیوی معمولی مقابلی نه وروسته میدان پریښود ، او وتښتید . په دغه شان سره دقومی اوملی قوة او اتفاق په مقابل کښی هیچا دمقاومت تاب نه درلود . ناصرخان له اټکه یو ربوت او ټول پښتنی هیواد داحمدشاه دبیرغ لاندې دعزیز ولی په رنګك کښی متحد او متفق شو .

داحمدشاه بابا پهلاس درانی ، غلجی ، یوسف زی داشنغر محمدزی ، اود مهمندو نه راواخله ترسیستان او کاکړو پوری ټول پښتانه یوقام اویو ملت شو . ایلفنستن وایی چه داحمدشاه دپښتنو سره دومره مینه او محبت ؤ چه که چیری به کومی قبیلی د ده نه بغاوت وکړو .

نو هم ده به ورسره د جنګك کولو نه ډډه کوله . دده دانه پیرزو کیده چه دده پهلاس د ې پښتنو ته د ځان یامال نقصان ورسیږی . احمد شاه بابا به یو سفزو ، ترکانړو ،کیکیانړو ، او تخا نخیلو ، برمهمندو ، دهشنګر شنګر محمدزو خلیلو ، مهمندو ، اپریدو ، شینوارو ، ورکزو ، داؤزو

خټکو او بنګښو ته «بردراني» ويل، او خپل نږدې قام
يې ګڼلو.

دجنوري په ۱۱ - ۱۷۴۸ ع کال کښې چه حيات الله خان
دپنجاب مغلي ګورنر په لاهور کښې داحمدشاه بابا په مقابل
کښې ماتې وکړه، اوډيلۍ ته وتښتېد نو احمد شاه بابا
دلږ توقف نه وروسته د ډيلۍ په خوا روان شو. د ډيلۍ
شهنشاه دوه لکه لښکر دده مقابلې ته را واېست او قمرالدين
صدراعظم يې ور باندې سپه سالار مقرر کړ. په ۲۵ دفروري
دمغلو فوځ سرهند ته راورسېد. دوی وليدل چه علي محمد
خان دسرهند ګورنر چه يو پښتون سړی ؤ قلعه يې پرېښې ده
او پخپله تللی دی. اوس نو دوی ته څرګنده شو چه
پښتون دپښتون ورور سره جنګ کول نه غواړي. دپانی پت
په مشهور جنګ کښې داحمدشاه سره پنځوس زره فوځ
ؤ. په دې پنځوس زرو کښې لس زره هغه کسان وو چه نواب
شجاع الدوله دحافظ رحمت خان دکورنۍ مشر، دخان سره
داحمدشاه بابا دکومک دپاره درو هلکينډنه راوستي وو
اوعلاوتاً دېرش زره نور روهيلي هم دايله جاري په طور
داحمد شاه بابا تر څنګ حاضر وو. پښتانه چه هرځای ؤ
احمدشاه بابا ته يې دبادشاه په سترګه نه، بلکه د خپل مشر
او ليډر په سترګه کتل، اودده امر يې بې دليله منلو. په دغو
دلايلو دی پر هرځای کښې کاميابېدو. د احمدشاه بابا
شخصي اعمال بيخي پاك او صاف وو کومې ورانۍ چه
دمشرق په سلاطينو کښې دغه وخت موندل کېدې په ده کښې
نه وې. په معاملو کښې بالکل سم، په لوظ قول کښې ډېر پوخ
ؤ. پنځه وخته نمونځ به يې کولو هيڅ نشه يې نه کوله. دهر قسم

حرص ، منافقت لانجاو ظلم څخه پاک ؤ . په قومي معاملو
کښې هغه په خپل قوم بالکل مین او شیدا ؤ. فیریر وایي چه
احمدشاه به په خپل سلوک او محاوره کښې ایماق، تایمني
بلوچ او نور چه دچاړ به پښتو او نژاد پښتون نه ؤ، پښتانه بلل .
احمد شاه با باخپل ولیعهد ته نصیحت کښې ویلي وو چه
هیڅکله باید دچا غوږ ، پوزه غوڅ نکړی شي . د ښځو
طلاق هغه ډېر بد ګڼلو . اود بادار نه یې د خپل مریې
دوژلو اختیار سلب کړلو . بادشاه ته په دربار کښې ټیټېدل
او ځمکه ښکلول هغه شرک ګڼلو . حکم یې کړی ؤ چه
د بادشاه داحترام په وخت کښې دسړی لاس په تندي ږدي
او سلام دې کوي . د علماؤ مجلس یې ډېر خوښ ؤ او له
هغوی څخه یې د دین او دنیا معلومات حاصلول او استفاده
به یې کوله . د حکومت د انتظام دپاره هغه باقاعده
قوانین منضبط کړی وو . اولوی واړه ټول ددغه قوانینو
پابند وو. ده له خزانې څخه دخپلو ذاتي اغراضو دپاره
یوه پیسه نه اخستله . حتی الوسع به هغه خپل لوی مخالفین
هم نه وژل . د پښتنو د قومونو په منځکښې به هغه د یو
پښتون په حیث جرګې او روغې کولې . د پښتو په ادبیاتو کښې
هغه ډېر اوچت معلومات او علم لرلو ، او پخپله د پښتو
شاعر هم ؤ . دعلماؤ فضلاؤ درایې د آزادۍ احترام به یې
ساتلو . هغه په هېڅ مصیبت او تکلیف کښې له خپلې رایې
څخه نه آووښتو . فیریر فرانسوی مورخ وایي داحمدشاه
عهد دخلکو دپاره ښېګڼو او خوشحالیو عهد ؤ . احمدشاه
په خپله ډېره ساده وضعه او سلوک دخلکو په زړونو کښې
ځای نیولی ؤ . خلک ورته په ډېرې آسانۍ سره رسېدی

شول . خلکو سره یې سختې خبرې نه کولې . خلک به یې رضا ساتل . او هېچا دهغه دفیصلو نه شکایت نه ؤ کړی . میلسن هم دغو ټولو خبرو تصدیق کړی دی . نو مورخین وایي : چه احمدشاه طبعاً نرمۍ او رحم ته مایل ؤ . اګرچه په حکومت کښې سرې سختۍ کولو ته اړ کېږی . داحمدشاه طبیعت بشاش او خوش خویه ؤ . په دربار کښې خو به یې خپل وقار ساتلو . مګر عمو ما د هغه طبیعت او سلوك دخلکو سره په سادګۍ او اخلاص بناؤ . ده به کوشش کاوه چه ځان کښې دبزرګانو خوی خصلت پیدا کړی .

داحمدشاه بابا په باب دټولو مؤرخینو دارائو خلاصه داده : «احمدشاه په اصلی معناوو کښې پښتون او دپښتنو دقومیت بانی ؤ . دهغه زمانه کښې غیرت او عزیزولۍ ته پښتو ویل کېده . د ینداری ، مېلمه پالنه او بهادری پښتو بلل کېده . هر یو نیك او ښه صفت دپښتو په تعریف کښې داخل ؤ . او دده ددربار ژبه پښتو وه . او دده د سردارانو ټول خصلتونه په پښتو بناوو . دعزیزولۍ ټکی دده دزمانې نه شروع شوی دی . ددغې عزیزولۍ په نوم ده ټول قام دخپل ځان نه راچاپېر کړی ؤ .

✡✡✡

# د انتقام حس

یوه ورځ د یو دېوال په خوا کښې روان وم. د دې دېوال په بېخ کښې د غټو مېږو سوړه وه.- زما ورته پام شو. فکر مې کاوه چه پښه ور باندې کښېږدم- ډېر مېږي په بېړه اوتر اوتر ګرځېدل -

یو مېږي ته مې پام شو چه ګوډ ګوډ او پښه نیولې روان ؤ. زه ورته ودرېدم، ځیر شوم او ورته کښېناستم، کتل مې چه د یو غټ مېږي د وروستنۍ ښا نګې پوري یو شی نښتی برېښي.

مګر په دې لحاظ چه غټ مېږي په وارخطائي سره د تېښتې په ډول ګړندی حرکت کوی پوره سترګو ته نه راځي چه دغه نښتی شیز څه شی دی.

سودا مې لا زیاته شوه، او د مېږي حرکت مې د نظر لاندې ونیو.- مېږي د دېوال په ختلو شروع وکړه. تر نیمائي چه ورسېد لاندې راولوېد. دلته مې دومره حس کړه چه د غټ مېږي د پښې پوري څه خوځېدونکی شیز نظر ته راځي !-

مېږي بیا د دېوال په ختلو پیل وکاؤه، او په ډېره وارخطائي ځغلی. تر یوه ځایه چه ورسید هلته په یوه کوتي کښې لږ ځند شو.-

دلته یې نوري پښې ټینګې کړې، سره یې راوګرځاوه غوښتل یې چه په خوله باندې خپله پښه د نښتی خیز څخه

خلاصه کړی . ډیر راغبرګ شو . خو خوله یې پښې ته
ونه رسیده، او په پنجو او خپړو لګولو ئې ځان خلاص
نشو کړای !

دلته ما ته دا فرصت په لاس راغی چه نښتی ځیزووینم
او وئی پیژنم . غټ میږی بیرته په هماغې سرګردانۍ سره
په لاره سر شو .-

خو ما وڅیډ چه یو ډیر وړوکی میږی دغټ میږی دپښې
په خپړه خوله لګولی ده او کلك ور پوری نښتی دی !

غټ میږی به چه تلو، ده به پښې خرلی چه دغټ میږی د تګ
او ارادی مانع شی .- په دغه لحاظ غټ میږی ګوډ ښکار بدو !-

غټ میږی اکثره واړهٔ په عذابو ی .- او دا هم داسی کوم
کوچنی میږی ؤ چه دغټ دلاسه په تکلیف شوی ؤ .
نو دانتقام په احساس ئې غټ دغومره ټینګک نیولی ؤ چه
نه دهٔ پریښود، او نه هغه ځان خلاصولای شو !

✲ ✲ ✲

# دیانت او روحانیت

دین دژوند هغه سمه او مستقیمه لاره ده چه دایمان په رڼا کښې پرې انسان دیوداسې عالي هدف پرخوا یون کوی چه دشخصي اغراضو اودهوا اوهوس دناولتیاؤ نه پاك وي. دیانت پخپل ځان کښې هغه سیر اوسلوك ته وایي چه آمال یې دوظیفې شعور، دخلکو خدمت اود بشر سره مینه او دحق سره عشق دی .

دحق نه انکار نشي کیدای البته سترګې ور نه پټیدای شي غفلت ور نه کیدای شي. شاور ته اړول کیدای شي که حق ته سړی په زوره شا ونه کړځوی، نوهېڅکله به پـه باطل کښې و نه لویږی. که سړی لږ هم فکروکړی نوحق ظاهر او باهر دی اوهیڅ استدلال نه غواړی بلکه استدلال یې لا پټوی اوورك کوی .

زما زړه ته داسې راځي چه دیانت په حقیقي معنی سره نه، کلاسیکې معنی: دانسان په خټه کښې اخښلې څیز دی. ځکه دهر انسان په زړه اوضمیر کښې دنیکي، احسان اوخدمت جذبه شته که نه؟ (نه) به هیڅوك و نه وائی .

نود(هو) په صورت کښې باید پوښتنه وکړو چه دنیکۍ او احسان منشا، مبدأ اوغایه څه شی دی؟ مونږ د «نیـکی هدف دی که واسطه ؟» په اقتراح کښې دا ثابته کړیده چه نیکي واسطه نه ده او که واسطه شوه نیکي نه ده .

ما ته دغه ټکي د «دیانت» بنیاد ښکاری. ځینې کسان په دستي په دی شبهه کښې ډلویږی چه ډیر بېدینه خـلك

نیکی او احسان کوی او پیر دیند اره خلك نه نیکی کوي او نه احسان. مگر مخکښی مونږ دیانت په حقیقی صفت سره مقید کړی دی. او د کلاسیکی اصطلاح نه مو احتراز کړی دی نو ځکه ددغی شبهی دپاره ګنجایش نه پاتی کیږی.

تراوسه پوری «روحانیت» دمادیت مقابل او ماوراء المادة باندی ایمان راوړل ګڼل شویدی دابده خبره نده. ماده دټولو هغو شیزونو سټه ده چه دری ګونی اقطار لری. او چه دری واړه اقطار یعنی طول، عرض او عمق نلری هغه جسم نه دی. عشق، نیکی او احسان ښخپله ښکلی او جمیل شیزونه دی. او مطلق جمال «حق» دی.

که میتر یالستی، ماده پرستی او په ماده ایمان لرل وی، نو یو ماده پرست چه یواځی په ماده او مادی لذایذو ایمان لری نودی ځنګه د نوروخلکو د بقا، فایدی، اعتلاء او خوښیء دپاره ځان فانی کوی؟ او هر څوك چه دغه مقام او ځای ته رسیږی؛ دغو خلکو په ځان کښی سلوك کړی وی او په دوی کښی دروحانیت رڼا پیدا شوی وی. نو که دغی رڼی سپرغی ته پکښی ووهی، حق ته رسیدی شی.

نو روحانیت رښتیا چه ماوراء الماده باندی ایمان او د حق سره عشق دی. چه آخر یی خدای او خالق ته رسیږی. او که داسی تفسیر و نشی نو یو ماده پرست انسان به ځنګه و منو چه دغیر مادی او ماوراء الماده شیز پرستش کوی دلته به تناقص واقع شی.

ادیانو په انسانانو کښی دفطری روحانیت دغه جذبه

لیدلی ده. دغې جنبې ته یې دشریعت رنګ ورکړیدی او دیوی جادی اولاری په ترتیب یې انسانانو ته وړاندی کړیده چه متکامل صورت یې داسلام دین اوشریعت دی.

زمونږ دبیان نه دانتیجه لاس ته راتلی شی چه روحانیت یوه رڼا اوسپرغۍ ده چه دانسان دختې سره اخښل شویده دارڼا تازه کیدی هم شی که انسان کوښښ وکړی، خپل ذوق، وجدان اوعمل تصفیه کړی نوروحانی درجه موندی شی اوددغی درجی مآل دادی چه انسان دوړووړوخبرو، شخصی اعراضو، نفسی خواهشاتو او مادی لذایذو څخه پورته شی. یواعلی سرور اودایمی خوشحالۍ ته چه به ټینګ ایمان، کلکه عقیده او دخلکو اوحق په مینه او عشق متکی وی رسیدل غواړی. نو دخپل ذوق وجدانی صفا اودایمان دکلکوالی په اندازه له دغی خوشحالی او سرور څخه برخه مومی نوځکه خلک وایی د«برخی» خاوند دی.

دغسی خلک دعشق اووظیفی له مخی، دوجدان په امر دخلکو خدمت خپله فریضه ګڼی.

مناهی اومنکرات پخپله بد ګڼی په دغه شان سره پدغسی اشخاصو کښی لوی قوت، لویه انرجی او دژوند نه مغلوبیدونکی طاقت پیدا کیږی.

نوروحانیت ددیانت مبدأ اوهدف دی اودیانت دعقیدی وجدان اودعمل دصفایی نوم دی.

کابل: ۱۳۴۳

زموږ په وطن کښې :

# تر ټولو لوی سوال

## د کـلچر سوال دی

ټول حکومتونه او دولتونه د خپلو ملتونو په بنیاد ونو استوار او ټینګ ګړوی «ملت» د طبقاتو ؛ قبیلو او قومونو مجموعه وی یعنی یو طبیعی دولت یا یو طبیعی سیاسی اورګان په نن عصر او زمان کښی د «ملت» څخه جوړیږی .

او «ملت» د قبیلو عشایرو او قومونو څخه تشکیل مومی . هر قسم قبیلی او هر قسم عشیری او هر قسم قومونه «ملت» نشی تشکیلولای ، هغه قبایل عشایر اوقومونه یو ملت تشکیلولای شی چه دهغو په منځکښی یو طبیعی ارتباط ، فطری نښت او خدایی ټلون موجود وی .

نو ـ دا طبیعی ارتباط فطری نښت او خدایی ټلون څه شی دی چه ډیری قبیلی عشیری او قومونه سره یو ځای کوی او «ملت» تری جوړوی .

دعلومو او تحقیقاتو په رڼا کښې چه دغه مسئله تر کومه ځایه سپینه شوی او رڼه شوی ده . خلاصه یی دادهچه دا «کلچر او ثقافت» دی چه مختلفی طبقی ډلی جمعیتونه او ټول لښی سره یو ځای کوی او یو «ملت» تری جوړوی چه ملت بیا هغه آخرین جمعیت او قوت دی چه ددولت یا حکومت د تشکیل صلاحیت لری .

داخبره معلومه ده چه کـلچر یا ثقافت کوم مصنوعی او ساختـګی شی نه دی .

د یو ملت کـلچر یا ثقافت د تاریخ پیړی ، او عمرونه غواړی

چه څو ټول د آب وهوا، محیط، جغرافیائی ماحول، اجتماعی
عادات، دودونه دستورونه، علوم، فنون، ادیان او عنعنات
خارجی او داخلی فعل او انفعال، انقلابات او تحولات
نسلونه او نژادونه یو ګډ روح مشترك خصلت او اجتماعی
سجیه جوړه کړی نو دغه بیا «ملی کلچر» حسابیږی.

مونږ په تیرو عباراتو او جملو کښی «طبیعی» کلمه
ځکه څو ځایه ذکر کړیده چه دولتونه او حکومتونه په دوه
ډوله دی یو دزور او چال حکومتونه دی چه استعمار جوړ
کړی حکومتونه هم په دغه جمله کښی راځی. بل د تاریخ
دجریان او طبیعت په تقاضا جوړ شوی حکومتونه دی.

دزور، چال او استعمار حکومتونه څه حسابی لاره
نه لری.

ځکه چه دزورورو او به پیچو می خیږی مګر تاریخی،
حسابی او طبیعی حکومتونه هغه دی چه د «کلچر» په تقاضا
ګانو د «ملت» په بنسټ ولاړوی.

اول قسم حکومتونه دزورشی وی او په زور ټینګك وی
چه قوت لږ کمزوری شی متلاشی کیږی.

دملت د کلچر په اساس جوړ شوی حکومتونه او دولتونه
داسی مثال لری لکه دځمکی دسر لوی لوی غرونه په دغو
باندی د اورو بارانونو طوفانونو او زلزلو زور نه رسیږی
او ډیر محکم وی.

دیو ملت د تاریخی ارتباط او طبیعی انسلاك لوی عامل
خو لکه مخکښی موچه وویل مشترك کلچر دی او د کلچر
غټ اجزاء او مشخصات ژبه، ادبیات، شعر، موسیقی، اخلاق،
دیانت، رواجونه، ګډا، لباس او دعمارت طرز او اسلوب،

او حتی د جنګ، جرګې، اداري او د حکومت اسلوب هم
چه هر ملت یې تقریبا په علیحده او مخصوص صورت لري
د یو ملت د کلچر له جملې حسابیږي.

دنن عصر ملتونه د ملي کلچر په انکشاف او حفظ ځکه
زور اچوي چه په دغه شان د ملت ارتباطات ټینګیږي او د مخربو
او بیګانه عناصرو زورور باندي بیانه رسیږي او د دولت خپل
تشخص او موجودیت تر ډیره ساتلی شي او په دغه دان ملتونه
خپل حریت او آزادي ساتي.

شعر، موسیقي، ګڼډا، تیاتر، سینما او داسي نور
بوازي همدومره نه ده چه د تفریح او خوشحالي څیزونه دي.
دغه څیزونه د ملي او قومي کلچر غټ عناصر دي.

په کلچر ملت ولاړوي او په ملي او دولتي پایه ولاړ او
سازشوي حکومتونه محکم او مضبوط وي چه د یو قوم او
ملت حریت آزادي، او اقتصادي او حیاتي شئون تکمیلولای
او ساتلی شي. ضعیف حکومت نشي کولای چه ملي او قومي
حوائج پوره او تکمیل کړي شي. ژوند څه بې بنیاده څیز نه
دی. اجتماعي ژوند پاخه تهداؤنه لري.

که تهداؤنه پاخه او ټینګ نکړی شي،
هیڅ ممکنه نه ده چه په سرسري اجتماع اقتصادي، علمي،
او تخنیکي مرامونه ترسره کړی شي.

علم، فن او هنر هغه وخت هدف او غایې ته متوجه کیدی
شي چه د خپله ملت د مفکرینو په لاس کښې وي. اجتماعي
او سیاسي ژوند هغه وخت د فکر او تدبیر په لاره سمبږي چه
په یوه وطن کښې د غسې ډلې موجودې وي. ځکه چه یواځې
اداري خلك ایله همدومره کولای شي چه ورځنۍ چاري

سرته ورسوی دملت پاخه بنیادونه پیدا کول او دولت ورباندی دروړل دډلو او لیږر شپ کاردی.

نن زمونږ دوطن فن او هنر ته یو آفت متوجه دی. دلته ډیر کوښښ کیږی چه وطنی هنرونه مسخ کړی او په پردی رنګ کښې یې رنګین و ښئی، دغه میان ژبی، ادب شعر موسیقی رقص او ټول وطنی کلچر ته له ډیر پخوا څخه مخامخ دی.

څه لږه موده مخکښې دشوروی اتحاد یوی عالی او مشهوری هنرمندی میرمن «عظیمو شرفوا» هم پخپله یوه بیانیه کښې دافغانستان ملی اتڼ او ملی رقص ددنیا د فن بهترینه نمونه ښودلی وه او دا تأسف یې کړی ؤ چه دغه دافغانی ملی کلچر خالصه او عالی نمونه چه په تاریخی ډول پاتی شویده ما په ډیرو نمایشونو کښې ولیده چه ګډوله کیږی او د نورو خارجی تاثیراتو لاندی راولستل کیږی. یوازې (میرمن عظیمو شرفوا) زمونږ دملی هنر ستاینه نه ده کړی، ؛ ددنیا ډیرو علماؤ او هنرمندانو هم دغه مضمون تائید کړی دی او زمونږ افغانی شعر موسیقی او رقص یې په دنیا کښې دلچسپ شی ښودلی دی ډیر افسوس دی چه زمونږ دوطن ځینی خلک که نور په هر څه پوهیږی وی نه مګر دخپل وطن او خپل کلچر دقدر او قیمت نه بیخبره دی. په دی آخرو څو کلونو کښې دشوروی اتحاد، هند، مصر، چین، بلغاریې او نورو دولتونو ډیر هیئتونه کابل ته راغلل زمونږ خلکو ولیدل چه ټولو دخپلو وطنونو قدیم او تاریخی هنرونه تمثیلول او ښودل یې مګر دلته زمونږ ځینی خلک خو نداخلی چه دوطن دهنر ښکلی تاریخی سوچه آثار کوټه او ګډوله کړی ما ته دا لویه خساره او تاوان ښکاری. «هیواد» ۱۳۴۳